شاهين بونېرے

دېوال سره خبرې

تابيا | همايون مسعود، مينګوره، سوات
پروف | عطاء الرحمان عطاء، احسان يوسفزے
کمپوزنګ | شاهين بونېرے
ټکچانه | رفعت ختک
چاپ کال | اکتوبر، 2016ء
بيعه | 300 کلداره

عامر پرنټ اينډ پبلشرز، پېښور
aamirprint2010@gmail.com
0300-9019499

د موندلو درک
يونيورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار پېښور

د رابطې لپاره
سينټر فار فيس اينډ کلچرل سټډيز، پېښور

ستاپۂنامہ!

دیوانِ سرنیمبری
شاہین بونیرے
urdukutabkhanapk.blogspot
اردو کتب خانہ
URDUKUTABKHANAPK.BLOGSPOT

په "دېوال سره خبرې" يو سرسري نظر

هره ګړۍ، هريو دم، مونږ په خپل ذات کښې دننه راخوټکيدونکې تحريک قتل کوو. د زړه او روح دننه د وجدان او احساساتو په جوش وهلې لاوې سره واوره اچوو او کنګل کوو ئې ـــ ځکه نو چې کله هم مونږ د چا د داسې ليک سره مخامخ شو چې په هغې کښې مونږ د خپل زړه په تل کښې د ورک شوي شور انګې تر غوږو کړو نو زړه مو نرمے نرمے، خوږ خوږ درشورو کړي چې دا خو چورلټ زما په ژبه ګويا دے. دا خو زما سرينده ده چې دے ئې راته غږوي، زما خپله نا وئيلې قيصه ده چې دے ئې راته په خوند او رنګ بيانوي ـــ هاغه قيصه، چې د خپلې بې يقينۍ په وجه ورته ما د ټکو تورو زرينه لباده نۀ وه اغستولې او رانه د لاشعور په بې کرانه وسعتونو کښې ورکه شوې وه. دړيغه کۀ د خپلې بې يقينۍ په مرمرينه مرۍ ما چاړه نۀ وے راښکلې نو دغه تعلي، دغه امتياز زما برخه ګرځيدلې شوه.

د شاهين بونېرې د مسودې "دېوال سره خبرې" په لوستلو زۀ هم د دغه احساساتو او کېفيت سره دوچاروم او يقيناً هم داسې به وه چې انسان په خپل سرشت کښې د يوې سرچينې او د يوې منبع نه مظهر شوے دے. دے کۀ د کائنات د ټولو نه په لرې ستورې استوګنه ولې نۀ کوي خو په خپلو داخلې او خارجي احساساتو او جذباتو کښې به هميشه يک رنګي لري ـــ د ټولو اواز د يو محراب نه راووځي. "دېوال سره خبرې" هم د هاغه محسوساتو او جذباتو د بحرِ بېکران قيصه ده چې په مونږ کښې دننه اودۀ شاعرانو، اديبانو او نورو ليکوالانو د خپلې بې يقينۍ په سبب لا د قلم څوکې ته نۀ ده سپارلې.

شاهين بونېرے د خپل کتاب "دپوال سره خبرې" په ابتدائي سطورو کښې د خپل کلي او بيا د خپل ځان په حقله ليکي چې:

«د کلي نه يو وړوکے سړک راتېرشوے دے چې دواړه اړخ ته ئې د خودرو پلواړو او نورو ځنګلي ګلونو بوټي دي. کله چې به د امنور هائي سکول ته د ملګرو سره تلم نو د دغه ګلونو خوشبو به د ژوند د ښائست پېغام را کولو. د سکول د ريسس په وخت کښې به هم اکثر د ملګرو نه يواځې د غرۀ په لمن کښې ناست وم. خبر نۀ يم خو د غرۀ لمن به راته د قرار احساس را کولو. يواځې والے زما په روح کښې ؤ.»

د شاهين بونېري سفر هم د فطرت د دغه ارتې او فراخې غېږې نه او د ګلونو له مينځه شورو کېږي او د تنهاپسندۍ افسون ور پکښې د استغراق جوهر پېدا کوي. هغه دشلبانړۍ د هسکو غرونو د شپونکي د شپېلۍ موسيقي او د ګلونو رنګ او خوشبو په خپل ذات کښې، په خپل روح او زړۀ کښې تحليل کوي او خپل اندرون پرې ښائسته کوي. بيا د تنها پسندۍ په موجب په هغۀ کښې د استغراق ماده غزونې کوي او په غرېدلو سترګو وينې او قائل کېږي چې د فطرت د سَخا نه په ډکه فلسفه کښې د نخښترو دنګو څوګرو ته په سپلۍ برتري او فوقيت نشته. د ګلونو خوشبو چې د سحر باد اوچې ګياه ته يوسي نو د خپل شرف اظهار پرې نۀ کوي. د سباوون د نمر پلوشې په غريب او بادار يو شان پرېوځي او د هېڅ قسمه امتياز پکښې نۀ کوي. هم دغه وجه ده چې د شاهين بونېري واړه ليکونه، خواکۀ نثر دے او کۀ شعر، هم د دغه پاکو او سپېځلو جذبو ترجماني کوي.

ځکه نو هغه د مينې، د ښائست، د دنګو چينارونو او د هغې په غېږ کښې د سرو او رنو اوبو د روانو چينو، د ګلونو، د خوشبو او د انسان د عظمت نغمه زن ښکاري او

په کُلي توګه په انسان د انسان د لاسه په ظلم او زیاتي کولو نالانه دے.

د دوي نثري ليکونه د خپل اولس او په دې اولس د تېرو څلوېښتو کالو راهسې د روان زور او زياتي، د دوي د حقونو پائمالي، د دوي په خپلو وسيلو د بل د اختيار مقدمه د يو پوهه او زيرک مبارز په طور په خوش اسلوبۍ سره نمايان کوي او د خپل وګړي د شعور د بېدارۍ هڅې کوي. پښتون شاندار تاريخ لري او د نن دور ګنګس شوي پښتون ته د خپلو منورو اتلانو د يادګېرنې حق ادا کوي.

شاهين بونېرے د ژورې مشاهدې څښتن دے. هر څومره که مادي طور دے د خپل جنت برين، د سردرو د وطن نه ډېر لرې د غېرو په ديار کښې ژوند کوي خو په روحاني او عملي توګه د هغه ټول خيال او سوچ د خپل اولس او قام د سوکالۍ او پرمختګ د لا رو بر څېره کولو د يومحور نه تاوېږي . د "چيک ريپبلک" په مثال کښې هغوي پښتون په دې خبره پوهول غواړي چې ژبه د قام شناخت دے او يو قام تر هاغه د کاميابۍ او کامرانۍ سره نه شي همکنار کېدلے تر څو پورې چې ئې خپله مورنۍ ژبه نه وي ژوندۍ کړې. دے که په شمېر کښې د مليونو په تعداد کښې ولې نه وي خو تر هاغه به دے د بل تابع وي او د ده وسائل به نورو خلقو ولجه کړې وي. شاهين شاي دے چې پښتون د وخت په سېلاب کښې غېر شعوري طور دومره اوبهيولے شو چې هاغه قام چې په ټوله نړۍ کښې ئې د خپل وسعت او مېلمه دوستۍ د پاره لوے نوم لرلو، اوس د ده بچي د ده وطن ته راغلي سېلګري په تيږو وولي. کرائسس قامي مشران وزېږوي خو د پښتون وګړي د بد بختۍ به څه تپوس کوې، نيم پښتانه د خپل سود او زيان نه ناخبر د غېرو کېمپونو پسې روان دي منډې وهي او باقي نيم چې څه لږ ډېر ادراک لري او په خپلې بدې بر خې غمژن د قامي

مشرانو د زلفو ئې ځانونه اسیر کړي دي، هغوي ته ئې ځان سپارلے دے. دغه موروثي مشران هم د حالاتو په غولې کښې ګېر د خپل قام د پاره د خالي او بې معنو نعرونه علاوه نوره څهٔ واضحه لائحه عمل نهٔ لري.

شاهین بونېرے پهٔ ژبه کامل قدرت او دسترس لري. نثر ئې خوږ روان دے او د یوسفزی والا او افغانستان پهٔ امتزاج رنګ اسلوب ئې لکه د بوډۍ د تال زړهٔ راښکونکي رنګونه لري چې ډېر زر لوستونکے پهٔ خپل حصار کښې واخلي. پهٔ لنډو ټکو کښې دومره به و وایم چې "دپوال سره خبرې" د شاهین بونېري د سفر هغه داستان دے، هاغه خودنوشت دے چې د باران لهٔ کاروان ځنې د یو بې درکه شوي څاڅکي نه شورو کېږي. پهٔ دغه سفر کښې د صدف پهٔ لړمون کښې خپل ځان ځائے کوي او انجام کار ترې نه یوه ناویاته ملغلره جوړېږي

زما دعا ده چې الله پاک د دوي کاوش لهٔ قبولیت عام ورکړي.

پهٔ ډېره مینه او درنښت

همایون مسعود

مینګوره، سوات

د شاهين د دېوال سره خبرې: ملغلرې

د شاهين بونېرې ليكونه داسې دي لكه زرغونه. د زرغونې خبرې په تول پوره او د پوهې ډكې وي. هغه د كلي اولس، غم ښادۍ او رسم رواج په چل پوهېدله. زرغونه په ډول سينګار مئينه وه او په سر ځنه كښې د كلي د نورو ټولو پېغلو څخه مېړنۍ وه. د زرغونې په يو كار كښې به چګس نه وه. د هغې د نغري څخه د وتلي پخلي او د هغې د غوړولي پوزي په انداز به تل په كنه ګوره كښې خبرې كېدلې. د كلي د هرې مور به دا ارمان وه چې زرغونه خپل ځوي له وغواړي. زما به تل تلوسه وه چې پرې رويه او سليقه منده زرغونه به نن ما زيګر ګودر ته ځي او كه نه. ما چې د كله راهسې د شاهين ليكونه لوستل شورو كړي دي نو زه د هغه د بل ليك په تلوسه كښې اوسم — زه پرې مئين شوے يم.

ما ته د هغه په هر ليک كښې زرغونه ښكاري. زما په نظر كښې شاهين د دې عصر د پښتو ادب په كلبن كښې د جديدو تقاضو څخه خبر يو ويښ دانشور دے. د هغه هر ليک لكه د زرغونې سينګار شوے وي. داسې ښكاري لكه د شاهين خبرې چې رقص كوي، رباب غږوي او لكه د زرغونې ټې هر وخت په لاسو نكريزې، په شونډو دنداسه او په غنو كښې ولونه اړولي وي.

شاهين لنډه خو پوره او كره خبره كوي. هغه د عالميت په چوكاټ كښې د خپل علاقائيت ښېرنه كوي او هغه په خپل هر ليک كښې تل د مزي بل سر ته د رڼا پلو ته يون كوي. دا توكي د نن په بې كچه (تېزه) زمانه كښې يو لوستونكے ځان ته

راحصاروي شي.

د شاهين دې کتاب "دېوال سره خبرې" ځينې ليکونو زه ډېر رااړزولے يم او ما ورته بې اختياره اوښکې بهيولې دي. د مثال په توګه (جاپانے سپلګرے، تخت بهائي او په هغه د کانو باران) او (د پراک قلعه، شنې سترګې او مورنۍ ژبه).

د شاهين د ليک کمال دا دے چې د دغه جذباتي لړزان سره سره هغه د لوستونکي په ذهن کښې ډېر په چل چل کښې څه سوالونه پيدا کوي. د انسان، مينې، وطن، ژبې او قام په حقله د يو لوستونکي په ذهن کښې سوال پيدا کيږي چې وطن کښې امن ولې نشته؟ د وطن خلق لکه د نورو قامونو د هنر، پوهې او زدکړو مرکزونه ولې نه لري او يا دوي ته لکه د نورې نړۍ په رنګه د وطن د وسيلو نه د ګټې کولو سمې لارې ولې نه دي معلومې؟ دغه پوښتنې راپورته کول يا ورته د خپلې خاورې د بچي پام راګرزول تر ټولو لوے کمال دے — يو انقلابي کمال.

زما په فکر يو ليکونکے تر هغې سم او قوي ليک نه شي کولے، تر څو چې هغه په خپله ژبه، خپل قام، خپله خاوره، خپل کلتوراو تاريخ پوره پوهه نه وي. شاهين نه يواځې دا چې د خپل وطن په خلقو او خاوره مئين دے او په خبرو ئې پوهه دے بلکې د هغه په زړه کښې د دغه وطن د اوسنيو ناکرديو څخه د وتلو د ارمان ډيوه هم بله ده.

شاهين د جديد عصر پښتون دانشور دے. هغه نه خو د مبالغو څخه په ډکو تاريخي داستانونو خپل لوستونکے تېر باسي او نه ئې د خپلې ذهني (ناروغتيا) د لاسه د سرابونو په کاروبار اخته کوي. د سرابونو کار او د ذهني ناروغتيا مطلب دا دے چې ما اکثره لوستلي دي چې ځان ته د پوهانو ويونکو د ليکونو د مبالغو حد دا وي چې اکثره ليکونه ئې فېنټسيز يا ذهني اختراع وي. د خپل لاس په

ګوته په هوا روان جهازونه راپرېباسي خو په حقيقت کښې د خپلې قولبې د جغ په جوغندېي کښې پټرے نهٔ شي بدلولے. په خبرو تل خپل قام یا خوړرولو یا وراني ته راپارولو ته کهٔ څوک دړبې او قام خدمت وائي نو په اوسني دور کښې به ئې ورسره څوک هم ونهٔ مني. زما په نظر کښې د قام دغه شان لیکونکو قام او وطن په لاشعوري توګه زیاني کړي دي.

شاهین چې د خپل وطن سره مینه کوي نو هسې نغارې ورته نهٔ وهي ـــ د وطن په سینه کښې د پټو خزانو درک ورته په منګل کښې پردي. هغه چې سوات ته د سوئټزرلېنډ څخه زیاته ښائسته سیمه وائي نو پوهه دے چې د سوات د خاورې د پېریو راهسې تاریخي ارزښت د چم ګاونډ د وطنونو نه واخله تر د یونان د زور تهذیبي ژوند پورې رسي. فطرت، حسن، پوهه او زغم دا د سوات تاریخ وهٔ او د شاهین دا خبره بیخي سمه ده ـــ سوات د سوئټزرلېنډ نه زیات ښکلے دے خو هغه دا خبره تش د حسن په داستان یا د دې د اوسني تاراج شوي شکل په مرثیه نهٔ تماموي ـــ هغه خپل قام ته د مُلائیت په دام کښې د ښکېل کېدلو رنځ او ددې رنځ د درملنې چل ورښائي. شاهین خپل او د لوستونکي وخت په فکري مغالطه او کنګکس شوي تصور نهٔ دے خراب کړے نو ځکه زهٔ وایم چې شاهین په "دېوال سره خبرې" کښې د عصر د نړیوال معیار ادب لیکلے دے.

ما چې د شاهین دا کتاب لوستلو نو ما فکر کوهٔ چې د دې کتاب صنف څهٔ دے؟ ځکه چې ما ته په ډېرو لیکونو کښې د سفرنامې منظر کشي، د تاریخ پس منظر او اثرات، د رپورتاژ طرزِ بیان، د فکري تحریر سیاسي بیانیه، د کالم تازه والے او اسانتیا، د افسانې تجسس او د فلسفې ژورتیا او په ځینو لیکونو کښې د شعریت جمالي حسن محسوسېدلو. حقیقت دا دے چې په پښتو کښې د ادب او د هغې د صنف د تعین کار د نړیوال ادب څخه مستعار اخستل شوے دے

ـــ يوازې په شعر کښې د صنف تعين سوچه دے. د شاهين په دې ليکونو کښې د نثرې او نظمي ادب دې کوشېر شوي شکل يا امتزاج ته زۀ د "ملغلرو" نامه ورکوم.

ملغلرې بايد اوس په پښتو ادب کښې د يو نوي صنف په توګه و منل شي. زمونږ د قام او وطن د کرمو، بې وزلېو، بې وسيو خبره بايد اوس په سوچه پښتون رومانوي انداز، رنه ساده او صفا ژبه کښې وشي او د دې په علت ګوته کېښودل شي او هم په دغه انداز کښې د وطن د وسائلو، په دې کښې د سم وېش او په دې د هنر په چل ليکونه وشي. لکه د ملغلرو سوچه ليکونه ـــ لکه د زرغونې سينګار شوي ليکونه.

رحمان بونېرے

واشنګټن ډي سي، امريکه

خبرې لنډې لنډې وايه!

مونږ ټول مزل کوو خو ځينې خلق داسې وي چې يا خو منزل ته ورسي او يا د مزل په لارو کښې ورک شي، فنا شي. ځينې داسې هم وي چې چرته د ږوند په صحرا کښې ديوې اونې سيورے وګوري نو هم هلته څادر خور کړي، کښېني او هره ورځ ديو نمر دراختو او پرېوتو ننداره کوي. په يو منظر کښې ورک شي. د يو اميد، ديو ارمان سندره وائي او يا ديو غم او يوې سودا په تيارو کښې د خپل اغاز او انجام فکرونه کوي.

خو څوک ټول عمر مزل کوي، لټون کوي، نوي ستورې ګوري، نوي مخونه ګوري، نوي ګلونه او نوي سحرونه ګوري. د داسې خلقو مزل نۀ ختمېږي ـــ د داسې خلقو لپاره مزل د منزل نه ډېر مهم او ډېر زړۀ راښکونکے وي.

څوک يو څو قدمه واخلي، تر تا درشي

د چا پښې په مزل سترې شي، ناکام شي

زما مزل د پښتونخوا د ښائسته او ګلورينې سيمې بونېر په شلبانډي کلي کښې هاغه وخت پېل شو، کله چې ما په دې دنيا کښې سترګې وغړولې. د خپل کلي د ډېرو هلکانو په شان راته د خپل پېداوښت صحيح نېټه نۀ ده معلومه ـــ ځکه چې په کليوالو سيمو کښې هغه وخت د پېداوښت د نېټې ليکلو رواج ډېر عام نۀ وۀ. زمونږ د کلي د پرائمرۍ سکول هېډماسټر، مشال استاذ راله د فرورۍ اتلسمه نېټه او کال ۱۹۷۸م ليکلے دے او ما قبول کړے دے.

په وړوکوالي کښې راته د خپل کچه کور هغه کوټه ياده ده چې په ژمي کښې د اور

بلولو لهٔ کبله ئې ټول دېوالونه پهٔ لوګو تور شوي وو. د کلي چينې او چينار د کلي د ماشومانو او ځوانانو د لوبو او د تفريح ځائے وهٔ. د دې ځايه به د کلي ښځو پهٔ منګو کښې اوبهٔ وړلې او کله کله به ئې خپل بچي هم پهٔ غېږه کړي وو.

زمونږ پهٔ کلي کښې چې کله د پائپونو پهٔ وسيله اوبهٔ د چينو نه د غر پهٔ سر جوړې شوې ټېنکۍ ته د خېژولو او بيا د نلکو پهٔ وسيله د کلي کورونو ته د رسولو انتظام وکړے شو نو د ګودر ضرورت هم پاتې نهٔ شو. هغه چا چې به سحر او ماښام د ټېنکۍ نه اوبهٔ راپرېښودې، غفور باچا نوم ئې دے او زما ډېر قدرمن مشر دے. د ګودر ضرورت خو ختم شوے وهٔ خو ولې د ګودر رومانس اوس هم د کلي د جينکو پهٔ زړونو کښې ژوندے وهٔ. د اختر او شوقدر پهٔ موقعو به جينکو د کوټو پهٔ سرونو د خانګ د اواز سره دا سندره هم وئيله چې:

"زهٔ کشمالې اوبهٔ کوُمه

د ميا کلي غفوره!

اوبهٔ راپرېږده!"

د کلي نه يو وړوکے سړک راتېر شوے دے چې دواړه اړخ ته ئې د خودرو پلوانړو او نورو ځنګلي ګلونو بوټي دي. کله چې به د امنور هائي سکول ته د ملګرو سره تلم نو د دغه ګلونو خوشبو به د ژوند د ښائست پېغام را کولو. د سکول د ريسس پهٔ وخت کښې به هم اکثر د ملګرو نه يواځې د غرهٔ پهٔ لمن کښې ناست وم. خبر نهٔ يم چې ولې، خو د غرهٔ لمن به راته د قرار احساس را کولو. يواځې والے زما پهٔ روح کښې وهٔ.

ژوند د چينې او چينار نه ګېر چاپېره ګرځېدو ــــ د غرونو پهٔ لمنو کښې ئې د درد او د احساس د شپېلۍ شخه وتلې وږومې سندرې اورېدې او د کلي پهٔ پوُلو پټو او ورشوګانو کښې د غانټول پهٔ ګلونو کښې د يوې خيالي ليلا پهٔ لټون کښې

ورک لېونے کړځېدو.

زمونږ د کلي کېږ چاپېره غرونه او د پُولو پټو لړۍ دي. چې لږ را لوے شوم نو د غرونو په لمن کښې د کرکنو او کرورو شوکول مو يوه مشغله وګرځېده. غرمه به مو د اينځر او توتانو په اونو کښې تېرېده. غريبي وه، کرېوانونه به مو شلېدلي وو او په پښو به مو پېزار هم نه وۀ خو اوس چې فکر کوم نو دغه راته د خپل ژوند تر ټولو خوشحاله موده ښکاره شي.

انسان هسې هم د خپل مزاج په حواله نوستېلجيک دے. په تېرو وختونو پسې ډېر خفه کېږي خو نه، دغه په ريښتيا ډېر خوشحاله ژوند وۀ، ځکه چې فطرت ته نزدې وۀ، ښائست او معصوميت ته نزدې وۀ.

د بونېر د تورو غرونو په لمنو کښې پېل شوے دغه مزل تر پښتنو د لوے تاريخي، کلتوري او اقتصادي مرکز پېښور راوغزېد. د اسلاميه کالج په پُر کېفه فضا کښې د ژوند او ښائست د نوو معانو سره بلد شو ـــ د چترال تر اټکه د پښتنو په غرونو، سيندونو، کلو، بانډو او ښارونو راتېر شو ـــ او بيا وخت او تقدير تر مينځني ختيځ،اروپا او امريکې د ځان سره د يو نه هېرېدونکي ملګري په شان بوتلو.

ما چې څۀ ليکلي دي، د دغه مزل هاغه يادداشتونه او قيصې دي چې زمانه د ژوند په پُرشوره قيامتونو کښې هم نه دي هېرې شوې. دا يادونه وخت په وخت زما د ذهن په پرده لکه د فلم د منظرونو او کردارونو په بيا بيا راڅرګندېږي ـــ کله مې په سترګو کښې وځلېږي او کله مې په زړۀ کښې لکه د څريکو د خپل وجود احساس خپور کړي.

دا زما د روح ټوټې دي ـــ زما د وجدان سپرغۍ دي ـــ زما د فکر سيورې دي ـــ څۀ تت دي، څۀ روښانه دي ـــ څۀ غمګين دي، څۀ رنګين دي.

دا قيصې د ژوند په مزل کښې د ېېلا بېلو پړاوونو قيصې دي.

مخکښې د دې نه چې دا هر څه رانه د وخت په چپاوونو کښې لاهو شي، تاسو ته ئې کول غواړم ـــ ستاسو سره ئې شريکول غواړم.

په پائې کښې د خپل قدرمن مشر همايون مسعود د زړۀ له تله مننه کوم چې دا توله مسوده ئې ولوسته، سمه ئې کړه او کام په کام ئې زما ډاډګيرنه وکړه. د قدرمن رفعت ختک صاحب ډېره مننه چې د دې کتاب ټائټل ئې جوړ کړو او زما لېونتوبونه ئې د خپل هنر او فکر په رنګونو ښائسته کړل. د پښتو د نوموړي شاعر ممتاز اورکزي او خوږو ملګرو رحمان بونېري او حيات روغاني د ډاډګيرنې ممنون يم چې وخت ئې وويستو او زما په دې ګډو وډو ئې د خپل فکر څرګندونه وکړه او د دې کتاب سرخنه ئې وکړه. د دې ښاغلو د مرستې نه بغېر زما لپاره دا ممکنه نۀ وه چې دا ليکونه مې ستاسو مخې ته راوړي وے ـــ کور مو ودان!

شاهين بونېرے

پراګ ـــ د چيک جمهوريت

۱۸ مئ ۲۰۱۶ م

د سر درو وطن

ملاکنډ یواځې د پښتونخوا د یوې سیمې نوم نهٔ دے، دا د تاریخ د عظمتونو، د ګلونو او فطرت د رنګونو کور دے. څنګه چې ئې لوړ لوړ غرونه د ښائست د اسمان سپینو واورو ته هرکلے وائي، چینې او چینارونه ئې د سپوږمۍ د پلوشو سره راز او نیاز کوي او د غرونو په لمنو کښې ئې کال و سر د ګلونو خوشبویانې خورې وي ـــ دغه شان د دې ځائے د خلقو په زړونو کښې د امن سندرې غزونې کوي او په سترګو کښې ئې د سپرلو د راتګ خوبونه د خپل تعبیر په لټون کښې دي.

د حکومت په کتابونو کښې سوات، بونېر، دیر، شانګله، ملاکنډ او چترال چې راټول شي نو د ملاکنډ ډویژن په نوم یادېږي خو د فطرت د مئینانو لپاره دا د ښائست او مینې د جنت بېلا بېلې برخې دي. هم د دې جنت د سیندونو او چینو په غاړه کښې د پښتنو یو شمېر اولسي او رومانوي داستانونو ژوند موندلے دے. هم د دې جنت په غرونو او ورشوګانو کښې د دې ځائے د مشرانو د ننګ او پښتونولۍ قیصې خورې ورې دي. دلته د کال په هره برخه کښې سپرلي زرغونېږي او سپرلي راټوکېږي. د ملاکنډ، ایلم، امبېلې، مابڼ، تاجګاه او هندوکش د غرونو په لمنو کښې د قیمتي کانو او قدرتي وسیلو خزانې پټې دي او په هر کاڼي کښې ئې د ژوند ترانې نغمه زنې دي.

دا د کال دوه زره شپږم (۲۰۰٦) خبره ده. زهٔ د خیبر ټیلي ویژن لهٔ خوا د سوات سنټر د سټیشن منیجر په حیث د سوات مینګورې په کانجو ټاون شپ کښې ډېره شوم. غوښتل مې چې د دې سیمې د تاریخ، کلتور، ټولنیز ژوند، اقتصادي او فطري ښائستونو په اړه "د سردرو وطن" په نوم د پروګرامونو لړۍ پېل کړم.

سوات د بدهٔ مت په کتابونو کښې د "سواستو"، "شري واستو" او "اُدهیانه" په نومونو یاد شوے دے خو دلته زهٔ د تاریخ د پاڼو د کتلو په ځائے د نن خبره کول غواړم. د نن سندرې او ساندې زوتول غواړم.

سوات ته د تګ نه وړاندې د "کلي په کلي" د پروګرامونو ریکارډ کولو لپاره د پښتونخوا بېلو بېلو سیمو ته تلے وم او دغلته مې د پښتنو د ټولنیز او کلتوري ژوند بدلېدونکې رنګونه د نزدې نه کتلي وو. په پښتونخوا وطن کښې ستونزه د وسیلو د نیشتوالي نهٔ، د وسیلو د ټیک انتظام د نیشتوالي ده او د هغې وجه دا ده چې زمونږ په اولس کښې د اجتماعي شعور او اولسي پرمختیا لپاره په شریکه د کار کولو روایت لا ډېر پیاوړے شوے نهٔ دے.

د ۱۹۹۸م د سرشمېرنې تر مخه په سوات کښې خواوشا دیارلس لکهه خلق ژوند کوي. په دوي کښې ډېر یوسفزي دي چې په شپاړسمه صدۍ عیسوي کښې لهٔ افغانستانه راغلي او اباد شوي دي. د کالام او کوهستان په درو کښې بیا د دارډیک قبیلو خلق ژوند کوي چې توروالي او کالامي ژبې وائي.

کله چې د برطانیې ملکه الزبتهٔ دویمه، د سوات د ریاست په دور کښې د والي سوات په بلنه سوات ته په دوره راغله او د دې ځائے قدرتي ښکلا او ښائست ئې ولیدو نو سوات ورته د ایشیا سوئټزرلېنډ ښکاره شو.

خو ما سوئټزرلېنډ هم لیدلے او سوات هم. دا ټیک ده چې سوئټزرلېنډ هم د رنګونو او خوشبویانو خاوره ده ــــ د غرونو نه ئې د رڼو اوبو نهرونه رابهېږي ــــ

په تالابونو کښې ئې رنګ په رنګ کشتۍ ګرځي ـــ د غرونو په سرونوئې د ګرمۍ په موسم کښې یخې هواګانې زړهٔ او ذهن ته سکون بخښي او په کلیوالو سیمو کښې ئې سویس پیغلې په خپلو رنګارنګ لباسونو کښې داسې لیدلې کېږي لکه د ګلونو په چمن کښې رنګ په رنګ لولکۍ ـــ

خو بیا هم سوئټزرلېنډ د سوات هومره لوېنے قدرتي حسن نهٔ لري. په سوات کښې خو په هره دره کښې د رڼو او یخو اوبو سیندونه بهیږي، په هر کمر باندې ئې رنګارنګ ګلونه او مېوې رازرغونېږي، د سوات غرونه دنګ دي او بیا په دغه غرونود نخښتړو اوڼې د اسمان د رفعتونو سره خبرې کوي. بله دا چې د سوات تاریخي ارزښت، دلته د بدهـ مت تاریخي اثار او د دې ځائے د اولس لرغوني کلتوري قدرونه سوات د سوئټزرلېنډ نه په ډېرو حوالو ډېر پیاوړے ثابتوي. زهٔ سوات ته د ایشیا سوئټزرلېنډ نهٔ، سوئټزرلېنډ ته د اروپا سوات وایم.

سوات کښې د منو، شلتالانو، خوبانو، الوچو، سرو املوکو او ناشپاتو بلها ډېر قسمونه دي. چې څومره ترې په مقامي منډاهی کښې خرڅ شي هغه خرڅ شي او نور په باغونو او لارو کوڅو کښې پاتې شي، خراب شي او د خاورو سره خاورې شي. تر اوسه د دې مېوو نه د فائدې اخستو، لکه جوس ویستلو، جام او مارملېډ جوړولو او د دې د اوچولو او په مارکیټ کښې د خرڅولو بندوبست نشته.

دغه شان دلته د شنو زمرودو او نورو یو شمېر قیمتي کانو زېرمې دي. د والي سوات میاګل عبدالحق جهانزېب په وخت کښې د دې ټیک انتظام کېدو. ریاست ئې ځار کولو او د دې ځائے نه په ترلاسه شوي ټېکس باندې د ریاست اداري چلېدلې. په کال ۱۹۶۹م کښې چې کله ریاست په پاکستان کښې شامل شو نو د نورو ګڼ شمېر انتظامي ستونزو سره سره د سوات د قدرتي وسیلو نه د کار او فائدې اخستو عمل هم د کرپشن، نالائقۍ او بې غورۍ ښکار شو. په کال ۲۰۰۸م

کښې د زمرودو زېرمې د وسله والو طالبانو په لاسو ورغلې او نن سبا حکومت یو شمېر ټېکه دارانو ته حواله کړې دي. د حېرانتیا خبره دا ده چې دا ټېکه داران وائي چې د زمرودو نه ورته د کټې په ځائے تاوان ډېر کېږي.

په سوات کښې د کارپوهانو سره د خبرو په وخت راته معلومه شوه چې د سوات د سیند نه د بجلۍ جوړولو داسې پروژې پیل کېدې شي چې خرڅ پرې هم ډېر لږ راځي او بجلي به هم ډېره پیدا کوي.

په داسې غنې خاوره غریبي، بې وسي او د ناپوهۍ تورې تیارې څهٔ معنا لري؟

زما قلم او د هغهٔ ټوره

۲ مارچ ۲۰۰۷م:

د ژمي یخې هواګانې په شا کېدو وې. د پښتونخوا په مېداني سیمو کښې ورځې په ګرمېدو وې. زهٔ د مومندو او چارسدې په برید د هشنغر په یوه سیمه کښې د یو ملګري سره مېلمه وم. بهر ناست وو او د چایو نه مو خوند اخستهٔ. دا داسې ورځې وې چې په سوات کښې د امام ډېرۍ مُلا فضل الله د خپل ایف ایم رېډیو په وسیله د خپلې خوښې د اسلام تبلیغ کوهٔ.

جینکۍ دې سکول ته نهٔ ځي!

د پولیو څاڅکي حرام دي!

ښځې دې د کورونو څخه بهر نهٔ راوځي!

ځوانان دې د اسلامي نظام د قائمولو لپاره جهاد ته ځان تیار کړي!

دا داسې خبرې وې چې د هغهٔ د رېډیو لهٔ لارې هر سحر او ماښام د شلوېښت مربع کلومیټر په دائره کښې خپرېدې. ښځې خو هسې هم تر کورونو محدودې وې نو د مُلا صاحب د تقریرونو اورېدو نه بغېر ئې بل کار هم نهٔ وهٔ.

ما د خپل ملګري سره د پښتنو په سیمه او خاص کر سوات غونډې سېلاني سیمه کښې د مذهب په نوم د تشدد د خورېدو په موضوع خبرې کولې چې په دې کښې زما ټیلیفون وغږېدهٔ. په سوات کښې زما د همکار، نیاز احمد خان فون وهٔ. د ټېلیفون په شنه بټنه مې ګوته کېښودهٔ او چې په خبره مې ووئیل نو د هغه اړخه راته نیاز ډېر په وار خطایۍ او وېرېدلي اواز کښې ووئیل چې:

"سر! طالبانو زمونږ په کېمره مېن حمله کړې دهٔ. کېمره ئې ترې ماته کړې دهٔ

او هغهٔ ئې د ځان سره تښتولے دے."

زما د پښو نه زمکه وتښتېده. يوه دا چې زهٔ خبر وم چې طالبان پهٔ داسې حالاتو کښې بيا څهٔ کوي او بله دا چې کېمره مېن کم عمره هلک وهٔ، ډېر حساس وهٔ. ما وئيل کهٔ ازاد هم شي نو ټول عمر به د دغه وېرې نه پهٔ وتلو کښې بريا لے نهٔ شي. نياز ته مې ووئيل چې تهٔ چرته ئې؟ نو هغهٔ را ته ووئيل چې پهٔ هغهٔ ئې هم بريد کړے وهٔ خو هغه پهٔ تښتېدو کښې بريا لے شوے دے.

قيصه څهٔ داسې رنګ وه چې مُلا فضل الله پهٔ اسلام اباد کښې پهٔ لال مسجد او جامعه حفصه د پوځ د عملياتو پهٔ ضد احتجاج کول غوښتل او د کبل پهٔ ګراونډ کښې ئې خلقو ته وېنا کول غوښتل. پهٔ لاره کښې پوليسو ايسار کړو خو معلومه نهٔ ده چې د کوم ځائے نه احکامات راغلل او مُلا صاحب د پوليسو د حصار نه پهٔ وتلو کښې کامياب شو او يا ورته لار ورکړې شوه.

نيغ کانجو ته پهٔ خپل اس سور ورسېد. پهٔ دې وخت کښې پهٔ زرګونو خلق او د فضل الله طالبان د کانجو چوک ته راټول شوي وو. نياز غوښتل چې د دې مظاهرې پهٔ اړه يو وېډيو راپور جوړ کړي. ما ورته وئيلي وو چې کېمره د ځان سره مهٔ وړه ځکه چې وسله وال طالبان د تصوير ويستلو اجازه نهٔ ورکوي خو هغهٔ بيا هم غوښتل چې تي وي له راپور ځي نو بايد چې وېډيو ورسره لاره شي او د يو صحافي پهٔ حېث د هغهٔ فېصله ټيک هم وه.

ما غوښتل چې کېمره مېن تاج رحمان ته څهٔ زيان ونهٔ رسي نو لهٔ دې کبله مې د تحريک طالبان سوات ويانډ مسلم خان او سراج الدين ته د ټېلېفون پهٔ ذريعه د کال کولو هڅې وکړې خو کامياب نهٔ شوم. طالبانو هلک امام ډېرې مرکز ته رسولے وهٔ، وهلے ئې وهٔ او د نورو وېرولو لپاره ئې ورته درکې ورکولې چې تهٔ د امرېکې ايجنټ ئې نو ژوندے دې د اور لمبو ته اچوو.

بیا مې په مینگوره کښې د ازادۍ اخبار مالک ممتاز احمد صادق او خپل ملگري عثمان اولسیار ته فون وکړو. هغوي هلې ځلې شروع کړې او د ځائې مشرانو په کوششونو ئې تاج رحمان د وسله والو څخه راخوشې کړے وۀ او هسپتال ته ئې د علاج لپاره بوتلے وۀ.

ما د ملگري نه اجازت واخستو او سوات ته روان شوم. دا داسې ورځې وې چې د سوات انتظامیه په شا شوې وه او وسله والو طالبانو خپلو هلو ځلو له دوام ورکړے وۀ. د پولیسو مشر یامین خان غوښتل چې مونږ دې راپور درج کړو خو ځائې مشرانو وئیل چې ښه به دا وي چې د طالبانو د امیر فضل الله سره مخامخ خبره وشي او غوښتنه ترې وشي چې د میډیا د ملگرو حفاظت یقیني کړي او هاغه وسله والو ته سزا ورکړي چا چې په تاج رحمان تشدد کړے وۀ. د زورور سره نور څۀ کېدے شي خو په جرگه به ورځو. زۀ، نیاز احمد خان او ممتاز صادق ملگري شو او د سوات د سیند نه هغه اړخ ته د مُلا فضل الله کور ته د جرگې په نیت لاړو چې خپله گیله ورته وکړو او د کېمرې د تاوان غوښتنه ترې وکړو.

چې مام ډېرۍ مدرسې ته ورسېدو نو د طالبانو ویاند سراج الدین مو هرکلے وکړو. گېرچاپېره وسله وال ځوانان گرځېدل. ځینې ځائې خلق هم وو چې د مدرسې د تعمیر په کار کښې بوخت وو. فضل الله ځائې سړے وۀ نو د سیمې په رسم او رواج پوهېدو. د والي سوات د دور په شان د مدرسې د تعمیر لپاره ئې د یو یو کلي ذمه واري لگولې وه. د اشر اعلان ئې کړے وۀ. هره ورځ به د یو کلي څۀ خلق راتلل او د مدرسې په جوړولو کښې به ئې مرسته کوله. په دغه وخت کښې د سوات په ځینو برخو کښې ښځو خپل د سرو زرو کالي هم د مدرسې د تعمیر لپاره عطیه کړي وو. پښتنې ښځې خپل کالي ډېر په گرانه بل چا له ورکوي. دا

زهٔ د مُلا فضل الله هنر ګڼم چې خپله خبره ئې د هغوي تر غوږونو رسولې وه او هغوي ئې پهٔ دې قانع کړې وې چې د دغه کالو پهٔ بدل کښې به د جنت د نعمتونو حقدارې وګرځي.

د فضل الله سره مونږ د مدرسې پهٔ چت ولیدل. پهٔ دغه وخت کښې زمونږ نه ګېر چاپېره وسله وال کسان ولاړ وو چې د ځینو ږکښې مخونه پټ وو او ځینو د نمر تورې چشمې پهٔ سترګو کړې وې. مُلا صاحب ووئیل چې دا ځائے سم نهٔ دے، د هغهٔ بېټک ته به لاړ شو او پهٔ ارام به خبره وکړو. سراج الدین او فضل الله وړاندې او مونږ ورپسې پهٔ مام ډېرې کښې د هغهٔ د خښتو او سیمټو نه جوړ پوخ بېټک ته لاړو.

خدمتګارو راله شنې چائې راوړې. خبرې شروع شوې. ما ورته وضاحت وکړو چې زمونږ ملګري د امریکې ایجنټان نهٔ بلکې د یو مقامي ټېلي ویژن کېمره مېنان دي او هغوي غوښتل چې د خبرونو لپاره ویډیو واخلي نو ځکه ئې جلسې ته کېمره راوړې وه. خو دغلته ځینو وسله والو ووهلو، کېمره ئې ترې ماته کړه او بیا ئې د ځان سره بوتلو. مُلا صاحب زمونږ خبره ډېره پهٔ غور واورېده. پهٔ دغه دوران کښې د طالبانو ویاند مسلم خان او یو څو وسله وال هم راغلل چې مخونه ئې پهٔ تورو ټوکو کښې پټ وو او زمونږ ګېر چاپېره کښېناستل. ځیني ږکښې پهٔ پوړو کښې هم ودرېدل.

مُلا فضل الله ډېر پهٔ غور زمونږ خبره واورېده او زمونږ سره ئې زمونږ د ملګري پهٔ وهلے کېدو او د کېمرې پهٔ ماتېدو خپله خواخوږي ښودله. کله چې د مسلم خان د خبرو وار راغے نو هغهٔ ډېر پهٔ ستغه ووئیل چې څهٔ شوي دي ښهٔ شوي دي. میډیا طالبانو پسې پروپېګنډې کوي او بله دا چې تصویرونه ویستل هسې هم پهٔ اسلام کښې جائز نهٔ دي نو بس د کېمرې د تاوان خبره هېره کړئ او

کېمره مېن چې کومو کسانو وهلے دے، هغه ناپوهه وو، د طالبانو مشران به ئې پوهه کړي.

په فضل الله د مسلم خان دا خبره ښه ونهٔ لګېده، په قهرېدلي نظر ئې مسلم خان ته وکتل، وئيل ئې چې دوي په جرګه راغلي دي. پکار ده چې مونږ دوي خبره واورو. تاسو د جرګې په اصولو نهٔ پوهېږئ، د پښتو د رواج نه نهٔ يئ خبر؟ په دې سره مسلم خان خاموشه شو او بيا ئې څهٔ ونهٔ وئيل.

فضل الله ووئيل چې هر څهٔ شوي دي، سم نهٔ دي شوي. هغه به په رېډيو په خپل تقرير کښې د دې معافي وغواړي او په يوه هفته کښې به د کېمرې تاوان هم پوره کړي.

ريښتيا چې مُلا فضل الله د خپلې وعدې مطابق په رېډيو په خپله ويناکښې بخښنه وغوښته او زياته ئې کړه چې په تاج الرحمان تشدد د ځينو جذباتي هلکانو لهٔ خوا شوے دے چې هغوي سراسر غلطي کړې ده او دا چې هغه به ئې تپوس وکړي.

دا زمونږ د پاره د بريا خبره وه ځکه چې په دغه وخت کښې چا د وسله والو طالبانو په اړه يوه خبره هم نهٔ شوه کولې. ټوله سيمه د وېرې تر ځپې لاندې خپله ولقه کښې نيولې وه.

يوه هفته وروستو سراج الدين ټيليفون وکړو چې مونږ دې د جمعې نمانځهٔ له مام ډېرۍ ته لاړ شو چې د مولانا صاحب نه د کېمرې تاوان ترلاسه کړو. زهٔ په دغو ورځو کښې د څهٔ ريکارډنګ لپاره په پېښور کښې وم خو نياز احمد خان او د ټي وي مرکزيو څو نور ملګري د فضل الله ملاقات له لاړل.

نياز راته بيا وروستو ډېر په خوند خوند دا قيصه وکړه چې د جمعې د نمانځهٔ نه وروستو فضل الله په ناستو خلقو غږ وکړو چې د کېمرې د تاوان پوره کولو لپاره

دې چنده (عطیه) ورکړي. یو طالب د امیر صاحب مخې ته څادر خور کړو او خلقو ور پکښې د نوټونو په شکل کښې چندې ورواچولې. چې ډېرو خلقو چندې ورکړې نو نیاز ته وونیلے شو چې په څادر کښې اچولې شوې روپۍ راغونډې کړي او هر څومره چې دي، د کېمرې د تاوان په توګه دې قبولې کړي.

نیاز چې دفتر ته راورسېد او روپۍ ئې وشمارلې نو د کېمرې د قیمت نه لږې وې خو د وعدې مطابق هغهٔ قبولې کړې.

تاج رحمان د هسپتال نه رخصت کړے شو. جسماني ډېر زخمونه پرې نهٔ وو خو داسې ښکارېدو چې لکه روح ئې زخمي شوے وهٔ او زړهٔ او ذهن ئې د دې پېښې د وېرې څخه لا ازاد شوے نهٔ وهٔ. ما پهٔ چُټۍ خپل کور ته ولېږلو. د کور د مشرانو لهٔ خوا ورته سوات ته د تلو اجازت ترلاسه نهٔ شو او هغه بیا سوات ته راستون نهٔ شو.

بدها سرګردانه دے

د مینګورې ښار نه خواوشا د پنځلس کلومیتره په فاصله د جهان اباد کلے دے. دا کلے د څلور واړه اړخ نه په غرونو کښې راګېر دے. یو وخت داسې وه چې د دې غرونو په لمنو او سرونو به د بده مت منونکو د مینې او امن تبلیغ کولو. دلته به د انسانیت د عظمت خبرې او بحثونه کېدل او د ژوند په تیارو کښې به د رڼا لټون کېدلو.

نن، زرګونه کاله وروستو، د مینې او امن او انسان سره د ښېګړې دغه تبلیغات د بارودو په لوګو کښې، په بمي چاودنو او د انسانانو وژنې غونډې ناوړه کارونو په وحشت کښې ورک شوي او هېر شوي دي.

دا د کال ۲۰۰۷م د اکتوبر میاشت وه. په اکتوبر کښې په سوات کښې موسم یخ وي، شپې اوږدې شي او په کلیوالو سیمو کښې خلق د ماښام د تیارې د خوړېدو سره سم خپلو کورونو ته ستنېږي.

د جهان اباد په یو غره کښې د بدها یوه مجسمه په غره کښې کنستلې شوې ده. په دې کښې بدها د مراقبې په حال کښې ښودلے شوے دے. د پېړیو راهسې د بدها منونکي او په فن او هنر مئینان د دې مجسمې د زیارت لپاره وخت په وخت راغلي دي. دا "Rock carving" خواوشا ۲۲ فُټه اوچت دے او د تاریخ پوهانو په وینا په اوومه پېړۍ کښې جوړ شوے دے. دا د لرغون پوهانو (Archeologists) لپاره په بامیان کښې د بدها د مجسمو نه وروستو د ډېر ارزښت وړ هنري کار وه.

په سیمه کښې د مذهبي سخت دریزۍ د مفکورې د خوړېدو نه وروستو د سیمې

د لرغوني تاریخي اثارو څهٔ اهمیت پاتې نهٔ شو. سخت دریزه مذهبي ټولګو غوښتل چې هر هاغه څهٔ د مینځه یوسي کوم چې د یوې داسې ټولنې د بنیاد کېښودلو لپاره مهم وي چې پهٔ انسانیت، زغم او مینه ولاړه وي.

د اتم اکتوبر پهٔ شپه وسله والو طالبانو پهٔ جهان اباد کښې د بدها د دغه لرغوني اثر د ړنګولو تابیا وکړه. د کلي یو اوسېدونکي شمشېر خان ما ته ووئیل چې د شپې څهٔ ګلوښت پنځوس وسله وال طالبان پهٔ کلي راتېر شول او دغرهٔ د لمنې هغه برخې ته ئې ځان ورسوهٔ چرته چې بدها پهٔ مراقبه کښې ناست وهٔ.

د دوي سره جنرېټر او پهٔ کاڼي کښې د سورو کولو اوزار هم وو. د کلي خلقو ته ئې ووئیل چې ستاسو سره مو کار نشته، خپل کار کوو او ځو.

شمشېر خان زیاته کړه چې وسله والو اول د مجسمې پهٔ سر کښې سورې وکړل، بیا ئې د بارودو نه ډک کړل او اور ئې ورته پورته کړو. د چاودنې سره د مجسمې سر پهٔ جزوي توګه ړنګ شو. وسله وال تر ډېرو ساعتونو بوخت وو چې څهٔ رنګ دې مجسمې ته د ډېر نه ډېر تاوان ورسوي. د سحر د رڼا خورېدو نه وړاندې ئې خپل سامانونه راټول کړل، پهٔ ډېر فاتحانه انداز ئې خپل کلاشنکوفونه اسمان ته جګ کړل، ډزې ئې وکړې او ستانهٔ شول.

پهٔ سېدوشریف کښې د سوات میوزیم ډائریکټر محمد اقلیم راته ووئیل:

"پهٔ سوات کښې د بدها دوه ویشت داسې تاریخي اثار دي چې پهٔ ښهٔ حال کښې دي او باید د حفاظت لپاره ئې کامونه پورته کړے شي."

هغهٔ غمژن وهٔ او دا وېره ئې محسوسوله چې هسې نهٔ دا لرغوني تاریخي اثار د وسله والو د برېدونو لهٔ خوا هم د مینځه لاړ شي.

دا تاریخي اثار کهٔ یو خوا د دې سیمې د اولس د اولسي، تاریخي او کلتوري شناخت د پاره مهم دي او هغوي ترې د خپل سباوون لپاره الهام اخستے شي

نو بل خوا دا د بدهه مت د منونکو لپاره ډېر مقدس ځايونه دي او که چرې حفاظت ئې وشي نو دلته مذهبي سېلګرې "Religious Tourism" وده کولې شي او د سيمې د اولس په اقتصادي او کلتوري پرمختګ کښې يو مهم کردار لوبولے شي.

کله چې په کال ۱۹۹۲م کښې سخت دريزه هندوانو په هندوستان کښې تاريخي بابري جومات ړنګ کړه نو په پاکستان کښې هم د دې په ځواب کښې قهرژنې مظاهرې راوپارېدې. هم په دغو ورځو شپو کښې د سوات په غاليګي نومې کلي کښې خلقو د بدها يوه بله مجسمه هم ړنګه کړه چې د بريکوټ نه مينګورې ته تلونکي دلوے سړک په غاړه په يو غرهٔ کښې کنستلې شوې وه. دغه شان په پير بابا بونېر کښې د سکهانو په ګوردواره هم بريدونه وشو او هغه وسوزولې شوه.

د دې ټولو بريدونو په شا هاغه خلق وو چې د اسلام دامن پېغام ئې هېر کړے او د ذاتي تعصب، ناپوهۍ او سياسي مقصدونو لپاره ئې اولس د عدم برداشت او تشدد په لور بوتللو او د سيمې د تاريخي او کلتوري تسلسل مزے ئې غوڅولو.

د سوات د کلتوري ټولنې مشر عثمان اولسيار راته وئيل چې څو کاله وړاندې مرکزي حکومت ته د يوې بهرنۍ ادارې له خوا څهٔ سل مليونه روپۍ په دې غرض ورکړې شوې وې چې د دې تاريخي اثارو د حفاظت له پاره په کار راوستلې شي خو تراوسه په دغه اړه څهٔ کار نهٔ دے شوے.

ډاکټر عديل ظريف په پېښور کښې د يوې غېر سرکاري ادارې "سرحد کنزروېشن نېټ ورک"(Sarhad Conservation Network) مشر دے. هغهٔ راته وئيل چې په اصل کښې د پاکستان د رياست پاليسي د کلتور نفي کوي. ډاکټر صاحب سپيناوے وکړو چې د پاکستان په درسي کتابونو کښې طالب علمانو ته ښودلے کېږي چې د هېواد قومي تاريخ د کال ۱۹۴۷م نه

شروع کېږي. دا بالکل غلطه خبره ده. د دې سیمې تاریخ خو زرګونه کاله زوړ دے او دلته د ګندهارا په نوم د نړۍ د یو ډېر لوے تهذیب بنیادونه کېښودلے شوي وو.

په دې موضوع ما په دغه وخت کښې د کراچۍ نه د خپرېدونکې "نیوز لاین میګزین" لپاره د "Obliterating a Rich Past" په نوم یو راپور هم لیکلے وۀ. د راپور لپاره مې د پاکستان د نوموړې اداکارې او لیکوالې فریال ګوهر سره خبرې وکړې. فریال د تاریخي اثارو د حفاظت یا "کنزروېشن (Conservation)" په اړه په یوه خېړنیزه پروژه هم کار کوي. د هغې نه مې وپوښتل چې په پاکستان او خاص توګه د پښتنو په سیمو کښې په تاریخي اثارو بریدونو ته هغه په څۀ نظر ګوري؟ نو هغې راته ووئیل چې وسله وال تنظیمونه او ځینې داسې خلق چې په جرمونو کښې ککړ وي، په لرغوني اثارو بریدونه لۀ دې کبله کوي چې د میډیا او نړیوالو توجه ځان ته کش کړي او دغه شان په حکومتونو د خپلو غوښتنو منلو لپاره فشار واچوي.

فریال د دې اثارو د اهمیت په اړه ووئیل چې په اصل کښې دا رقم اثار د یو قام د تاریخي او کلتوري ارتقا یو "Timeline" وي او د قام په شناخت "identity" جوړولو کښې مهم کردار لري. د دې اثارو حفاظت ځکه مهم دے چې مونږ د دې اثارو نه د پخوانو ټولنو د ژوند ژواک، هغوي ته د وړپېښو ستونزو او د هغوي د کارنامو په اړه علم او پوهه ترلاسه کولې شو. د دې پوهې نه بغېر مونږ د مستقبل په اړه منصوبه بندي څنګه کولې شو؟

جاپانۍ سېلګرې، تخت بهائي

او په هغه د کانو باران

د پښتونخوا صوبې، د مردان ښار نه د پينځلس کلوميټره په فاصله د تخت بهايي د بده مت د راهبانو د عبادت لپاره د تعميرونو يو "کمپلېکس" (Complex) دے چې په ورومبۍ صدۍ قبل مسيح کښې جوړ کړے شوے دے. وخت په وخت وربانديې بريدونه او يرغلونه شوي دي خو خوندي ځکه پاتې دے چې د يو غر په سر جوړ دے. خوا ته ورسره د سري بهلول کنډرونه دي چې په يوه زمانه د ژوند د رنګه ډک ښار وه. "د ملګرو ملتونو د تعليم او کلتور سازمان" (يونيسکو) دا د نړۍ په مهمو کلتوري اثاثو کښې شمېرې.

دا د دوه زره پينځم (۲۰۰۵م) کال د ژمي موسم وه. زه د ملګرو سره د دې کنډرونو په اړه د يوې ډاکومنټرۍ جوړولو په غرض دغه کنډرونو ته په غره کښې ورختم. چې لږ مزل مو وکړو نو يو ځوان هلک مو وليده چې په ډېره منډه په ښکته راروان وه. چې مونږ ته راورسېد نو معلومه شوه چې دا يو جاپانۍ وه چې د پښتنو روايتي کالي ئې په غاړه وو. ډېر وېرېدلے او وارخطا وه او سر ئې هم لږ زخمي وه. مونږ رايسار کړو خو هغه دومره وېرېدلے وه چې په مونږ ئې هم باور نه راتلو. ما ترې په انګليسي ژبه پوښتنه وکړه چې څوک ئې او څه درسره وشو؟ هغه په انګليسي ژبه خبرې نه شوې کولې خو بره غره ته ئې ګوته نيوله. زمونږ ملګرو ورله اوبه ورکړې او د تندي نه ئې ورله وينه اوچه کړه. زما دوه

ملکرې په غره کښې په بره لاړل چې معلومه کړي چې په مېلمه ګزارونه چا کړي دي؟ لږ وخت وروستو ملګري راغلل. هغوي وويل چې بره د خواوشا کلو څه ماشومان وو چې دا مېلمه يې په کاڼو ويشتلي دے. هغوي وويل چې دا کافر دے او ده ته ضرر رسول د ثواب کار دے. د پښتنو ټولنه چې د مېلمه دوستۍ لپاره يو نوم لري، نن دې حال ته رسېدلې وه چرته چې ماشومان هم د سخت دريزه مذهبي تعليماتو د اثر لاندې وو او د ثواب معنې نه يې خبره يې هم په وينه کښې ثواب لټولو.

دا جاپانے سېلګرے وه او د بدهـ مت منونکے وه او د دغه تاريخي اثارو د ليدو او ورته د مذهبي احترام او عقيدت وړاندې کولو لپاره راغلے وه ـــ خو د خپل عقيدت او مينې په کوڅو کښې په کاڼو وويشتلے شو.

مونږ غوښتل چې د بدها دا مينه وال د ځان سره ايسار کړو خو هغهٔ ښکته لارې ته اشارې کولې چې ګنې تلل غواړي. زمونږ يو ملګري تر لوئې لارې ورسولو. ما فکر کوهٔ چې دا زلمے کله خپل وطن ته خپلو خلقو ته ورسي نو چې زمونږ په اړه به ورته څه وائي؟

دیر، کوهستان او د سپوږمۍ شپه

دوه زره شپږم (۲۰۰۶م) کال وُ. په مېداني سيمو کښې ګرمي ښه په زور کښې وه. زهٔ په دفتر کښې ناست وم چې په موبائل فون راته د دير ضلعې د "ورکس اینډ سروسز ډيپارټمنټ"(Works & Services Department) د مشر سید جلال صاحب چې خلق ئې په جان صاحب هم پېژني، ټېلېفون وکړو. د خبر په خبر نه وروستو ئې راته دعوت راکړو چې بر دير ته لاړ شم او د کوهستان د دنګو غرونو په ښائسټونو او هلته د اوسېدونکو خلقو په ژوند ژواک د تي وي لپاره يو پروګرام رېکارډ کړم.

جان صاحب په وطن مئين يو سپېځلے پښتون دےاو مشران ئې د پخواني چترال رياست واکمن پاتې شوي دي. د دغوي دعوت زما د پاره حکم وُ او بله دا هم غوښتل چې د بر دير د کمراټ دره، جاز بانډه، کلکوټ او لاموتۍ سيمې ووينم. نو په يوه هفته کښې مې پروګرام راجوړ کړو او بر دير ته روان شوم.

د ملاکنډ په غرهٔ ورتېر شو ـــ هاغه ملاکنډ چې د بهرملکي ځواکونو په ضد د پښتنو په مزاحمت کښې ئې لوے کردار لوبولے دے. د برطانيې پخواني وزيراعظم ونسټن چرچل دلته د پيرنګي پوځ سره د خبريال په توګه وخت تېر کړے وُ او خپل يادونه ئې په کال ۱۸۹۷م کښې د "The Story of the Malakand Field Force" په نوم خوندي کړي دي او په دغه کتاب کښې ئې د ملاکنډ د پښتنو قبيلو سره د پيرنګيانو د جنګونو قيصې ليکلي دي.

هسې خو د ملاکنډ ټولې سيمې د تاريخ د مزل پړاوونه او د فطرت د ښائسټونو علامتونه دي خو د بر دير او برسوات غرئيزې سيمې د ژوند د رنګ او ښائست

داسې ګودرونه دي چرته چې هر احساس خوږ دے او هر اواز سندره ده.

د بردیر نه د شرینګل پهٔ لاره ټولې درې د رنګونو نه ډکې دي. هر غر ئې د ښائست د ښاپېرو غر دے او هر بوټے ئې دارو دے. پهٔ دې غرونو کښې کوهستانیان اوسېږي. دا پهٔ زړهٔ او پهٔ ذهن پاک خلق دي. د دوي د ژوند ټوله ادانه هم پهٔ دغه غرونو او ځنګلونو ده خو د ډېرې مودې نه د ښکته سیمو نه ټېکه داران راځي، د حکومت د ځینې چارواکو پهٔ مرسته د دوي ځنګلونه وهي او دوي له پهٔ بدل کښې څهٔ نهٔ ورکوي.

د شرینګل نه کمراټ ته لاره تلې ده. د کمراټ درې پهٔ غرونو ځنګلونه او پهٔ لمنو کښې ئې د ګلونو لړۍ دي.

الله پهٔ تورو غرو مئین دے

پهٔ سر ئې واورې وروي وېښ کښې ګلونه

د درې پهٔ مینځ کښې د پنجکوړې سیند بهېږي. مونږ یوه شپه د دې سیند پهٔ غاړه داسې وکړه چې د دې سیمې نه د یو سیاسي مشر فریدخان د کورنۍ زلمو راله د سیند پهٔ غاړه پهٔ مېدان کښې اور بل کړو، اور څهٔ وهٔ خو لمبې وې چې تر سحره بلېدې او مونږ ترې ګېر چاپېره بسترې اچولې وې. کمبلونه مو اچولي وو ـــ یو خوا ته د سیند داوبو شور او بل خوا د اور د لمبو رڼا او تودوالے ـــ دا زما د ژوند یوه ښائسته شپه وه او تر ډېرو ورځو هم پهٔ دغه خمار کښې ډوب ګرځېدم.

فکر مې کوهٔ چې د خپل غفلت او ناپوهۍ لهٔ کبله مونږ د دې جنتونونه هاغه خوند وانهٔ خستو کوم چې پکار وهٔ. دلته ډېر خلق د ژوند د اسانتیاو نه بې برخې دي، غریبان دي. یا خو پهٔ خپلو پټو کښې خواري مزدوري کوي او یا ښکته ښارونو ته د کار لپاره ځي.

د سخت دريزه مذهبي ډلو د راتګ سره دلته هم ځيني خلق د ژوند په اړه داسې فکر لري چې هغو د پرمختيايي کارونو ته د شک په نظر ګوري، بدلون ته نه دي اماده ــــ نه دې ته تيار دي چې ژوند د جهالت د اژدها د خولې نه راوباسي.

په يو وخت کښې د کمراټ د سيند دواړه اړخ ته دا ټولې درې د ځنګلي ګلونو نه ډکې وې ــــ په خوشبويانو معطره وې خو دا ځل ما وکتل چې په ډېرو برخو کښې ئې هغه ګلونه نه وو غوړېدلي. ما پوښتنه وکړه چې دا ولې؟

نو د سيمې ځوانانو راته ووئيل چې دلته ځيني مشران نه غواړي چې سيلاني راشي. دوي فکر کوي چې دې سره دلته فحاشي خورېږي نو ځکه ئې دغه ګلونه رېبلي دي او د هغې په ځائے ئې الوګان کرلي دي. زمونږ په وطن کښې د ګلونو دښمنان هم څه لږ نه دي! په زمکه د ګلونو هغه رنګونه ئې خړ الوګان د زمکې لاندې کړل.

بله ورځ راپسې جان صاحب هم راورسېد. د تيمرګرې ډاکټر شعيب هم وه او زمونږ شاعر ملګرے اقبال حسين سالار هم سره د خپلو ملګرو راغے. د لاموتې او جندرئ خلق راسره ملګري شو. خوراکي مواد، لاټېنونه او کمبلې مو د ځان سره واخستې او د جازبانډې په لور روان شو.

لاره د غرونو په سرونو او د درو په غېږه کښې تېره شوې ده. يو غر پسې بل غر، يوه درې پسې بله دره ــــ هر غر د بل غر نه زيات مغرور او هره دره د بلې درې نه زياته ښائسته. د کلي ملک صاحب راته وئيل چې کله هغوي مزل کوي نو په درې ساعتونو کښې جازبانډې ته رسي خو مونږ د غرۀ د مزل بلد نۀ وو نو مونږ خواوشا شپږ ساعتونه واخستل.

چې ډېر بې ساه به شو نو د کلي ملګرو به راته وئيل چې کله جازبانډې ته ورسۀ نو ټول ستړيتوب به مو ختم شي. يو ځائے يو کس راله په پکول کښې ځنګلي

ګلونه وټومبل. وئيل ئې د دې سره به دې ساه سمه وي او سفر به ښهٔ کوے شي.

ماښام شو، د نخښتړو ځنګل وۀ، مونږ سفر کوۀ. يو ځوان پهٔ لاره تېرې وئيلې، ډېر خوږ اواز ئې وۀ. اخر دا چې يو بل غر ته ور سم شو. سره د دې چې شپه رو رو پهٔ راغزېدو وه خو تيارۀ نهٔ وه. ټوله دره د سپوږمۍ د پلوشو پهٔ رڼاګانو روښانه وه. فطرت د ښائست بارانونه ورول. چې د غر نه پورته شو نو د شنو چمنونو يوه اوږده لړۍ مو پهٔ نظر شوه. لکه چې جنت ته دروازه پرانستلې شي ــ لکه چې بنده د تخيل پهٔ وسعتونو کښې د ځانه هم بې درکه شي ــ لکه چې دا د نرۍ د ټولو ښائسته ځاے وۀ ــ دا جاز بانړه وه!

شپه وه. هاغه ملګري چې زمونږ نه مخکښې رسېدلي وو، اور ئې غرغنړه کړے وۀ او د خوراک تيارۍ رواني وې. پهٔ جازبانړه کښې د خاورو کټو د يو جومات نه علاوه بل تعمير نهٔ وۀ. پهٔ جومات کښې مو سامانونه واچول او بهر راووتلو. ټوله شپه مو د جاز بانړې پهٔ معطره فضا کښې پهٔ خبرو او سندرو کښې تېره کړه. سحر نزدې مو لږ ارام وکړو او بيا خواته، د کټورې ډنډ ليدو له لاړو. دا د کېږچاپېره غرونو نه د واورو اوبهٔ راځي او د دغه ډنډ پهٔ شکل کښې د جازبانړې ښائستونو له د جلال او جمال رنګونه ورکوي.

د دغې درې نه د سوات کوهستان ته هم لاره تلې ده او کهٔ د دواړو درو ترمينځه سړک جوړ کړے شي نو دې سيمې ته به خلق پهٔ اسانه تلے او راتلے شي او د سيمې اقتصادي وده به ورسره هم وشي.

د ډنډ د شنو رڼو اوبو پهٔ سر د نمر د رڼا پلوشې خورېدې او زۀ دې فکر وړے وم چې د دې جنت خلق ولې تر دومره اوږدې مودې د غربت او ناپوهۍ د تورو تيارو بلا پهٔ خپله پنجه کښې نيولي دي؟

مستي مې ستر ګوله د لامکانه را

د دوه زره شپږم (۲۰۰۶م) کال د سپرلي خوشبو او رنګونه د بر دیر د لواری، د غرهٔ پهٔ لمن کښې ښهٔ پهٔ جوبن کښې وو .زهٔ سره د خپلو ملګرو ډاکټر اقبال، ډاکټر میرویس، غلام غوث، ګل شېر او ورور محبوب جبران پهٔ چترال کښې د ښائست د هاغه منزل پهٔ لور روان وو چې نرۍ ئې د کېلاش او کافرستان پهٔ نومونو پېژني.

د هندوکش پهٔ لمنو کښې پرته هره دره پهٔ خپل ذات کښې د جنت حېثیت لري، هره لاره د ښائست منزل ته رسي، هر یو غر د دې سیمې د اوسېدونکو د تاریخي عظمت، برداشت او مینې غمازي کوي او هر ګودر ئې د ګلونو او رنګونو تصویر دے ـــ خو د دغه غرونو پهٔ لمن کښې د کېلاشیانو بیریر، رامبور او بمبوریت درې داسې جنتونه دي چرته چې د ښائست ښاپېرۍ د خپلو ټولو رنګونو او سازونو سره زړونو ته د ژوند لازواله احساسونه وربخښي.

د چترال د ښار نه ورانديې او زمونږ د ګاډې چلوونکي ګس لاس ته د ورو او لویو لویو غرونو پهٔ لمنه کښې پهٔ تاو راتاو غورېدلي یو سړک مونږ د خپل مرام پهٔ لور مزل شروع کړو. چینو، چینارونو، ابشارونو او ځنګلي ګلونو پهٔ دغه لارو د تلونکو هرګلے کولو. نظر پهٔ لېونو ښائستونو کښې ورک د یو نوي جهان پهٔ لټون کښې وهٔ او زړهٔ د راتلونکو منظرونو لیدو ته بې قراره وهٔ.

په دغه دنګو دنګو غرونو کښې رالوتلې د هوا هرې چپې او د ګلونو د خوشبو هر احساس، د ځان سره د کېلاشيانو د لرغوني تاريخ قيصې او داستانونه راوړل.

د پښتنو په خاوره چې ټولنه د رجعت پسندۍ ښکار ده او ژوند ته نزدې قدرونه او دودونه رو رو په ورکېدو دي، د سکندر اعظم د ځوا کونو نه پاتې شوو دې خلقو خپلې سندرې، ژبه، کلتوري قدرونه، مېلې، کالي پټرې او روايتي ګډاګانې ژوندۍ ساتلې دي.

يو وخت داسې وه چې د کېلاش قبيلې د هندوکش په لمنو کښې په ډېر لوے شمېر کښې اوسېدې. خو اوس ئې شمېر تر څلورو زره ډېر نۀ دے او د چترال تر درېو درو رامبور، برير او بمبوريت محدود پاتې شوي دي. دا خلق د چترال د ښار نه خواوشا د شل کلوميټره په فاصله، د ګټو او د لرګو نه په جوړو کورونو کښې ژوند کوي، ګډې بيزې ساتي او ډېر ئې کروندګر دي.

کېلاشيان د فطرت په غېږه کښې ساه اخلي. د ښائست عبادت کوي او د جمال او جلال سندرې وائي. هر کال د سپرلي په موسم کښې چې د ښائست رنګونه خپاره شي نو دوي د نوي کال هرکلے په ګډاګانو او سندرو کوي. د انګورو نه اوبۀ وباسي او ډېر ښۀ وائن (Wine) ترې جوړوي.

مونږ چې بمبوريت ته ورسېدو نو غوښتل مو چې د کېلاشيانو د يوې مشرې مېرمن لکشن بي بي سره ووينو. لکشن بي بي يوه ښائسته ښځه ده چې د خپلو خلقو د کلتوري او ټولنيزو قدرونو د خوندي کولو او د خپلې سيمې د پرمختيا لپاره د "Indigenous Kalash Survival Program" په نوم د يوې غېر سرکاري ادارې مشري کوي. لکشن بي بي د دې دنګو غرونو نه وتلې هغه وړومبۍ ښځه ده چې د کمرشل جهاز د چلولو لائسنس هم لري خو اوس د خپلو خلقو خدمت او د کېلاش کلتور په نړيواله کچه د ورپېژندلو لپاره هلې ځلې کوي.

د هندوکش په لمنو کښې د نمر پلوشې په خورېدو وې چې مونږ د لکشن بي بي کور ته ورسېدو. لکشن بي بي د ځان لپاره د لرګو، سنګ مرمرو او کاڼو په خوندور امتزاج ډېر ښائسته او د نوي ډيزائن کور جوړ کړے دے. يوه برخه ئې د مېلمنو د ضيافت لپاره ده چې هغه ئې د خپلې ادارې د دفتر په توګه هم کاروي. د کور په دالان کښې ئې شين چمن او د وطني ګلونو قطارونه ولاړ وو. د لکشن بي بي ئې پلار مونږ کښېنولو او راته ئې ووئيل چې لږ انتظار وکړو.

لږ ساعت وروستو لکشن بي بي په خپلو روايتي کالو کښې ملبوس زمونږ د هرکلي لپاره راووتله. د ټولو سره ئې ستړي مه شي وکړل او بخښنه ئې وغوښته چې هغې چونکې د ځان لپاره وائن جوړول نو ځکه ئې په مونږ انتظار وکړو او مونږه ټولو ورته ډېر په خوشحالۍ ووئيل چې نه، هيڅ خبره نه ده، مونږ دغه سيمې ته هم د هغې د ليدو لپاره راغلي يو.

لکشن بي بي له لږه ډېره پښتو هم ورځي خو زما ئې انګليسي ايکسنټ (Accent) ډېر خوښ شو. هغې د خپلو خلقو او هغوي ته په ورپېښو ستونزو ډېر په اعتماد سره خبرې کولې او دا وېره ئې څرګندوله چې د کېلاش اولس په سيمه او نړۍ کښې د روانو سياسي او ماحولياتي بدلونونو په نتيجه کښې د ډېرو ننګونو سره مخ دي.

لکشن بي بي ووئيل چې کله به سکول ته تله نو عن د خپلې ورورولۍ خلقو به دا ډېره عجيبه خبره ګڼله او په دې نه پوهېدل چې د دې لرې پرتې او غرئيزې سيمې په پرمختيا کښې د جينکو د زده کړو څومره اهميت دے؟

لکشن بي بي ووئيل چې سکول ته د تګ په وخت به کله کله په لارو کښې سپو په مخه کړه، ډېره به ئې وځغلوله خو د دې يوه ګټه به دا وشوه چې سکول ته به ډېره زر ورسېده.

د لکشن بي بي سره ما د هغوي د کلتور او لرغوني روايتونو په اړه خبرې وکړې،
په سيمه کښې د مذهبي سخت دريزۍ د ډېرېدو او د هغوي ټولنې ته په ورپېښو
خطرو مو بحث وکړو. هغې ووئيل چې د هغې د خپلې سيمې او خلقو سره ډېر
جذباتي تړون دے او هم دغه وجه ده چې هغه سره د دې چې د پاکستان يا
نړۍ په بل يو ښار کښې د اوسېدو وسيلې لري، بيا هم هغې چرته بهر اوسېدو
ته زړۀ نۀ دے ښۀ کړے او هم په دغه دره کښې د خپلو خلقو سره ژوند کوي.
لکشن بي بي وائي چې د کېلاشيانو دغه سيمه د نړۍ يو ژوندے عجائب گر
(Living Museum) دے چرته چې د سلګونو کلونو زاړۀ روايتونه او کلتوري
قدرونه ژوندي دي خو اوس دغلته د سېلانيانو ډېر راتګ او مذهبي ډلو د
هلو ځلو ډېرېدو سره په دغه لرغوني قبيله فشار ډېر شوے دے. ډېرو پکښې
د غريبۍ او ورپېښو خطرو لۀ کبله نور خپل مذهب پرېښے دے او رو رو د
کېلاشيانو شمېر په کمېدو دے.
د کېلاشيانو يو بل مشر عبدالخالق د ځان سره د کلي په سېل بوتلم. د دنګو
دنګو غرونو په لمن کښې د لرګو او کاڼو نه جوړ دغه کورونه کۀ هر څومره د يو
دېومالائي داستان منظر وړاندې کولو خو ژوند پکښې اسان نۀ ښکارېدو. ښځو
د کور د غريبو لپاره د ماښام د ډوډۍ تيارے کولو. ماشومانو چې خپلې روايتي
رنګينې جامې ئې اچولې وې، د کورونو د کړکيو او دروازو نه بهر کتل او څۀ
جينکو خپلو کورونو ته خپلې ګډې بيزې راروانې کړې وې لکه ټوله ورځ ئې چې
بهر د غرونو په درو او پولو پټو کښې تېره کړې وې. يوې بوډۍ ښځې راله د وائن
نه يو غټ جګ ډک کړو، وئيل ئې دا زمونږ لۀ خوا ستاسو لپاره ډالۍ ده.
د ماښام رنګينۍ په تېرېدو وې. په ټوله دره د تورې شپې تور څادر رو رو
راخورېدو. مونږ د کلي په لارو کوڅو کښې ګرځېدو. د يو ځائي مشر په ويناپه يو

مېدان کښې د کلي ټولې جينکۍ راټولې شوې وې، يو هلک ډول او بل خپله شپېلۍ راوړه او د روايتي ګډاګانو محفل تود شو.

جينکو، ښځو، سړو او ماشومانو په شريکه د شپېلۍ او ډول د تزنېدلي او زړه راوېښوونکې موسيقۍ سره داسې ګډا وکړه چې که په نړيوال سټېج ور وړاندې شي نو د خلقو نه خوبونه تښتولې شي.

د موسيقۍ محفل چې خور شو نو څه وخت وروستو د کلي د کوټو نه د شپېلۍ د اوازونو لړۍ پېل شوه. يو اړخ ته هلکان او بل اړخ ته جينکۍ. چې هلکانو به شپېلۍ وغږوله نو بيا به ئې وار جينکو له ورکړو. عبدالخالق وئيل چې داسې دا خلق د شپې ځان مشغول هم ساتي او په دغه شپېلۍ کښې يو بل ته د خپل زړه خبره هم کوي.

د شپېلۍ د سوز نه ډکه موسيقي د کلي د کوټو او کورونو څخه اوچتېده او د غرونو په درو کښې لکه د سپرلي د خوشبو خورېده. مونږ چې بله ورځ مازيګرد بمبوريت نه راستنېدو نو ما فکر کوه چې دا ټيک ده چې دا خلق د ژوند د بنيادي اسانتياو نه بې برخې دي او ډېر مال دولت هم نه لري خو بيا هم دا خلق په ښارونو کښې د اوسېدونکو خلقو نه ډېر خوشحاله دي ځکه چې دوي فطرت ته نزدې دي، د ژوند د زړه په نهان خانو کښې د پټې سندرې په راز پوهېږي، د ساز په خوږو خبر دي او بغېر د مينې نور په هېڅ نه پوهېږي.

څو کاله وروستو چې په سوات او ملاکنډ کښې د مذهبي سخت دريزۍ لمبې بلې شوې او د مذهب په نوم د انسانانو وژنه پېل شوه نو په بمبوريت، برير او رمبور کښې اوسېدونکي کېلاشيان هم د وېرې او ترهې ښکار شو. د يونان سره تړاو لرونکے يو سېلګرے چې د کېلاشيانو د بچو د زده کړو لپاره ئې هلې ځلې کولې، وسله والو وتښتولو. دغه شان په يوه بله پېښه کښې وسله والو د

کېلاشیانو څاروي وتښتول او دا درکې ورته هم ورکړل شوې چې یا مسلمانان شي او یا بیا ځان بریدونو ته تیار کړي. اوس چې په کېلاش کښې د سپرلي مېلې کېږي نو دومره پکښې ځائې خلق نهٔ وي څومره چې پکښې پولیس او امنیتي ځوا کونه وي.

نن چې زهٔ د ښائست د دغه خاورې نه پهٔ زړګونو میلونه لرې پهٔ پردي وطن کښې یم نو دا فکر مې یوسې چې آیا د کېلاش د ښائسته کلیو کورونو نه را اوچتیدونکي د شپېلۍ خوارهٔ اوازونه هم هاغه شان زړونو ته قرار او سکون بخښي او کهٔ نهٔ د وخت تون‌د خېزو بادونو دغه اوازونه ساکت کړي دي؟

پیر بابا او ملنګ

د اختر مېله، د پیر بابا مزار، د مزار خوا ته په جومات کښې یو ملنګ خپل اچکن خور کړے دے، دېوال ته ئې ډډه وهلې ده او د جومات په لمن کښې د اوبو جوړې فوارې ته ګورې. د سپینو سنګ مرمرو جوړې فوارې کښې د نمر پلوشو یو بل له غاړې ورکولې. د ملنګ په غاړه د تسبو امېلونو او د هغهٔ په ګوتو د رنګارنګ غمو ګوتمو د هغهٔ د مزاج موسمونه ښودل.

مونږ ټول په څهٔ نه څهٔ پسې ګرځو___ هغه هم د څهٔ لټون کوهٔ.

ما وئیل وخت به ورسره ښهٔ تېر شي. ورغلم. ما وئیل ملنګ بابا څهٔ خبر دے؟ وئیل ئې خفه یم. ما وئیل څوک خوشحاله دي؟ خفګان خو ازلي دے ___ وئیل ئې دا منم خو قیصه داسې ده چې بېګا را ته مرشد په خوب کښې حکم کړے چې ځان زر تر زره د داتا صاحب دربار ته ورسوم. ټرانسفر مې شوے دے او زهٔ دلته پیر بابا سره خوشحاله یم. موسم هم ښهٔ دے.

ټرانسفر؟

وئیل ئې زهٔ لهٔ ټېرو شلو پینځو کالو راهسې په دې ټول وطن کښې ګرځم. د دې خاورې په درو، سینډونو، غرونو او ورشوګانو تېرېږم، خوبونه وینم او خوبونه وېشم. کله په یو ځائے کلونه هم تېر کړم او کله ورځ دوه ایسار شم او بیا په خپله مخه ځم. پینځهٔ کاله مې کاکا صاحب کښې تېر کړل. څو میاشتې وړاندې مې ټرانسفر پیر بابا ته شوے وهٔ خو بېګا راهسې امر دے چې داتا صاحب ته ځان ورسوم.

ما وئیل ملنګه! ته خو هم لکه زمونږ د بې لارو په شان په دائرو کښې چورلې!
د دې مزل څهٔ سر هم شته که نه؟ منزل چرته دے؟ بابا ته لکه زهٔ هم خپل
ملګرے ښکاره شوم. وئیل ئې کام اخله. مزل کوه ـــ کله چې لار ورکه شي،
منزل پهٔ خپله پهٔ زړهٔ کښې لکه د ګلاب وغوړېږي ـــ سوز خپله ساز شي. وئیل
ئې کم عقله بونبریه! درد پهٔ خپله خپل علاج دے. مزل پهٔ خپله خپل منزل
دے!

کترینه، امریکه او زما ملګرې

کال دوه زره لسم (۲۰۱۰م) وه. په واشنګټن کښې د "اکېډيمي آف اېجوکېشنل ډېولپمنټ"(Academy of Educational Development)په مرسته امریکې ته د قدرتي افتونو د انتظام په اړه د یو تربیتي پروګرام لپاره تللے وم. د پاکستان نه راسره ځینې حکومتي چارواکي، د مدني ټولنې غړي او خبریالان ملګري وو.

پلان داسې وه چې مونږ به په واشنګټن کښې څو ورځې ایسار یو او بیا به نیو اورلېنز (New Orleans) او د کېلیفورنیا ځینې ښارونو ته سفر کوو چرته چې به مونږ د قدرتي افتونو سره د مبارزې د بېلابېلو ادارو د مشرانو سره وینو. منتظیمینو غوښتل چې مونږ ته په نیو اورلېنز کښې هاغه سیمې وښودلې شي کومې چې د کترینه په نوم سمندري طوفان ځپلې وې. د دوه زره پینځم کال د اګست په میاشت کښې دې طوفان په زرګونو کورونه وران کړي وو او خواوشا اتلس سوه کسانو پکښې ژوند بائیللے وه.

د هالي ووډ نوموړي اداکار، براډ پټ دلته د "مېک اِټ رائټ"(Make it right) په نوم د کورونو د سر دوباره بیا ودانولو یوه پروژه هم پېل کړې ده. هغه دې ځپلے شوو خلقو له په خپل خرڅ داسې کورونه جوړوي چې د موسم د بدلون او دغه شان د قدرتي افتونو مقابله کولې شي.

نیواورلېنز د لوزیانا ریاست تر ټولو لوے او مهم ښار دے. خوا ته ئې د

"میسیسیپي" (Mississippi River) سیند بهېږي . دلته ډېر خلق افریقائي نژاد امریکنیان دي. مونږ یو داسې ګاونډ ته ولېږلے شو چرته چې ټول کورونه د سمندري طوفان او سېلابونو له کبله تباه شوي وو . په ځینو سیمو کښې د زیان من شوو د کورونو تشې ډهانچې ولاړې وې. چونکې دغلته د کورونو د بیا ودانۍ لړۍ روانه وه نو د انتظامیې او مدني ټولنو د غړو له خوا د اغېزمنو شوو کورونو د رنګولو کار هم روان وه.

زمونږ د ډلې ملګري هم ورسره ملګري شو. کار مو شروع کړو. په پلکونو به مو دېوالونه نړول او بیا به مو د هغې ملبه یو خوا ته جمع کوله. خوا ته د یو ګاونډ تور پوستي ښځې راله یخې اوبه او د ښښکلو لپاره جوس را کړل او ډېره راته خوشحاله وه چې مونږ راغلي یو او د هغوي په ګاونډ کښې کار کوو. یوه امریکه هغه ده چې مونږ ئې د خپلو جنګي سازوسامان سره لېس د تي وي په سکرین وینو او بله امریکه هغه ده چې په هېواد دننه ده او د دغه ځاے د اولس نه جوړه ده. رښتیا خبره ده چې په هېواد دننه امریکه کښې د انسانانو قدر کېږي او ډېر ازاد او د یو بل په احترام کلک ولاړ، کلتوري او ټولنیز ژوند لري.

د ریډ کراس له خوا راسره یوه جینۍ وه چې ډېره ښائسته هم وه او تعلیم یافته هم . هغه هر وخت په دې هڅه کښې وه چې مونږ د څهٔ ستونزې سره مخ نهٔ شو. کار روان وهٔ چې یو ملګري خپل لاس زخمي کړو. هغه جینۍ په منډه لاړه او First Aid Kit ئې د ځان سره راوړو. پټۍ ئې ترې رابهر کړه، د هغه ملګري زخم ئې ووینځهٔ او ډېره ښه تیمارداري ئې ورله وکړه.

زمونږ نورو د طبیعیت نه شوخ اوشنګ ملګرو چې دا منظر ولیدو نو هر یو به راتلو او کېښناستهٔ به — چا به وئیل په لاس کښې مې بریخ شو. چا به وئیل

پښه مې خوږه شوه او هغه جینۍ به په ډېره خوشحالۍ د هغوي د درملنې غم کوه.
هغه پوهېده چې زما ملګرو ته څه ستونزه نه وه خو د هغې د توجو لپاره ئې دا هر
څه کول. بیا ئې هم څه ګیله یا احتجاج نه کولو. کېدے شي هغه په دې هم
پوهېده چې زما د وطن جنګ ځپلي خلق په رښتیا د مینې ډېر اوږي دي.

په مرګ دې نه مرې جانان خوږ دے
په رنځ دې پرېوځې چې پوښتنې له ورځمه

د باچا په حرم کښې!

د دوه زره دیارلسم (۲۰۱۳م) کال د اګست میاشت وه. د استنبول د سلطان احمد جومات خوا ته زما د هوټل د کمرې د کړکۍ نه ما وکتل چې د دغه عظیم الشان جومات د ګنبتونو او منارو تر مینځ د مازیګر د نمر پلوشو پټ پټونې کول.

هرې پلوشې چې لکه د ځان سره یې شمېره قیصې راوړې وې، یادونه ئې راوړې وې ـــ د باچایانو قیصې، د حرم د وینزو قیصې، د وړے شوو شهزادګانو قیصې، د باسفورس په چپو کښې د ورکو شوو ډوبو شوو وینزو قیصې، په محل دننه د سازشونو قیصې، د مینې او موسیقۍ د محفلونو قیصې، د جنګونو قیصې ـــ

هلته د شفق لمنې سرې شوې، نمر په خپل مدار کښې یو بل چکر پوره کړو او د جومات په منارو ناستو مرغیو هم لکه چې یو بل ته د تولو تېرو زمانو قیصې کولې.

دا جومات چې خلق ورته Blue Mosque هم وائي، په اولسې صدۍ عیسوی کښې د سلطان احمد اول په دور کښې د شاهي ارکیټیکټ، صدف کار د محمد آغا په نګرانۍ کښې جوړ کړے شوے وه. دا تعمیر یواځې د عبادت ځاے نه دے بلکې د "بازنطئیم "Byzantium د بادشاهانو له وختو تر اوسه د ټولو تللیو باچایانو د شان او شوکت، زور او دبدبې، فکر او فلسفې یو مجسم شکل دے.

د جومات سره په لږه فاصله د عثماني سلطنت د باچایانو په محل "توپکپي" (Topkapi) سرائې کښې د ټولې نړۍ نه راغلي سېلانیان د عثمانیانو د رنګ

شوې سلطنت پاتې شوې اثارو ته ګوته په خوله وو. د دغه محل په یوه برخه کښې د سلطان د ښځو او وینزو لپاره حرم جوړ دے. په دې حرم کښې د کورنۍ د ښځو په ګډون د بېلابېلو هېوادونو سره په جنګونو کښې د نیولې شوو ښځو د اوسېدو انتظام شوے وۀ. د حرم د انتظام ټول واک اختیار به د سلطان د مور، والده سلطان، په لاس کښې وۀ. هسې خو دا د خوند مستۍ او نسواني ښائست د رنګونو نه ډک ځاے ګڼلے کېدو خو په دې حرم دننه اوسېدونکو ښځو د بندیوانو په شان ژوند تېرولو. دا د سرو زرو پنجره وه چې د والده سلطان د اجازې نه بغېر ترې وتل ممکن نۀ وو. د حرم د څوکیدارۍ او انتظام ذمه واري هاغه تور پوستو غلامانو ته حواله وه چې خسیان کړے شوي به وو.

دا حرم د دولس سوه نهه نوي صدۍ عیسوۍ نه تر نولس سوه درې ویشتم کاله پورې د یوې سیاسي او ټولنیزې ادارې په توګه په کار راوستلے کېدۀ. په دې وینزو کښې څۀ داسې وې چې د سلطان د توجو او مینې مرکز ګرځېدلې وې او بیا ئې وروستو د سلطنت په سیاسي هلوځلو هم خپل اغېز پرېښے وۀ.
زۀ د دې حرم په کوټو او دالانونو ګرځېدم او د هغه وخت قیصې مې د ذهن په پرده لکه د تصویرونو ښکارېدې. ما د عثمانیانو فوځونه لیدل چې د عیسائي مذهبه اروپا او بلقان په سیمه کښې ئې باچاهۍ او حکومتونه د پښو لاندې کول او د ځان سره ئې له هاغه ځایه د غنیمت مالونه راټولول. خلق ئې غلامان کول او د هغه وطنونو تر ټولو ښائسته او پوهه ښځې ئې د وینزو په توګه د ځان سره راوستلې. په دې ښځو کښې به ځینې د سلطان تر حرمه ورسېدې او د هغۀ دیواځېوالي په شپېو کښې به ئې د هغۀ د خوند او مستۍ انتظام کولو. د سرو زرو په دې پنجره کښې مېشته ښځو له دا مهمه وه چې د ادب او فلسفې د زده کړو

سره سره د موسيقۍ د آلاتو د غږولو هنرونه هم زده کړي، ځکه چې بغېر له دغې د سلطان زړهٔ ځنګه ګټلے کېدے شو؟

زهٔ د باسفورس په غاړه د سلطان د محل يو ګوټ ته ورسېدم. د سمندر چپو ته مې کتل او د خپل تصور په نيلۍ سور د عثماني بادشاهانو دور ته ورسېدلم. د ځان نه او د جهان نه نا خبر!

د باچا د لوئي قلعې د ډنګ دېوال د سر نه يوه تېرهٔ کريکه راپورته شوه، يو درز شو او ښکته سمندر ته يو پنډوسکے پرېوتو. لږه شېبه کښې د باسفورس خونړو چپو هر څهٔ د ځان سره يوړل. نهٔ نوم پاتې شو او نهٔ نشان. د سپوږمۍ پلوشې تورو وريځو وخوړې.

په دغه شپه لکه چې يوه بله وينزه د جلاد د تورې لاندې شوې وه. لکه چې يو بل فقير د زر او زور په وړاندې د اناالحق اواز پورته کړے وهٔ او د خپل بغاوت او سرکشۍ په ګناه د سمندر چپو ته سپارلے شوے وهٔ. لکه چې يو بل ارمان خاورې ايرې شوے وهٔ.

د باسفورس سينه هم د سمندر سينه وه. د پېړيو پېړيو د رازونو نه ډکه! هلته د اسمان لمنې سرې شوې، دلته د استنبول د لوے جومات د منارونه د اذان غږونه پورته شو او شيخ الاسلام په خپله مراقبه کښې ډوب ناست خپلو تسبو له نور هم زور ورکړو!

يوه پلوشه زما په سترګو کښې لکه د خوب وځلېده ــــ ما ته، زما احساس ته، زما زړهٔ ته نوره هم رانزدې شوه. د هغې په ګرمو او نرمو شونډو هم لکه چې څهٔ قيصه کرځېده. وئيل ئې،

'زهٔ به د شپې د سپوږمۍ د پلوشو کالي په غاړه کوم او ستا خوا له به راځم.'

ما وئيل، 'الله دې راوله!'

مسکۍ شوه، وئیل ئې،

'زهٔ ستا نه تلې کله یم. زهٔ خو هر وخت ستا سره یم.'

ما خپل زړهٔ ته سر ورښکته کړلو او پهٔ دغه صحرا کښې مې د خېبر د سیمې د یو ارمان ژن شاعر دا اواز واورېدو چې:

دېرو شپو له راشه چې د یو بل نه خبر شو

یاره پهٔ یو شپه د دېرو شپو خبرې نهٔ شي

ژوند تپوس دے که جواب دے؟

د غني خان سره لیدل او د هغهٔ خبرې اورېدل زما خوب وهٔ. هغه ما پهٔ تي وي لیدلے وهٔ او هغه ما د هغه دور د انقلابي ځوانانو پهٔ سندرو کښې محسوس کړے وهٔ. زما کاکا جي، فضل غني غني د فلسفي غني خان معتقد او نزدے دوست وهٔ او چې کله به هم د ملګرو سره ناست وهٔ، د غني خان د ژوند خوندورې قیصې به ئې کولې چې ټولو به ترې ډېر خوند اخستو.

کاکا جي به د غني خان د ذهانت او خپلې خاورې سره د مینې قیصې کولې او وئیل به ئې چې غني خان د پښتو ادب د شلمې پېړۍ ناوياته شخصیت دے، ځکه چې غني خان پهٔ ورومبي ځل د پښتنو پهٔ ټولنیز ژوند د وهمونو د راخور شادر د شلولو هڅه کړې وه او پښتنو ته ئې د ژوند د بېلا بېلو رنګونو د ښودلو سره سره هغوي ته د مهذبې نړۍ سره د تګ چل هم ښودلے وهٔ. هم پهٔ دغه نوم پهٔ غني خان د کاکا جي مقاله وروستو خپره شوه او د غني خان مینه والو خوښه کړه.

دا د ۱۹۹۰م کال قیصه ده. زهٔ د اووم یا اتم جماعت طالب علم وم. د خپلې مور سره هشنغر ته د ماماګانو کور ته تلے وم. زما د نیکهٔ مور پهٔ حق رسېدلې وه او د غمرازۍ لپاره ډېر خلق راغلي وو. د تنګي د نصرت زو پهٔ بازار کښې د نورو هلکانو سره ولاړ وم چې پهٔ دې کښې یو موټر راغے، ډرائیور ترې نه را کوز شو، د وروستي سیټ دروازه ئې خلاصه کړه او د یو ډېر ښائسته او خنده رویه مشر پهٔ را کوزېدو کښې ئې د هغهٔ سره مرسته کوله. دا غني خان وهٔ. د خلقو او اولس غني خان!

ډرائیور ورته همسا سمه کړه. د خواوشا په دوکانونو کښې ناستو خلقو د ډېرې خوشحالۍ نه رامنډې کړې. غني خان ئې د دواړو لاسونو نه ونیولو او د غمرازۍ د ځائے په لور په مزه مزه روان شو. کاکا جي هم ورته را ورسېد. ما اوریدل چې ورته ئې وئیل،

'بابا! زۀ ستاسو په راتلو ډېر خوشحاله یم خو ولي خان هم راغلے وۀ، تاسو ناجوړه هم یئ، ولې مو تکلیف وکړو؟'

غني خان ورته موسکے شو او ورته ئې ووئیل،

'کم عقله! ولي خان به په خپل ځائے راغلے وۀ او زۀ په خپل ځائے راغلم.'

په هاغه ورځ ما غني خان په وړومبي ځل د نزدې نه ولیدلو او اوس مې هم د هغۀ د معنې او بې نیازۍ نه ډکه موسکا د زړۀ او ذهن په دنیا کښې لکه د سپرلي د باد خوره ده.

د نورو زلمو په شان زۀ هم د غني خان د فکر او تخیّل د رنګونو نه په وړومبي ځل د سردار علي ټکر او ګلزار عالم د سندرو او غزلونو له لارې خبر شوے وم.

وروستو ما غني خان ولوست او د هغۀ په طنز و مزاح او ټوقو ټقالو کښې مې د لېوني فلسفي خپلې خاورې او خلقو سره د مینې او د بدلون د یو داسې خواهش څرکې محسوس کړې چې د مزاحمت ټول دېوالونه ئې په شا تمبول او د یو روښانه او خپلوا که سباوون د بنیاد تیږه ئې کېښودله.

دا زما د عمر یوه جذباتي برخه وه. د خوبونو د لیدلو او بیا د هغې د رښتیا کولو لپاره د هلو ځلو دور وۀ. د لېونتوب دور وۀ. غني خان د عمر په دغه مست او لېوني دور کښې زما د عمر ډېر زلمي د پوهې او شعور سره اشنا کړي وو. غني خان د ژوند په هغۀ مسئلو خبره کول غوښتل، په کومو مسئلو چې خبره کول د کلي د مُلا په نزد کفر او الحاد ګڼلے کېدو.

غني خان د روایت تسلسل هم وهٔ او لهٔ روایته بغاوت هم. غني خان د خپلې خاورې د لرغونې او سیکولر تاریخ مئین وهٔ خو د پښتنو پهٔ ټولنه کښې د خورو وهمونو او تیارو د لرې کولو لپاره د رڼا استازے هم وهٔ — غني 'غني' وهٔ!

د ژوند دریاب ته بله کومه غاړه شته او کهٔ نهٔ؟

تقدیر اسماني او نهٔ بدلېدونکے دے او کهٔ نه د انسان زیار او زړهٔ ئې بدلولے شي؟

ولې پښتون د ټوپک لهٔ ډزه زیات د مُلا د دم نه وېرېږي؟

ژوند تپوس دے او کهٔ جواب؟

سجده تش سر لګول دي او کهٔ ځان خاورې کول دي؟

نشه ګناه ده او کهٔ د مستۍ د میو جام د یار پښو کښې کېښودل دي؟

مذهب د زړهٔ او روح تسلیمېدو ته وائي او کهٔ خیام پهٔ زور د کعبې طوافونو له بوتلل دي؟

پښتانهٔ ولې نشه د باچایانو او خوي خصلت د غلامانو لري؟

دا او د دې پهٔ رنګ بلها تپوسونه وو چې غني خان راپورته کول او د خپل ژور فکر، مطالعې، مشاهدې او مینې پهٔ رنګونو او د خپل روح پهٔ بېقرارۍ کښې ئې ورته ځوابونه لټول ——

زړهٔ مې واچوهٔ پهٔ تال کښې

د مُلا پهٔ پښو مې کېښود

ما وې، دا مې صدقه ده

دا چې څومره زهٔ پوهېږم

پهٔ طٰهٰ او پهٔ یٰسین

دا چې څومره ښکته تلے شي

پهٔ سجده زما جبین

دا چې څومره اخلي نُور

دا زما خاکي وجود

دا چې څومره زما وبه

شي څکلے انګبین

مُلا مخ زمانه واړوهٔ

وې، دا څهٔ دي ستا تالي کښې؟

نهٔ پولا و دے نهٔ فیرني ده

نهٔ حلوا نهٔ فالوده ده

وې ئې، شرع ظاهر ګوري

او ظاهره تهٔ فاسق ئې

دا د رب سره د مینې

تا راخستې څهٔ قیصه ده

یره یره د قهار نه

دا ایمان لویه حصه ده

د جنون او د جانان ستا

څهٔ مهمله فلسفه ده

د غني خان سره د اظهار ډېرې لارې وې. هغه یو کُل وقتي ارټسټ وهٔ. شاعري او مجسمه سازي دوه لوئې لارې وې چې هغهٔ پهٔ ډېره استاذۍ او هنر پهٔ کار راوستې او د خپل هنر څرګندونه ئې دومره پهٔ اخلاص کوله چې لهٔ یوه کرونده ګر نه واخله تر د پوهنتون د استاذه پورې ټولو خوښوله او الهام ئې ترې اخستو.

هم دغه وجه ده چې غني خان د پښتنو د شلمې صدۍ د ادبي او کلتوري تاريخ تر ټولو زوروره او قوي حواله ده چې د فکر رنګونه يې د نړيوال ادب په اسمان لکه د هاغه ستورو پر قبېږي چې بې لارې شوو کاروانونو ته د منزل لاره هم ښايي او د منزل معنا هم.

ما مرګي ته شروع کړې
د ژوندون د خېښت قيصه ده
د جنون او د جانان دا
څۀ عجبه فلسفه ده

د پراګ قلعه، ښنې سترګې او مورنۍ ژبه!

تېر کال چې سپرلے ښهٔ په جوبن کښې وهٔ، د پراګ لارې کوڅې د رنګارنګ ګلونو پهٔ خوشبويو معطره وې او د "والتاوا" (Vltava River) درياب پهٔ غاړه ډلې ډلې خلق چې زيات تر پکښې د هلکانو او جينکو ټولې وو، ناست وو. چا د فطرت ښائستونه ستائيل او چا ديو بل پهٔ سترګو کښې د مينې نوې جهانونه لټول.

زهٔ د ښائستونو پهٔ دغه خمار کښې د پراګ د باچايانو د لوئې قلعې پراګ کيسل (Prague Castle) ته پهٔ مزل ومړ. پهٔ لاره راسره يوه چيک جينۍ ملګرې شوه. د خبرې پهٔ خبره نه وروستو ئې راته ووئيل چې پهٔ چارلس پوهنتون کښې د اورپائي تاريخ زده کړې کوي.

ما هم ځان ور وپېژندو. نهٔ پوهېږم چې د موسم خمار وهٔ او کهٔ زما پهٔ يواځيوالي ئې زړهٔ خوږ شو خو پهٔ تاريخ، ادب او افغانستان او پاکستان کښې پهٔ روانو سياسي حالاتو مو خبرې پېل کړې او چې پهٔ ځان پوهېدو نو د پراګ د قلعې پهٔ ويخ کښې د انګورو د بوټو پهٔ مينځ کښې يوې ښائسته کېفې ته رسېدلي وو.

ما وئيل تاسو خو ټول لس مليونه خلق يئ، هغه هم د اروپا پهٔ زړهٔ کښې اوسئ او ګېرچاپېره درنه د جرمني، اسټريا او روس پهٔ شان لوے لوے طاقتونه دي. دا څنګه وشو چې تاسو وخت پهٔ وخت د دغه لويو طاقتونو د واک لاندې پاتې شوئ خو بيا مو هم خپله مورنۍ ژبه ژوندۍ ساتلې ده؟ د سرکار ژبه ده، د کار

ژبه ده، د اقتصاد ژبه ده او د ابلاغ ژبه ده؟

د هغې په سپين مخ د هغې شنې سترګې نورې هم وځلېدې لکه چې په خپل قام، ژبه او تاريخ ئې ډېر وياړ احساس کړے وي. وئيل ئې، دې پوښتنې ته به د تاريخ په هينداره کښې وګورو. هغې ډېر په قلاره د کافۍ د پيالې نه وړومبے کوټ وکړو، ماته ئې په سترګو کښې سترګې راواچولې، وئيل ئې،

"ګوره! مونږ دا خپله ژبه ډېره په شواخوان ژوندۍ ساتلې ده. په کال ۱۶۲۰م کښې د "سپين غرۀ" د جګړې نه وروستو په مونږ د "هېبسبرګ" (Habsburg) باچا زورور شو او زمونږ د کلتور او ژبې په ځائے ئې هر څۀ جرمن ژبې ته اړول پېل کړل. يواځې دا نۀ چې هغوي زمونږ ژبه لۀ مينځه وړل غوښتل بلکې د مذهب په نوم ئې هم په خلقو ظلم زور کولو او بيا په راروانو دوو پېړيو کښې داسې وشوه چې زمونږ مورنۍ ژبه د رياستي نظام، ادب او پوهنځو نه ورکه شوه. په چيک ژبه کښې ليکلے شوي کتابونه وسوزولے شول او بيا داسې وشوه چې زمونږ ژبه يواځې په کلو بانډو کښې کرونده ګرو پورې محدوده پاتې شوه.

ما د کيفۍ د کړکۍ نه وړومبے د پراګ د باچايانو لوئې قلعې ته او بيا د هغې په سترګو کښې د تاريخ د جبر په ضد د هغې د اولس د مبارزې نه راولاړ شوي باور ته وکتل. دا جينۍ چې عمر ئې د ۲۲ کالو نه ډېر نۀ وۀ، د خپل تاريخ او کلتور نه دومره خبر وه لکه څومره چې د نوي دور د سائنسي، سياسي او اقتصادي حالاتو نه خبر وه.

ما وئيل، دا خو ډېر لوے تاوان وۀ خو بيا په دومره خرابو حالاتو کښې مو ژبه ژوندۍ څنګه کړه؟

وئيل ئې، داسې وشوه چې يو خو په کلو بانډو کښې خلقو خپل متلونه، اولسي سندرې او لرغوني تورې راټول کړل، خوندې ئې کړل او خپلو بچو ته ئې ورياد

کړل ـــ بله دا چې بیا زمونږ ځینې لیکوالانو دغه متلونه، قیصې او سندرې
ولیکلې. په کال ۱۸۰۹م کښې د "یوزیف ډوبروېسکي" (Josef Dobrovsky) په
نوم یو لیکوال د چیک ژبې ګرامر ولیکلو. د کال ۱۸۳۴م او کال ۱۸۳۹م په مینځ
کښې یو بل ژبپوهان "یوزیف ینګمین" (Josef Jungmann) په پینځو جلدونو
کښې د چیک او جرمن ژبې ډکشنري ولیکله او ځینې سائنسي توري او
اصطلاحات ئې جوړ کړل چې بیا وړاندې ئې سائنسي څېړنې ته لاره هواره کړه.
دغه شان څۀ موده وړاندې د فن او هنر په مېدان کښې تحریکونه پېل شول
او چیک ژبه چې په کلو کښې راژوندۍ شوه او رو رو ښارونو ته راوغزېده او یو
ځل بیا ژوندۍ شوه. نن دا په ټول هېواد کښې وئیلې کېږي، لیکلې کېږي او هره
ورځ د نړۍ د مهمو کتابونو ترجمې پکښې کېږي. نن دا د فلم او تهېټر ژبه ده،
د سکول د نصاب ژبه ده او د اقتصاد ژبه ده.

مخکښې د دې نه چې ما بله پوښتنه ترې نه کړې وه، هغه رامخکښې شوه، وئیل
ئې چې تاسو څومره خلق یئ؟

ما وئیل، مودې وشوې زمونږ خو چا سر شمېرنه نۀ ده کړې خو د اندازې تر
مخه په ټوله نړۍ کښې اویا ملیونه خلق خو به یو.

وئیل ئې، اویا ملیونه خلق خو ډېر زیات دي. ستاسو ژبه خو به ډېره پر مختللې
وي؟ ما وئیل، بخښنه غواړم خو زمونږ ډېر خلق په خپله ژبه لیک لوست نۀ
شي کولے او زمونږ د بره طبقې خلقو ته پرې ځان بد ښکاري.

وئیل ئې، وطن مو شته؟ ما وئیل، شته مو خو خپل واک اختیار نۀ لرو.

هغه چې لکه زما دې خبرو د خپل تاریخ په تېرو وختونو کښې ورکه کړې وه، د
یوې اوږدې خاموشۍ نه وروستو ئې ووئیل، یو خبره درته وکړم؟ ما وئیل، څۀ
خبره؟ وئیل ئې، د واک خبره. ما وئیل، وکړه خو مونږ خو د مورنیو ژبو خبره

کوله. وئیل ئې، هوا خو بغېر د ژبې د ژوندی کولو تاسو خپل واک نهٔ شئ ترلاسه کولے.

نن یو کال وروستو چې پهٔ خپل وطن کښې پهٔ لکهونو بې کوره شوو خلقو ته ګورم، پهٔ بېې چاودنو کښې د وژلے شوو پښتنو مړي شمارم، د نصاب پهٔ کتابونو کښې د نورو قامونو د اتلانو قیصې ګورم نو د مورنۍ ژبې او واک تر مینځ د اړیکې پهٔ اړه د دغه چیکۍ جینۍ خبره رایاده شي. خو پوهېږم نهٔ چې تاسو ته ئې څنګه روښانه کړم؟

د کلتورونو ترمينځ تړون او جرمني ته سفر

کال دوه زره اتم (۲۰۰۸) وو. د نومبر مياشت وه. مونږ پنځويشت ملګري د اسلام اباد د نړيوال هوائي ډګر نه دوبۍ ته او بيا د جرمني بون ښار ته لاړو. دا ټول خبرياالان، خبرنګاران او د پوهنتون استاذان وو او موخه ئې دا وه چې په بون کښې به د الماني غږ د سيورې لاندې د کلتورونو ترمينځ د کميونيکېشن يا رابطو په موضوع په يو تربيتي پروګرام کښې برخه اخلو او بيا به دغلته کېدونکے د ګنډهارا د لرغونو اثارو د يو نندارتون په اړه راپورونه ليکو.

مونږ چې بون ته ورسېدو نو ښه ډېره يخني وه. واورې پرتې وې. مونږ چې د ځان سره کوم کوټونه او سويټرې ورې وې، په هغو کښې مو هم د موسم يخوالے محسوسوو. يورپ هسې هم يخ دے خو بيا هم دغلته د موسمونو د تغير له کبله د خلقو د ژوند هلې ځلې هيڅ کله هم نه ودرېږي.

د الماني غږ انتظامي راله د ښار په مينځ کښې په يو هوټل کښې د اوسېدو انتظام کړے وو. ما لا په کمره کښې خپل سامان سم کړے نه وو چې چا دروازه وټکوله. چې دروازه مې پرانسته نو يو ځوان مې وليدو. خپله پېژندګلو ئې وکړه. ووئيل ئې چې جرمني کښې زمونږ د قيام په وخت به راسره ملګرے وي،

لار ښودنه به مو کوي او د دې ځای د کلتوري، ټولنيزو او اولسي قدرونو نه به مو خبرساتي. د هغهٔ سره پهٔ لاس کښې يو جانماز او د قران پاک نسخه هم وه. را ئې کړل او قبله ئې راته هم سمه کړه. هغهٔ دا هر څهٔ د دې لپاره کول چې کهٔ چرې زهٔ د خپلې عقيدې مطابق عبادت کول غواړم نو چې څهٔ ستونزه راته نهٔ وي. زهٔ اکثر ملګرو ته وايم چې کهٔ اروپا پرمختګ کړے دے نو لهٔ دې کبله ئې نهٔ دے کړے چې ګنې اروپا بربنډه ده يا د مُليانو د خبرې پهٔ روئ فحاشه ده ــــ اروپا د دوو جهاني جنګونو نه وروستو خپله ټولنه پهٔ مينه، امن او علم ودرولې ده. مذهب د هر چا ذاتي معامله ده خو د هېواد قانون به غريب هم مني او مالدار هم، مُلا به ئې هم مني او دوکاندار هم، د پارليمان غړے به ئې هم مني او د ټيکسي ډرائيور هم. اروپا پوهنتونونه او څېړنيز مرکزونه لري چرته چې د ژوند د بېلا بېلو اړخونو او انسانانو ته پهٔ وړپېښو ستونزو څېړنې کېږي. دا مونږ ته چې زمونږ پهٔ کلو ښارونو کښې د مذهبي ډلو مشران او مُليان د اروپا د بې لارې کېدو کومې قيصې کوي او څنګه سپکاوے ئې چې کوي، داسې هيڅ خبره نشته. اروپايانو ځان د وهمونو او د مُلا د فريبونو نه ازاد کړے دے. هغوي چې څهٔ هم کوي نو د علم، شعور او څېړنو پهٔ بنياد ئې کوي.

بله ورځ مو د المان غږ يا "ډوچې ويلې" (Deutsche Welle) پهٔ لوے تعمير کښې تربيتي پروګرام پېل شو. کوم استاذان چې به راتلل، ټول د خپلو خپلو شعبو يا څانګو ماهرين وو. عالمان وو او د زده کړو طريقه ئې دا وه چې زمونږ سره د بېلا بېلو کلتورونو ترمينځ د رابطې پهٔ موضوع بحثونه وکړي او زمونږ پهٔ ذهنونو کښې نوې نوې پوښتنې راولاړې کړي.

د دوي د علم دوستۍ د دې نه لوے ثبوت څهٔ کېدے شي چې کوم لرغوني اثار زمونږ پهٔ خپل وطن کښې د بېلا بېلو خطرو سره مخ دي، د هغې خپلو اولسونو

ته د ښودلو لپاره يې د اروپا د ببلا بېلو هېوادونو په مرکزونو کښې د ننداارتون بندوبست کړے وه. هره ورځ به د پوهنتونونو استاذان، زده کوونکي، ځېرن کاران، د هنر مينه وال او عام اولس د دغې ننداارتون ليدو له راتلل او د چارسدې، مردان او سوات نه راوړے شوو د ګندهارا آرټ دغه نايابه نمونو ته به ګوته په خوله کېدل.

زمونږ سره په بحثونو کښې به اکثر دا پوښتنه مخې ته راتله چې په کومه خاوره دومره ستر او سپېڅلو هنرونو وده کړې ده. هلته د تشدد او وينو تويول څه معنا لرې؟ دا يو ډېر لوے بحث وه ځکه چې مونږ د قام په حېث د تاريخ په اوږدو کښې د خپل کلتور او تهذيب د سرچينو نه راپرېکړے شوي يو او بيا په پاکستان کښې چې کله د فوځي ډکټېټر ضياء الحق اسلام راغے نو زمونږ د تاريخ، کلتور او تولنيزو قدرونو په ضد دغه کمپائن نور هم ګړندے شو او په مونږ د مذهب يو داسې شکل راوتپلے شو چې د هغې بنياد په جنګ جګړو او نفرت ولاړ وه. د رياست له خوا زمونږ د ښه مسلمانانو جوړولو لپاره او مونږ په افغانستان کښې د روس خلاف د جنګولو لپاره په زرګونو مدرسې جوړې شوې، چرته چې د جهاديانو په تيارولو لاس پورې شو. موسيقي، هنر، شاعري، روايتي اتڼونه، مجسمه سازي او ټول ښکلي هنرونه لويه ګناه وګرځولے شول او دغه شان خبره دې ته راورسېده چې نن په دغه خاوره د خلقو سرونه پرې کېږي، سکولونه په بمونو الوځولے کېږي او تر دې چې د عبادت په ځايونو کښې هم بمي چاودنې کېږي.

زمونږ د دې تربيتي پروګرام مشر "ډاکټر هيلمټ اوسانګ"(Helmut Osang) وه چې خپله هم خبريال وه او د پرمختيايي زده کړو په موضوع يې د ډاکټرېټ ډګري لرله. يو ډېر لوے عالم او خنده رويه سړے وه. زمونږ د

وطن په ستونزو او مونږ ته په راپېښو چېلنجونو زمونږ نه ښه خبر وه. هغه به هر چا ته غوږ کېښودو او چې څه نوې خبره به ئې واورېده نو د ځان سره به ئې وليکله. زمونږ د وطن د پوهانو يوه ستونزه دا ده چې اوري کم او وائي ډېر. دوي وائي چې هم د دوي خبره سمه ده او ټوله دنيا دې هم بس دوي ته غوږ کېږدي.

بون د مغربي جرمني يو زوړ او تاريخي ښار دے چې د "راءن (Rhine River) درياب په غاړه اباد دے. دلته د جرمن د چانسلر او نورو لوړ پوړو چارواکو دفترونه، کاروباري مرکزونه او لوے لوے پوهنتونونه (upper echelons) دي. هم دلته پارليماني کونسل په کال نولس سوه نهه څلوېښتم (۱۹۴۹م) کښې د جرمن فيډرل ريپبلک دستور جوړ کړے او منظور کړے وه. د راءن درياب غاړه ډېر رومانوي ځاے دے چرته چې په رېستورانونو او د خوشحالۍ په نورو ځايونو کښې خلق راټولېږي او د دغه ځاے د ښکلا نه خوندونه اخلي.

ما چې به هر سحر د خپل هوټل د کړکۍ نه کتل نو په ډلو ډلو ماشومان به د سکول په بسونو، موټرو او پيادهٔ خپلو زده کړو له روان وو. د هغوي په مخ به د خپل قام په تاريخ وياړ او د مستقبل لپاره د هيلو رڼاګانې برقيدې. هغوي ديو ازاد او خپلواکه قام بچي وو او هيڅ وېره ئې نهٔ محسوسوله چې څنګ څوک به ئې په زور زياتي د خپلو زده کړو نه راوګرځوي. زهٔ چې دا ټکي ليکم نو په خيبر پښتونخوا اوقبائيلي سيمو کښې په زرګونو سکولونه وران پراتهٔ دي او په لکهونو ماشومان د زده کړو نه بې برخې کړے شوي دي.

په دې تربيتي پروګرام کښې زمونږ سره د اسلام اباد يوه جينۍ هم وه چې خاوند ئې په فوځ کښې مېجر وه. خبرياله هم نهٔ وه خو نهٔ پوهېږم چې د ګندهارا اُرټ په موضوع په دې پروګرام کښې چا څنګه او ولې ځاے کړې وه؟ وشوه داسې چې د کورس استاذ يوه ورځ پوښتنه وکړه چې هغوي د جرمني د

کومو نوموړو شخصیاتو په اړه معلومات لري او څوک ئې خوښېږي؟ دغې جینۍ تر تولو وړاندې ډېر په فخر ووئیل چې هغه د هټلر نه ډېره متاثره ده او دا چې په پاکستان کښې خلق هټلر ډېر خوښوي. د استاذ په مخ د مایوسۍ نخښې ښکاره شوې لکه چې په دې خبره بالکل نه وي خوشحاله شوے. د لږې خاموشۍ نه وروستو هغه ووئیل چې په جرمني کښې اکثریت خلق هټلر نه خوښوي او هغه څکه چې د هغه نوم د جنګ او نفرت سره تړلے دے ـــ د هغه د جنګي پالیسیو له کبله جرمنیان د جنګونو او مصیبتونو ښکار شوي وو، له دې کبله هغوي هټلر ته د یو اتل په سترګه نه ګوري. هغه وئیل چې جرمني ډېر لوے لوے پوهان، سائنسدانان، موسیقاران او هنرمندان زېږولي دي او که څوک د جرمني سره مینه کول غواړي او په جرمني ځان پوهول غواړي نو بايد چې دغه عالمان او هنرمندان وپېژني او د هغوي د لوے علمي کار نه ګټه پورته کړي.

په بون کښې د افغانستان او پښتونخوا نه راپه کډه شوي ډېر پښتانه هم ژوند کوي او دغلته د "پشتون سوشل ډیموکراټک ګوند" په نوم خپل یو ګوند هم لري. د دې ګوند د راجوړولو او قائم ساتلو لپاره خدائے بخښلي ډاکټر کبیر ستوري ډېر زیار باسلے دے. اوس هم د هغه بچي او په خاص توګه نصیر ستورے پښتنو ته په ورپېښو ستونزو غونډې راجوړوي او د پښتونخوا نه سیاستدانان او پوهان د بحثونو لپاره راغواړي.

په بون کښې یو ډېر سپېڅلے او په قام مئین پښتون هدایت بنګش دے چې ډېره موده وړاندې دلته راغلے او د خپل کور او اور خاوند دے. هغه زمونږ په راتلو ډېر خوشحاله شو او سره د ډاکټر شاهجهان خان او خبریالانو ملګرو عرفان اشرف او فخر کاکاخیل ئې زه یو ماښام خپل کور ته راوبللم. د هغه

مېرمن الماني ده خو په پښتو ژبه خبرې هم کولی شي او د پښتنو د دود دستور نه هم خبر ده. زمونږ ئې ډېر تود هرکلے وکړو، په پښتو کښې ئې راته سترې مه شې وکړل او ډېر خوندور خوراکونه ئې راله تيار کړي وو. زه د يو پښتون او يوې الماني ښځې تر مينځ د مينې او احترام دې رشتې او خپلولۍ ته ډېر خوشحاله شوم او په دې خبره نور هم باوري شوم چې که د کلتورونو تر مينځ د نفرت او تعصب په ځائے د مينې او امن د رشتو د پيآوړې کولو او په يو بل د پوهېدو لپاره کار وشي نو دا نړۍ د امن او مينې کور جوړېدے شي.

دا خاوره او دا خلق؟

دا خاوره د ګنډهارا ځانګو، د امن کور ـــ دا خلق د جنګ خوراک. دا خاوره د فطرت په رنګونو او خوندونو ښائسته ـــ دا خلق بې رنګه، بېخونده ـــ نهٔ ساز لري نهٔ سوز، نهٔ هنر شته نهٔ اتڼ. دا خاوره د لعلونو خزانه. دا خلق نهٔ مال لري نهٔ دانې، نهٔ نن لري او نهٔ سبا ـــ پهٔ کورهم مسافر، بهرهم مسافر ـــ د دهٔ نه ګېر چاپېره قامونه بدل شو، د ژوند لارې بدلې شوې خو دے بدل نهٔ شو، د دهٔ قسمت بدل نهٔ شو ـــ جمود نور څهٔ ته وائي؟ زوال نور څهٔ ته وائي؟

دا د شلمې پېړۍ د ورومبي نيمايي خبره ده. د دې خاورې يو باچا وهٔ چې دا خلق ئې پهٔ تيارو کښې نهٔ وو خوښ. د هغهٔ نوم امان الله خان وهٔ ـــ غازي امان الله خان! هغه د جنګ او ډپلوميسۍ د دواړو ميدانونو سپهٔ سالار وهٔ. هغه پهٔ اولس باچا نهٔ وهٔ، د اولس باچا وهٔ. د هغهٔ پهٔ باچاهۍ کښې افغانستان د يرغلګرو د جنګ مېدان نهٔ وهٔ، سوالګرې نهٔ وه، بفر ستيټ نهٔ وهٔ ـــ افغانستان خپلواکه وهٔ، ازاد وهٔ او د خپل تقدير پهٔ خپله مالک وهٔ.

هغهٔ پهٔ افغانستان کښې د تورې او ټوپک پهٔ ځاے د کتاب او قلم باچاهي غوښته. هغهٔ دغه خورو ورو قبيلو لهٔ د نوي ژوند يو دستور ورکړے وهٔ. هغهٔ وئيل چې ښځه انسان دے، حقونه لري، عزت لري، حرمت لري ـــ ښځه نوکره نهٔ ده، ښځه د کور شريکه مالکه ده. ښځه د نوي نسل مور او لارښوده ده، ملګرې ده، مينه ده، ښائست دے ـــ سپکه نهٔ ده، بې ننګه نهٔ ده، بې الهامه نهٔ ده.

د هغهٔ افغانستان پهٔ علم او شعور ولاړ وهٔ. د هغهٔ افغانستان د وهمونو جاله نهٔ وه. د هغهٔ افغانستان، "کوسموپولیټن"(Cosmpolitan) وهٔ، د نړۍ د پرمختللو هېوادونو سره څنګ پهٔ څنګ د تلو جوګه وهٔ. د هغهٔ افغانستان پهٔ رنګونو ښائسته وهٔ، پهٔ لوګو تور او پهٔ وینو سُور نهٔ وهٔ.

خو د هغهٔ افغانستان د چا خوښ نهٔ وهٔ. د هغهٔ پهٔ افغانستان کښې د جهالت خېر نهٔ وهٔ. د هغهٔ افغانستان د یرغلګرو د لارې دېوال وهٔ نو ځکه نړول ئې اړین وو.

د کال نولس سوه اته ویشتم (۱۹۲۸) خبره ده. باچا اروپا ته ځي، ملکه ثریا ورسره هم ملګرې ده. پهٔ اروپائي پلازمینو کښې ئې تود هرکلے کېږي. د باچایانو او ریاستونو د مشرانو سره ګوري. پهٔ هسک سر د خپلې خاورې استازیتوب کوي او د خپل اولس لپاره د پرمختیا نوې لارې او نوي فکرونه ګوري.

خو هغه چې د کومې خاورې د ننګ خبره کوي، پهٔ هغه خاوره څو مُلیان پهٔ هغهٔ د کفر او بې ننګۍ تورونه پورې کوي ـــ بغاوتونه را اوچتېږي او د غلو دیو لښکر د مشر، باچا سقاو پهٔ مشرۍ کښې اولس د خپل باچا پهٔ ضد راپاڅي او د افغانستان پهٔ ضد راپاڅي. د غلو باچا د افغانستان باچا کېږي او د اولس باچا لهٔ خپلې خاورې پهٔ تېښته مجبوره کېږي.

نوے باچا تر ټولو وړومبے کار دا کوي چې لهٔ ارګه ټول ګلونه رېبي او سبزیانې پرې کري. د جینکو ښوونځي تړي، د پرمختیا ټولې منصوبې رانغاړي او د اسلام د خدمتګار پهٔ شکل کښې پهٔ دغه خاوره د نفرت، تنګ نظرۍ او وهمونو تخم کري. دا خاوره هم لکه چې د کربلا خاوره وي!

بیا به د کلي په مینځ نه ځم

نن زهٔ د یو عجیبه احساس سره مخ یم ـــ دا احساس ما د ملاکنډ په غرونو پورېباسي او د سوات ښائستونو ته مې رسوي. زهٔ په لاره پروت د پښتنو د یوسفزو قبیلې د مشر ملک احمد په مزار راتېر شم. د بریکوټ نه بره د شنکردار ستوپې مخې ته ودرېږم. زهٔ د دغو کنډرونو او قبرونو په ړنګو شوو دېوالونو او خړو خاورو کښې د خپل ورک شوي تاریخ نخښې نخښانې ګورم. زما نه ورک شوي خپل ځان پسې ګرځم!

زهٔ په جهان اباد کښې د بدها (بودا) وران شوي مخ ته وګورم او ما ته پکښې یو خوا د ملالې وران کړے شوے مخ ښکاره شي او بل خوا د خپلې ټولنې... د ریاست پاکستان!

د سټراټیژیکي ګټو جنګ یواځې تعمیرونه نهٔ دي ړنګ کړي، ښوونځي ئې نهٔ دي برباد کړي، زمونږ د اولسي او کلتوري ژوند بنیادونه ئې هم نړولي دي. یواځې خلق ئې نهٔ دي وژلي، د اولس جذبه او وجدان ئې هم وژلےدے. په سوات کښې د "Awakening" په نوم د یوې مدني ټولنې څېړنه وائي چې په دغه سیمه کښې په ۲۰۱۵م کال کښې یو شپېتهٔ (۶۱) ښځې د غېرت په نوم وژلې شوې دي، یو سل یو شپېتهٔ(۱۶۱) ښځو، جینکو د ځان د وژلو هڅه کړې ده، پینځه (۵) ښځې تېښتولې شوې دي، په دوه سوه پنځوس(۲۵۰) ښځو په کور کښې د خاوند او خپلو خپلوانو لهٔ خوا تشدد شوے دے او د پنځلسو(۱۵) ښځو عزتونو ته لاس اچولے شوے دے. په سوړه کښې د ښځو ورکول او یا د ښځو خرڅول ځان له یوه بله دردوونکې موضوع ده.

په سوات کښې د ښځو د حقونو فعالين وائي چې جنګ د خلقو اقتصاد ټوټې ټوټې کړے دے او ډېر غريب خلق مجبوره دي چې خپلې خوېندې لوڼه د پېسو په بدل کښې د نورو صوبو داسې خلقو له ورکړي چې نه ئې پېژني. وروستو يا خو دا ښځې ورکې شي او يا ډېر د بې وسۍ او زړه چاودون سره ژوند تېروي.

پرون دا ښځه مُلا د مذهب په نوم د زده کړو نه بې برخې کړه، په کور کښې ئې زنداني کړه او د جنت په نوم ئې ترې کالي پټري واخستل او نن د خپل ورور، پلار او خاوند د لاسه په وينو ولمبېده. دا ښځه چې د پښتون د ننګ او غېرت شمله وه، نن د روايت په دار وځنګېده! دا ښځه څومره بدبخته ده؟ کېدے شي چې وران شوي کورونه او کودرونه سر دوباره بيا جوړ شي خو فکر نه کوم چې وران شوي زړونه به بيا جوړ شي.

بيا به د کلي په مينځ نه ځم
د ماموني د سر قاتل به پکښې وينه

زهٔ درباري تاريخ دان نهٔ يم!

پهٔ يو داسې وطن کښې چرته چې د رياست ټول نظام د دروغو او بې ايمانۍ پهٔ بنيادونو ولاړ وي، هلته رښتياوئيل ايمان غواړي، پوهه غواړي او د زمرې هومره غټ زړهٔ غواړي. داسې خاوره چرته چې د نصاب کتابونه د فرضي قيصو او د ميډيا چينلونه لهٔ دروغو او "سينسېشنلزم"(Sensationalism) نه ډک دي، هلته د تاريخ سمولو خبره ګناه نهٔ ده نو نور څهٔ دي؟

ډاکټر سيد وقار علي شاه د اسلام اباد پهٔ قائداعظم پوهنتون کښې د تاريخ استاذ دے، د دولسو کتابونو ليکوال دے، ريښتينے دے خو پښتون دے.

ډاکټر صاحب د کډوالو پاڼې نهٔ دي وئيلې بلکې د اکسفورډ غوندې پوهنتون نه ئې د ډاکټرۍ سند ترلاسه کړے دے.

هر څو کهٔ پهٔ پاکستان کښې څوک د رياست لهٔ خوا د جوړو شوو لارو نه اخوا دېخوا نهٔ شي تلے، بيا هم نهٔ د تاريخ مخه څوک نيولے شي او نهٔ د رښتياو. د هندوکش پهٔ لمنو کښې کهٔ يو خوا مست سپرلي راتوکېږي نو بل خوا ازاد او خپلواکه فکرونه هم رازرغونېږي. کېدے شي چې پهٔ يونان کښې يوائې يو سقراط د خپلو رښتياو د سزا پهٔ توګه د زهرو پيياله پهٔ سر راړولې وي خو د پښتنو د خاورې انسانان خو څهٔ کوې چې هغه کاڼي بوټي ئې هم شهيدان دي.

وخته! دلته چې قدم ږدې نو پهٔ خيال ږده!

د دې خاورې کاڼي بوټي شهيدان دي

د تيارې او رڼا جنګ ازلي دے. رښتيا او دروغ پهٔ يو ځاے نهٔ شي پاتې کېدے

او اور او اوبهٔ دېو بل دښمنان دي.

د نومبر د میاشتې پهٔ پنځوېشتمه نېټه ډاکټر سيد وقار علي شاه پهٔ شاه عبدالطيف يونيورسټۍ خېرپور کښې يو کانفرنس ته د خپلې مقالې "آئډېنټيټي کرائسيز اينډ د ريسپانسبيليټي آف پاکستاني هسټارينز" (Identity Crisis and the Responsibility of Pakistani Historians) اورولو پهٔ وخت پهٔ دې خبره زور ورکړو چې بايد پاکستاني تاريخ دانان خلق لهٔ تيارو راوباسي او رښتيا ورته ووائي.

نومورې زياته کړه چې بايد د باچاخان، عبدالصمدخان اڅکزي، جي ايم سيد، ولي خان، بګهت سنګهه او پير صبغت الله شاه غوندې روشنفکره او د ازادۍ د تحريک نومړو قهرمانانو ژوند ته هم کتنه وشي، کارپرې وشي او نوي کهول ته وښودلے شي. ډاکټر صاحب د کانفرنس ګډونوال پهٔ دې خبره پوهه کول غوښتل چې د تاريخ لار سمول غواړي.

څو ورځې پس د پوهنتون وائس چانسلر ډاکټر جاويد اشرف ډاکټر سيد وقار علي شاه خپل دفتر ته راوغوښتو او ورته ئې ووئيل چې ما ورته وئيلي دي چې پهٔ دغه کانفرنس کښې د پاکستان پهٔ ضد خبرې شوې دي. ډاکټر صاحب وائي ــ ما ورته وخاندل ځکه چې پهٔ دغه کانفرنس کښې وائس چانسلر پهٔ خپله هم ناست وهٔ.

تر ملاقات درې ورځې وروستو وائس چانسلر ډاکټر صاحب ته فون وکړو، وارخطا وهٔ، وئيل ئې، پهٔ ما ډېر فشار دے. هغهٔ وئيلے نهٔ شو خو غوښتل ئې چې ډاکټر وقارعلي شاه د پوهنتون تر سيورې لاندې د څېړنيزې ادارې د ډائريکټرۍ چوکۍ پرېږدي.

ډاکټر صاحب هم پوهه شو او ديو ببا که او ريښتيني پښتون پهٔ حېث ئې ورته

درې خبرې وکړې.

ورومبۍ دا چې يواځې ډائريکټرې غواړې که نه د تاريخ د څانګې د چېئرمېن چوکۍ درته هم پرېږدم؟ ــ دوېمه دا چې زهٔ درباري تاريخ دان نهٔ يم چې د دربار لهٔ خوارا جوړ شوے تاريخ به ښايم ــ او درېمه دا، هغه وخت تېر شوے دے چې مونږ به لهٔ خلقو لهٔ پاکستان سره د وفادارۍ سرټيفيکېټ غواړو.

د نومبر پهٔ درېمه نېټه وائس چانسلر ډاکټر جاويد اشرف د يو ليک لهٔ لارې ډاکټر وقار علي شاه د تاريخ او کلتور د څېړنيزې قامي ادارې لهٔ مشرۍ څخه لرې کړو او دلرې کولو څهٔ وجه ئې هم ونهٔ ښودله.

د مارګلې پهٔ لمن کښې زوريو ځل بيا لمغرې وکړې. دروغو بيا يرغل وکړو خو د هندوکش پهٔ سر ديو لېونې دا خبره ټولو تلليو او راتلونکو وختونو واورېده چې: "زهٔ درباري تاريخ دان نهٔ يم!"

یار مې هندو زهٔ مسلمان یم!

دا پهٔ سوات کښې د ډمې د یوې ښځې قیصه ده. دا ایلم د غرهٔ پهٔ سر د واورو سپین څادر خور وهٔ او د مرغزار پهٔ لمن کښې د راتلونکي سپرلي امیدونه پهٔ خوارهٔ خوب اوده وو. مونږ د یو ملګري پهٔ حجره کښې راټول شوي وو. خوا ته د بدهایانو د وختو د یو کنډر پهٔ غېږه کښې د دې خاورې د امن او مینې یادونو غزونې کولې.

خو د سوات د سیند نه هغه خوا ته یو مُلا د شریعت پهٔ نوم، د مذهب پهٔ نوم، د انصاف پهٔ نوم د خلقو د ژوند سره لوبې کولې. وېره وه، دهشت وهٔ، بې یقیني وه او خاموشي وه او یوه بې لارې کوونکې خاموشي!

بیا هم د ژوند لاره څوک نیولې شي؟ سندره څوک څنګه د پښو لاندې کولې شي؟ ظلم کهٔ هر څومره ډېر شي، هیلې او امیدونه نهٔ شي وژلے. تیارې چې هر څومره ډېرې شي، د سبا ستر که خو به راخېژي.

د حجرې پهٔ دغه کوټه کښې د سوز او ساز محفل، د ښائست سندرې، د ژوند خبرې او د رنګ قیصې پهٔ خپل جوبن کښې وې. دا هر څهٔ کهٔ یو خوا د زړهٔ د زخمونو دارو وو نو بل خوا د روان ظلم پهٔ ضد یو احتجاج هم وهٔ ـــ یو ښائسته او زورور احتجاج!

په دې محفل کښې د عقیدو په بنیاد، د رنګ او نسل په بنیاد، د تور او سپین په بنیاد څهٔ فرق نهٔ وهٔ، امتیاز نهٔ وهٔ. ټول ملګري وو. ټول د یوې خاورې بچي وو او ټول یو مار خوړلي وو!

نیمه شپه شوه. د رباب ساز او د منګي اٰهنګ هره ساه خمار او هره تپه مېخانه کړه. د زړهٔ په جهان کښې یو اودهٔ شوي، خاموشه شوي او ډوبل شوي احساس بیا سر راپورته کړو.

یار مې هندو زهٔ مسلمان یم
د یار لپاره درمسال جارو کومه

په دې خاوره د بېلا بېلو عقیدو د منونکو تر مینځ د مینې د تړون د دې نه ښهٔ اظهار نور نهٔ شي کېدے. دوه عقیدې، دوه مذهبونه خو تاریخ یو دے، سماج یو دے او د مینې او انسانیت رشته یوه ده. لږه شېبه تېره نهٔ وه چې زمونږ د یو هندو ملګري سترګې لهٔ اوښکو ډکې شوې.

لکه دې ټپې (لنډۍ) هغه د تاریخ په لارو کښې د نوو پوښتنو سره مخ کړے وهٔ ــــ لکه د هغهٔ چې په خپلو غوږونو باور نهٔ راتلو. هغه غصه هم وهٔ او بې وسه هم ــــ وئیل ئې چې هره دوېمه درېمه ورځ ورته ټېلیفونونه راځي، بد رد ورته وئیلے کېږي او د مرګ ګواښونه ورته کېږي.

مونږ د هغهٔ د دم دلاسه کولو هڅه کوله خو د هغهٔ اوښکې داسې راروانې وې چې کهٔ چرې نن راتوې نهٔ شي نو د هغهٔ سینه به وشلېږي. هغهٔ بار بار هم دا خبره کوله چې زهٔ د دې نه انکار نهٔ کوم چې زهٔ هندو یم خو ولې زهٔ پښتون نهٔ یم؟ وئیل ئې د مرګه نهٔ وېرېږم، زړهٔ مې چاودے څکه دے چې اوس مې خلق د مور پلار او د کورنۍ د نورو غړو سپکاوے کوي. هغهٔ وار په وار هم دا خبره کوله چې کهٔ چرې ستاسو سره داسې وشي نو تاسو به ئې معاف کړئ؟

مونږ ټول د ریاست د تورې بلا په پنجه کښې وو. ټول زورېدلي وو خو په مونږ ټولو کښې هغه دېر بې وسه وهٔ ـــ ځکه چې هغه په خپله خاوره په خپل کور کښې نهٔ چا پښتون ګڼلو او نهٔ انسان.

د جنازې بازو مې نیسه
چرته به ما پهٔ راستۍ خولهٔ در کړې وینه

زهٔ یو انقلاب پیژنم

پهٔ پاکستان کښې د پخواني فوځي ډیکټېټر ایوب خان لهٔ صنعتي انقلابه راواخله تر پخواني وزیر اعظم ذوالفقار علي بهټو د سوشلسټ انقلابه پورې او د پخواني جنرال او صدر ضیاء الحق، د جماعت اسلامي او د نورو مذهبي ګوندونو پهٔ ګډون د مسلم لیګ تر شنهٔ انقلابه پورې، بیا د عوامي نېشنل ګوند او نورو کیڼ لاسو سیاسي ګوندونو تر سرهٔ انقلابه بېلابېل نومونه مخې ته راغلي دي، سیاسي ماحول ئې تود کړے دے، بحثونه ئې راپارولي دي خو ډېر زر تېر شوے دے او بیا لهٔ خلقو هېر شوے دے.

انقلاب بدلون راولي خو دغه انقلابونو هاغه بدلونونه نهٔ دي راوستي د کومو چې ئې دعوې کړې وې.

د پښتنو پهٔ نوي تاریخ کښې د یو پښتون پهٔ توګه زهٔ پهٔ دې خاوره یو انقلاب پیژنم او هغه د مې پهٔ لسیزه ۱۹۳۰ کښې د باچاخان د خدائي خدمتګار تحریک هاغه انقلاب وهٔ چې د هندوکش پهٔ لمنو کښې ډېره پښتانهٔ ئې رابېدار کړل، سیاسي شعور ئې ورکړو او د عدم تشدد لهٔ لارې ئې قامي مبارزې ته تیار کړل.

پهٔ پاکستان کښې د ترهګرۍ د بې شمېره پېښو او پهٔ فوځي عملیاتو کښې د لکهونو خلقو لهٔ بې کوره کېدو وروستو اوس یو ځل بیا د ازادۍ او انقلاب خبرې کېږي، بحثونه کېږي او د میډیا پهٔ چېنلونو داسې سیاسي مشرانو ته څلورویشت ساعته وخت ورکولے کېږي چې د طاقت سرچشمه ئې اولس نهٔ بلکې د هېواد مقتدره حلقې دي.

زهٔ د ازادۍ پهٔ نامه د یو سیاسي ګوند پهٔ لاریون څنګه باور کولے شم، کله چې

په قبائیلي سیمو کښې په لکھونو پښتانهٔقبائیل د ازادۍ د اتهٔ شپیته کلونو باوجود تر یو غېر انساني نظام لاندې ژوند کوي او لهٔ بنیادي انساني حقونو بې برخې دي.ایا په دې ازادي مارچ کښې د دغه قبیلو د ازادۍ او هغوي ته د هېواد د یو شان اوسېدونکو د حقونو خبره یا وعده شوې ده؟ زهٔ خو دا فکر کوم چې ازادي مارچ باید د لاهور په ځائے لهٔ خېبره یا وزیرستانه پېل شوے وے، ځکه چې د دغه سیمې اولس تر اوسه د پولیټیکل ایجنټ او وسله والو ډلو غلامان دي.

خو ورو مېے راځو چې د انقلاب خبره وکړو چې انقلاب څهٔ ته وائي؟

د یو تاریخي عمل په توګه، انقلاب د هاغه غورځنګ په معنا دے چې اکثر لهٔ تشدده ډک وي او موخه ئې د یو زوړ نظام لهٔ مینځه وړل او د ټولنې په اساسي ادارو کښې یو پیاوړے بدلون راوستل وي.

په اتلسمه عیسوي پېړۍ کښې د فرانسیسي انقلاب په نتیجه کښې بادشاه لهٔ تخته راګزار کړے شو او لهٔ اول سرنه راواخله تر بېخه د ټولنو د بیا جوړولو هڅې وشوې. هم لهٔ هغهٔ وخته انقلاب او تشدد لهٔ یو بل سره تړلي ټکي وګرځېدل.

په شلمه عیسوي پېړۍ کښې ډېرو انقلابي مشرانو په ۱۹۱۷م کال کښې د "ولادیمیر ایلیچ لېنن" (Vladimir Ilyich Lenin) په مشرۍ لهٔ روسي انقلابه الهام واخستو. لېنن د "کارل مارکس" (Karl Marx) په دې خبره باور لرلو چې د ټولنې لپاره د تاریخ د یو پړاو نه بل پړاو ته د تګ لپاره انقلاب اړین او مهم دے. په شلمه عیسوي صدۍ کښې د ایران انقلاب، د انقلابونو یو بله نمونه ده. په ایران کښې د ۱۹۷۹م د انقلاب موخه دا وه چې ګنې ټولنه ډېره سیکولر شوې ده او غربي قدرونه او کلتور وربانده غالب شوے دے نو دې

لپاره د اسلامي اصولو او قدرونو په رڼا کښې د ټولنې بيا جوړښت پکار دے. زۀ به په دې لاريونونو کښې هله د شريکېدو فکر کوم چې ماته په دې خاوره کښې د خپل ژوند او قامي وجود په اړه د ځينو پوښتنو جواب ترلاسه شي.

شلمه پېړۍ د انقلابونو په سبب امتياز لري چې د نړۍ په ډېرو سيمو او هېوادونو کښې د اروپائي او امريکائي امپراتورۍ (Imperialistic) په ضد خلقو پاڅون وکړو او انقلابونه ئې راوستل.

انقلاب په ټولنه، کلتور، اقتصاد او سياسي ادارو کښې لوے بدلونونه راولي.

د برصغير د ازادۍ ستر مبارز خان عبدالغفار خان "باچا خان" وينا دہ چې انقلاب عالمان او پوهان غواړي. د انقلاب لپاره وړومبۍ خبره هم دغه دہ چې د ټولنې د سياسي، کلتوري او اقتصادي ستونزو پوهه ترلاسه کړلې شي، د هغې تجزيه وشي او بيا د دغه ستونزو په نتيجه کښې د اولس غوښتنې اوسياسي فکر منظم کړے شي او د سياسي انقلابي نظريې يا مفکورې په شکل کښې اولس ته په داسې انداز وړاندې کړې شي چې د ټولنې ټول غړي ورباندې پوهه شي. د دغه پوهې په نتيجه کښې وړومبے د انقلاب هدف ټاکلے کېږي او د دغه هدف په لور دا مزل پېل کېږي. انقلاب د عمل نوم دے، تشې خبرې او ادعاوې ټولنه نۀ شي بدلولے. د انقلاب لپاره دا خبره هم مهمه دہ چې اولس په کومو حالاتو کښې ژوند کوي نو چې لۀ هاغه حالاتو بېزاره وي، غصه وي او د سياسي عقيدې په بنياد دغه حالات بدلول غواړي.

د پښتنو په نوي تاريخ کښې د يو پښتون په توګه زۀ په دې خاوره يو انقلاب پېژنم او هغۀ د ۱۹۳۰ مې په لسيزه کښې د باچاخان د خدائي خدمتګار تحريک هاغه انقلاب وۀ چې د هندوکش په لمنو کښې ډېره پښتانۀ ئې رابېدار کړل، سياسي شعور ئې ورته ورکړو او د عدم تشدد لۀ لارې ئې قامي مبارزې ته تيار

کړل.

دغې انقلاب دا وطن د پیرنګي له غلامۍ ازاد کړو او دا اوس چې پښتانه څه نه څه سیاسي شعور لري، هم د دغه انقلاب برکت دے. دغه انقلاب ولې خپل منطقي انجام ته ونه رسېد، دغه یو جلا بحث دے.

زه به په دې لاریونونو کښې هله د شریکېدو فکر کوم چې ما ته په دې خاوره کښې د خپل ژوند او قامي وجود په اړه د ځینو پوښتنو جواب تر لاسه شي.

په موجوده حالاتو کښې له سواته تر وزیرستانه په زرګونو تعلیمي ادارې په بمونو الوځولې شوې دي. ایا په دې انقلاب یا ازادۍ لاریون کښې د دغه تعلیمي ادارو د بیا جوړولو څه پلان وړاندې کړے شوے دے؟

د ترهګرۍ په پېښو او بریدونو کښې په زرګونو پښتانه ماشومان، سړي او ښځې وژل شوي دي. په دې لاریونونو کښې د دغه شهیدانو د وینې څه ذکر شته او په دغه پېښو کښې ککړو خلقو ته د سزا ورکولو څه اصول ټاکلے شوي دي او که نه؟

د پښتنو وطن له قدرتي وسیلو ډک دے، د ځنګلونو او ښائستونو وطن دے، د رنګونو وطن دے او د سیندونو وطن دے ـــ بیا هم زه بې روزګاره یم، بې وطنه یم او بې وزله یم. زما د وطن په وسیلو زما د واک غوښتنې ته ولې د غدارۍ په نظر کتلے کېږي؟

ایا د ازادۍ او انقلاب لاریونونو مشران ما ته د دې پوښتنو ځواب را کولے شي؟ چې کله ما ته ځواب تر لاسه شي او دغه ځوابونه د ادعاو او نعرو په ځائے په رښتیاو او غېر جانبدارۍ ولاړ وي نو بیا به زه هم اسلام اباد ته لاریون ته ځم.

اسټېبلشمنټ څهٔ شے دے؟

هر رياست د خپلو ستراتيژيکي، سياسي او اقتصادي ګټو لپاره خپل نظام او خلق لري، خپله نظريه او فکر لري، خپلې لښکرې لري، خپله تپه او چاربېته لري چې پهٔ وار وار ئې د ميډيا پهٔ بېلا بېلو چېنلونو، د نصاب پهٔ کتابونو، د ځينې سياسي، وسله والو او مذهبي ډلو پهٔ قوي کولو او د ځينو پهٔ وهلو اولس ته رسوي. دې ټول نظام ته پهٔ ساده ژبه کښې اسټېبلشمنټ (Establishment) وائي.

پهٔ پاکستان کښې دا اسټېبلشمنټ د پنجاب د سياستدانانو، جرنېلانو، مُلّيانو، صنعت کارانو، خبريالانو او سرکاري او غېرسرکاري ادارو د مشرانو پهٔ لاس کښې دے. هسې خو دوي وائي چې مونږ ټول مسلمانان يو او ټول پاکستانيان يو خو پهٔ عمل کښې هره هاغه پاليسي، نظريه او د پرمختيا هره هاغه منصوبه چې د پنجاب پهٔ ګټه نهٔ وي نو هاغه پاليسي ارومرو د پاکستان پهٔ ګټه هم نهٔ ده. پنجاب او پاکستان د يو هېواد دوه نومونه دي. د اردو او انګليسۍ د نومورې ليکوال محمد حنيف پهٔ خبره پهٔ پاکستان کښې پنجاب يوا ځينۍ بېلتون پاله صوبه يا ايالت دے.

د دې ځلنده مثالونه مونږ د پاکستان پهٔ سياسي او اولسي تاريخ کښې کتلے شو. باچاخان، عبدالصمد خان اڅکزے، اکبر بګټي، ذوالفقار علي بهټو او نور يو شمېر ملت پاله مشران ځکه غداران دي چې د پنجاب د ګټو پهٔ ځائے ئې د خپل اولس او خپل قام د ګټو خبره کوله. پهٔ دوي کښې بيا پهٔ ځينو د کفر فتوې هم لګولې شوې دي.

د درېو صوبو منتخبې اسمبلۍ وائي کالاباغ ډېم زمونږ پهٔ ګټه نهٔ دے او خاوره او

اولس را ته بربادوي خو يکي يو اځې پنجاب وائي چې کالاباغ ډېم سره به د پنجاب زمکې خروب شي او پاکستان به وده وکړي نو ځوک چې کالاباغ ډېم نۀ مني، هغه د هېواد دښمن دے.

دغه شان د پاکستان او چين ترمينځ د اقتصادي راهدارۍ په معامله د پاکستان استېبلشمنټ هغه سياسي او اولسي مشران غداران ګرځولي دي کوم چې د دغه کوريډور په اقتصادي ګټو کښې د خپل اولس لپاره برخه غواړي.

د نصاب په کتابونو کښې زۀ ميرتقي مير، مرزا غالب، مومن خان مومن او ډاکټر محمداقبال خو وايم او څۀ اعتراض پرې نۀ لرم ځکه چې دغه د اردو ژبې لوے ليکوالان او شاعران وو خو کۀ زۀ وايم چې زۀ خوشحال خان خټک، رحمان بابا، غني خان او حمزه شينواري هم وټيل غواړم نو بيا ما ته د تنګ نظره او پرشاتللي پښتون نوم را کولے کېږي او د خېبرپښتونخوا د وزيراعلیٰ پرويز خټک غوندې سياسي مشران چې د پښتنو په ووټونو د اقتدار څوکۍ ته رسي، په دې وېنا هم نۀ شرمېږي چې پښتو واورم نو په مازغو کښې مې درز کېږي.

د دې استېبلشمنټ د کار انداز ډېر عجيبه او خونړے دے. دا د شطرنج لوبه ده. دا استېبلشمنټ زورور په دې دے چې ټوپک هم لري او فتویٰ هم. د دې دېو او لوئې بلا يو سر نۀ دے، بلها سرونه ئې دي. کله د فوځي ډکټېټر په شکل کښې، کله د طالب کماندانانو په شکل کښې، کله د سياسي مسيحا په شکل کښې، کله د ديني مدرسو او سکولونو په شکل کښې، کله د لښکرو په شکل کښې، کله د کلتوري غونډو په شکل کښې او کله د ميډيا په چينلونو د نومړو خبريالانو په وسيله خبره هم د دې استېبلشمنټ چلېږي.

قیصه، فکر او منزل یو دے، انداز او اواز ئې بدلېږي.

دا اسټېبلشمنټ سندره هم وائي او مرثیه هم، کور درته هم ورانوي او اوښکې درسره هم تویوي، اتڼې درسره هم کوي او پهٔ حجره درته بمبارې هم کوي، جرګه هم درسره کوي او جنګوي دې هم.

سبا کهٔ چرې زمونږ پهٔ ملتپاله مشرانو کښې څوک د اسټېبلشمنټ نوم واخلي او د وطن د هر مصیبت ذمه واره ئې ګڼي نو بایذ پهٔ مونږ کښې ترې څوک دا پوښتنه وکړي چې مشره! دا خو سمه ده چې دا بلا ډېره زوروره او مکاره ده خو پهٔ دې سیمه کښې د دې اسټېبلشمنټ د هرې تجربې فاتحین هر وخت نور خلق ولې دي او غازیان او شهیدان یواځې مونږه ولې یو؟

زما نصیب کښې جانان نشته

کهٔ د تعویذ پهٔ ځائے مُلا پهٔ غاړه کړمه

د برلين دېوال ته کورم!

د شلمې پېړۍ په وروستۍ نيمايي کښې د سرمايه دارانه نظام او اشتراکيت ترمينځ بې باوري او د يو بل نه وېره دومره حد ته ورسېدله چې د قامونو ترمينځ ئې د بيلتون دېوالونه ودرېدل. دا دېوالونه تل حکومتونو ودرولي او اولسونو نړولي دي.

په نولس سوه يو شپېتم (۱۹۶۱م) کال کښې د مشرقي جرمني حکومت، جرمن ډيموکراټيک ريپبليک (German Democratic Republic) د يو دېوال په ودرولو پېل وکړو. دې دېوال ته د برلين دېوال هم وئيلے کېږي چې يو وطن، يوه خاوره ئې په دوو هېوادونو "مشرقي" او "مغربي" جرمني ووېشله. قام يو وه، تاريخ او کلتور ئې يو وه، مزل ئې يو وه خو د هغه وخت سياستوالانو او جنګ سالارانو ئې د منزل په لاره کښې دغه د شکو او ګټو جوړ دېوال ودرولو.

د برلين دېوال خواته پاخه پاخه بورجونه جوړ وو چرته چې به د څار لپاره وسله په لاس ځواکونه ولاړ وو او چې څوک به ئې ليدل چې له دېواله اخوا اوړي نو ډزې به ئې ورباندې کولې. د مشرقي جرمني حکومت به وئيل چې فاشسټ (Fascist) هېوادونه د هغو اولس د سوشسلټ انقلاب نه بې لارې کول غواړي. له دې کبله ئې د خپل اولس د خوندي کولو لپاره دغه دېوال جوړ کړے دے

خو د دېوال تر ودرولو وړاندې خواوشا پېنځه دېرش لکهه خلق د مشرقي جرمني لهٔ بندېزونو نه تښتېدلي وو او د مغربي يورپ پهٔ هېوادونو کښې ئې پناه اخستې وه. حکومت وئيل چې دېوال به د خلقو د تښتېدو مخه ونيسي.

د برلين دېوال تر نولس سوه نهه اتيايم (۱۹۸۹) کاله د جبر او ظلم د يو يادګار پهٔ توګه ولاړ وهٔ خو بيا ئې هم د خلقو لهٔ يو بل سره د يو ځائے کېدو لاره ونهٔ نيوله. پهٔ دې اتهٔ ويشت کاله کښې پېنځه زره جرمنيانو د مرګ تر دې مزې د اغښتلو هڅه وکړه چې پکښې دوه سوه کسان وژلے شوي وو.

پهٔ نولس سوه نهه اتيايم (۱۹۸۹م) کال کښې پهٔ پولېنډ او هنګري کښې د سوشلسټ واکمنو د کمزوري کېدو او پهٔ مشرقي جرمني دننه د ځينو سياسي بدلونونو لهٔ کبله دواړو خواو ته ناقراري ډېره شوه او د اولسونو لهٔ يو بل سره د يو ځائے کېدو غوښتنې زور ونيولو. حکومت مجبوره شو چې مغربي جرمني ته د خلقو پهٔ تګ راتګ بندېزونه اوچت کړي او بيا پهٔ راروانو درې کلونو کښې د دغه دېوال تشه نخښه پاتې شوه.

پهٔ ډلو ډلو خلق به پهٔ دېوال وروختل او لهٔ هغه بل لورې به ورته د مغربي جرمني خلقو تود هرکلے کولو. پنجره ماته شوه، د ازادۍ او يووالي شعارونه پورته شول. تقسيم کړے شوے جدا کړے شوے قام بيا يو شو. د برلين دېوال چې خلق ئې د اوسپنې د دېوال پهٔ نامه هم پېژني، رانسکور شو، راونړېدو. وېرې اوې باورۍ ماتې وخوړه ــــ مينې او قامولۍ وګټله.

جرمن چانسلر "جيرهارډ شرودر" (Gerhard Schroder) يو ځل وئيلي وو،

'دا دېوال نهٔ واشنګټن مات کړے دے او نهٔ ماسکو. دا کار د مشرقي جرمني ننګيالي اولس کړے دے.'

اوس هم پهٔ نړۍ کښې د ژبې، مذهب، رنګ او نسل لهٔ ډېرو دېوالونو سره د

سيمتو، کاڼو او ازغنو تارونو نه جوړو دېوالونو اولسونه وېشلي دي خو تاريخ دا وائي چې دېوالونه تل رياستونو ودرولي او اولسونو نړولي دي. نن چې پهٔ تورخم د يو قام پهٔ وګړو د تګ راتګ بندېزونه لګولے کېږي، دروازې ورته تړلې کېږي نو زهٔ وايم چې د هاغه زړونو لپاره دېوالونه څوک جوړولے شي چې د يو ي اوږدې او خونړۍ جدائۍ وروستو يو بل ته ورغاړه وتو ته او يو لهٔ بله ځارېدو ته لېواله دي.

کهٔ د چړو پهٔ څوکو لاړ وي

زما پهٔ خپل لالي باور دے رابه شينه

زهٔ د جانان سترګو پهٔ کور کښې تالا کړمه

قامي مبارزه پوهه غواړي، يو والے غواړي، د منزل پېژندنه او تعين او د مزل همت غواړي. پهٔ مهذبه نړۍ کښې د يو اولس د حقونو جنګ سياسي ګوندونه کوي. د قام ستونزې پېژندل، د هغې د هوارۍ لارې پېدا کول او قامي لاربشودنه قامي سياسي ګوندونه کوي. پهٔ دې کښې شک نشته چې لهٔ "پير روښانه" تر "باچاخانه" پورې پښتنو خپله قامي مبارزه مخ پهٔ وړاندې وړې ده او پهٔ دغه لاره کښې لهٔ ډېرو قيامتونو راتېر شوي دي ــــ خو څنګه چې وخت بدلېږي، دغه شان ورسره د قامونو غوښتنې بدلېږي، د ژوند راز او انداز بدلېږي، فکر او فلسفه بدلېږي. ځکه چې د هر رنځ خپله خپله درملنه وي، د هر سپرلي خپل رنګ وي، هر درد د خپل اظهار لپاره نوې ژبه غواړي، نوې ساندهٔ غواړي.

نن د هندوکش دواړه اړخ ته دا قام د خپل وجود او تاريخ پهٔ حواله د نوو پوښتنو سره مخ دے او نوي ځوابونه غواړي. مونږه ترهګرۍ پهٔ اور کښې ودرولي يو. غربت ځپلي يو او ناپوهۍ د وهمونو او تيارو پهٔ جال کښې ګېر کړي يو ــــ خو پهٔ دې ټول عمل کښې زمونږ قامي تحريک کوم ځاے ولاړ دے؟

پهٔ دې سيمه کښې چين غزېدل غواړي، کاروبار کول غواړي او د خپل صنعتي وجود د بقا لپاره زمونږ د خاورې خام مال هم غواړي او نړۍ ته د رسېدو لپاره پهٔ مونږ لاره هم غواړي. دوي ورته د پاکستان او چين اقتصادي کوريډور وائي چې د چين حکومت ورله پهٔ پېل کښې شپږ څلوېښت بليونه ډالره هم منظور

کړې دي.

چين زمونږ د ترور زوے نۀ دے. د هر رياست پۀ شان خپلې ګټې تاوان ته ګوري. دا پۀ خپل ځاے سمه خبره ده خو د يو عام پښتون پۀ ذهن کښې خو دا سوال راوچتېدے شي کنه چې تراوسه زۀ د ترهګرۍ او بې وسۍ د دې دومره زړۀ چاودون نه راتېر شوم او نن پۀ دې سيمه کښې د پرمختيا منصوبې جوړېږي نو زما برخه پکښې شته او کۀ نۀ؟

جغرافيه وائي چې ستا برخه پکښې شته ځکه چې کۀ دا لاره پۀ ډېره اسماعيل خان، وزيرستان او ژوب تېره شي او ګوادر ته ورسي نو لنډه هم ده او خرڅ پرې هم لږ راځي ـــ خو د لاهور د تخت باچا وائي چې دا لاره او د دې سره تړلې ټول سهولتونه به وړومبي لۀ پنجابه تېرېږي. کۀ وروستو پکښې ستا څۀ رسي او کۀ نۀ ـــ ستا خپل قسمت!

دا زمونږ د ملتپاله سياسي مشرانو کار وۀ چې پۀ دې منصوبه کښې ئې د خپل اولس حقونه غوښتلي وے او يو ښکاره دريځ ئې خپل کړے وے، خو پۀ دې اړه تر ټولو منظم او سائنټيفيک کار پښتونخوا اولسي تحريک وکړو.

د دسمبر پۀ ډېرشمه نېټه د پاکستان وزيراعظم پۀ ژوب کښې د يو سړک پرانسته وکړه او دغې لۀ ئې د اقتصادي راهدارۍ د مغربي روټ نوم ورکړو. پۀ دغه موقعه د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشر محمودخان اڅکزے، د جميعت علماء اسلام مشر مولانا فضل الرحمان او د عوامي نېشنل ګوند سټر سکټر ميا افتخارحسېن هم موجود وو. تقريرونه وشو، لاسونه وپړقېدل او خبره ختمه شوه.

خو د پښتونخوا اولسي تحريک مشران وائي چې دا د کورېډور مغربي برخه نۀ وه بلکې يو ساده سړک دے او هغه پروژې ورپۀ کښې شاملې نۀ دي کومې چې د

پنجاب لپاره منظورې شوې دي.

راوي وائي چې په دغه موقع مولانا فضل الرحمان او ميا افتخارحسين وزيراعظم ته په دغه سرک خپل تحفظات ښودلي وو خو قدرمن محمود خان اڅکزي هيڅ هم نه وو وئيلي. دغه شان څه موده وړاندې چې د عوامي نېشنل ګوند مشر اسفنديار ولي خان د وزيراعظم سره په اسلام اباد کښې وليدل نو په مونږ ئې دا زېرے وکړو چې فکر مه کوئ، تاسو چې څنګه غواړئ دا کار به هم هاغه شان سر ته رسي. خو اوس چې مونږ ګورو نو قيصه داسې روانه ده څنګه چې ئې مرکزي حکومت وړاندې بوتلل غواړي. د فلم مرکزي کردارونه نور دي. کېدے شي مونږ ورپکښې د ايکسټرا کردارونو په توګه د پلاټ د ډکولو لپاره ځائے کړے شوي يو.

دا هم معلومه نه ده چې د نوازشريف سره کومه داسې ګيډرسينګۍ ده چې هاغه مشران ئې هم غلي کړي دي چې اوازونه ئې تر چترال او تر بولانه رسېدل.

په دې ټول عمل کښې تر ټولو خونړوره خبره دا ده چې د تحريک انصاف غوندې سياسي ګوند چې تل ئې د پاکستان د فوځي اسټېبلشمنټ بيانيه په مخ بوتلې ده، تر ټولو زورور دريځ خپل کړے دے او د صوبې وزيراعلیٰ پرويز خټک په پېښور کښې د سياسي ګوندونو غونډې ته وئيلي دي چې مرکزي حکومت د صوبې غوښتنې نه مني نو د تهاکوټ نه تر حويليان پورې د يو سل شل کلوميټره خاورې د کارولو اجازه به ورله ورنه کړي.

دا به اوس کتلے شي چې دا تشه نعره ده او که نه د تحريک انصاف حکومت به پرې عمل هم وکړي خو تر ټولو لويه ذمه واري د هاغه سياسي ګوندونو ده چې په دې خاوره دعویٰ هم لري اود اولس مشري هم ورسره ده. يو وخت وه چې په دې خاوره به دا اوازونه پورته کېدل، "لر او بر يو افغان"، "يو قدم يو اواز"،

"انقلاب انقلاب"، "خپله خاوره خپل اختيار"، "نهٔ منو د بل اختيار"، "اے ولي! تهٔ يو اشاره وکړه، بيا ئې تماشه وکړه"، "لهٔ بولانه تر چتراله پښتون يو کړه محمود خانه!"، خو څو شېبې لا تېرې نهٔ وې چې دغه ټول شعارونه، دغه ټول اوازونه ورک شو، تشې انګازې ئې پاتې شوې او لږ ساعت وروستو هېڅ هم پاتې نهٔ شو ـــ اوازونه هم نهٔ، او انګازې هم نهٔ.

خلق صحرا کښې تالا کېږي

زهٔ د جانان سترګو پهٔ کور کښې تالا کړمه

۳ جنوري ۲۰۱٦م . ټانک

پښتونخوا کنسنټرېشن کېمپ

ما وئیل زۀ به د شپږ کلن شاه زیب اپریدي قیصه لیکم ـــ

هو! هاغه شاه زیب چې څو ورځې وړاندې د جمرود په بازار کښې سره د خپل مور پلار ووژلے شو ـــ

هو! هاغه شاه زیب، د چا په سترګو کښې چې د ژوند خوبونه لا مړګه پس هم غړېدل ـــ

هو! هاغه شاه زیب چې د ریاستونو تر مینځ د ستراتیژیکي ګټو لپاره په جوړه شوې قتل ګاه کښې قتل شو، تېر شو او هېر شو.

خو کومه کومه قیصه به کوو؟ لا ټکره را واخله تر باړې، لا پېښوره تر کابله، لا چتراله تر کوټې او کندهاره، لا سواته تر وزیرستانه. د پېښور لا سکوله تر باچاخان پوهنتونه ـــ دا ټوله سیمه یو لوے کنسنټرېشن کېمپ دے. دلته هره شپه قیامت او هره ساه یو لوے ناورین دے.

وخته دلته چې قدم ږدې نو په خیال ږده
د دې خاورې کاڼي بوټي شهیدان دي

زۀ په پاکستان کښې په دې اته شپېته کاله نۀ چا ښۀ مسلمان ومنلم او نۀ یو ښۀ پاکستانے ـــ زۀ څوک یم؟

ما د اسلام په نوم اوچت شوي هر بېرغ ته سلام کړے دے او تش سلام مې نۀ دے کړے، قرباني مې هم ورکړې ده. خونن چې په جرګو، حجرو، تعلیمي ادارو، ښارونو، کلو، جوماتونو او د لوبو په مېدانونو کښې زۀ هم د اسلام په نوم وژلے کېږم نو زۀ د دې خپل اسلام پوښتنه د چانه وکړم؟

د چا اسلام ومنم؟

زهٔ د پاکستان لپاره د خپل ورور په مرګ غلے شوے یم. ما د خپل حق لپاره خبره هم نهٔ ده کړې خو د پاکستان لپاره ما هر وخت د وینو نذرانې ورکړې دي. زما خپل کور لوټ شوے دے خو بیا مې هم د پاکستاني ریاست د بادارانو د کورونو حفاظت کړے دے.

خو هم د دغه پاکستان په قامي میډیا او ریاستي بیانیه کښې زهٔ یو بې وقوف او غدار پټهان یم.

زهٔ کوم هیواد ته خپل هیواد ووایم؟

کومې خاورې ته خپله خاوره ووایم؟

زهٔ خو په دې وطن کښې په ژوندوني مړے یم!

په باچاخان پوهنتون برید یواځې په یوه تعلیمي اداره برید نهٔ دے، د پښتنو په تاریخي سیاسي مبارزه برید دے، د هغوي په روښانه سباوون برید دے، د هغوي په فکر او فلسفه برید دے او د هغوي په عزت برید دے.

د ریاست اولین ذمه واري خو د خپلو وګړو د ځان، مال او عزت حفاظت وي او کله چې ریاست د دغه لوړو انساني قدرونو په خوندي کولو کښې یو ځل نهٔ زر ځله پاتې راشي نو باید د ریاست غړي دې په خپل ځان ووېرېږي.

خو اُیا په تشه وېره به کار وشي؟

خیبر پښتونخوا حکومت پښتو ته شا کړې ده!

په نصاب کښې پښتو د یو لازمي مضمون په توګه د خیبر پښتونخوا حکومت په لومړیتوبونو کښې نهٔ دے او د صوبې په ډېرو پوهنتونو کښې د پښتو څانګه نشته.

په خیبر پښتونخوا کښې د سکولونو او کالجونو استاذان او د پښتو ژبې

لیکوالان وائي چې د تحریک انصاف او جماعت اسلامي په مشرۍ کښې د صوبې موجوده حکومت د پښتو ژبې د درس او تدریس په اړه څهٔ واضحه پالیسي نهٔ لري او په تعلیمي ادارو کښې ئې د پښتو زده کړه لهٔ پامه غورځولې ده.

په ملاکنډ کښې د یو کالج استاذ اقبال شاکر وائي، په نصاب کښې پښتو د یو لازمي مضمون په حېث د حکومت په لومړیتوبونو کښې نهٔ دے او د صوبې په ډېرو پوهنتونو کښې د پښتو څانګه نشته.

په مردان کښې ولي خان یو ډېر معیاري پوهنتون دے. هلته د پښتو څانګه نشته. په سوات پوهنتون کښې د پښتو څانګه نشته او دغه شان په شهید بېنظیر بهټو په نوم پوهنتون کښې هم د پښتو څانګه نشته. په کالجونو کښې چې کومې سیټې د پښتو دي، هلته په کالجونو کښې په تېر وخت کښې د استاذانو یوه یوه چوکۍ وه خو نهٔ د عوامي نېشنل ګوند تېر حکومت او نهٔ موجوده حکومت د کالجونو لپاره دغه چوکۍ منظورې کړې دي.

په خیبر پښتونخوا اسمبلۍ کښې د عوامي نېشنل ګوند پارلیماني مشر او د تعلیم پخوانے وزیر سردار حسین بابک وائي، د مخکني حکومت چې په صوبه کښې د پښتو او نورو سیمئیزو ژبو د ودې لپاره کار پېل کړے وهٔ، موجوده حکومت په مخ نهٔ دے وړے. مونږ د مورنیو ژبو لپاره د ریجنل لېنګویجیز اتهارټي (Regional Language Authority) په نوم یوه اداره جوړه کړې وه او پښتو مو په تعلیمي ادارو کښې یو لازمي مضمون ګرځولے وهٔ. چې کله د تحریک انصاف حکومت راغے نو لهٔ بده مرغه هاغه پالیسي ئې لهٔ مینځه یوړه او د پښتو په ځائے ئې د انګلیسۍ د زده کړو ورکولو پرېکړه وکړه. اوس دوی اخته دي کله لهٔ یوه ټولګي او کله لهٔ بل ټولګي د پښتو مضمون لرې کوي. مونږ به د اسمبلۍ دننه او بهر د دې پالیسۍ یوازې مخالفت نهٔ کوو بلکې مزاحمت به ئې

کوو، ځکه چې مورنۍ ژبه له مینځه وړل د تاریخ تر ټولو لویه غداري ده.

د تحریک انصاف له خوا د صوبې د اسمبلۍ غړي او د اطلاعاتو پخوانۍ وزیر شوکت یوسفزے وائي، پوهنتونونه له مالي ستونزو سره مخامخ دي نو له دې کبله هاغه مضمونونو ته ډېر پام کېږي چې د زده کوونکو او پوهنتونونو دواړو لپاره ګټه لري. دا مهال په لوړو زده کړو کښې ډېرې ستونزې دي او پوهنتونونه مالي بحران لري. نو له دې کبله چې هغوي (حکومت) یو نوے کېمپس پرانیزي نو دا هڅه کوي چې هغه مضمون پکښې شامل کړي چې خلق ئې وئیل غواړي او پوهنتون پرې هم روان وي. په ښکته کچه په سکولونو کښې پښتو د مضمون په توګه اوس هم ښودلې کېږي.

د ملګرو ملتونو د چارټر تر مخه په مورنۍ ژبه زده کړې د هر زده کوونکي بنیادي حق دے. خو تر اوسه په خیبر پښتونخوا اوقبائیلي سیمو کښې د مورنیو ژبو د زده کړو او د دې لپاره ځۀ اوږد مهاله پالیسي مخې ته نۀ ده راغلې.

د پښتنې ژوند او مرګ؟

د نولسمې پېړۍ جرمن شاعر هينريخ هين (Heinrich Heine) وائي،
"په کوم ځائے کښې چې څوک کتاب سوزولو ته پرېښودے شي، يو وخت به داسې راشي چې بيا به دغه خلق د انسانانو لۀ سوزولو هم ډډه ونۀ کړي."

د دې کتابونو پۀ ضد کمپائن د نازي جرمنيانو د زده کوونکو اتحادي غړو پېل کړے وۀ چې دغه شان لۀ خپلو پوهنتونونو او کتابتونونو هاغه کتابونه لرې کړي چې پۀ اصل کښې جرمن نۀ بللے کېدل. دوي د جرمني پۀ نولس ښارونو وګرځېدل او تر پنځويشت زرو ډېر کتابونه ئې داور لمبو ته وسپارل.

پۀ ديارلسمه پېړۍ کښې د چنګېز خان ځواکونو او بيا پۀ هغۀ پسې نورو منګولو جرنيلانو پۀ بغداد کښې کتابتونونو ته اور ورته کړو او د کتابونو پۀ شکل کښې د عباسي خلافت د علم او پوهې خزانې ئې وسوزولې او سائنسدانان او پوهان ئې ورته ووژل. تاريخ ليکونکي وائي چې د دجله درياب ته دومره ډېر کتابونه غورځولے شوي وو چې اوبۀ ئې د کتابونو سياهۍ توري کړې وې.

د کتابونو د سوزولو پۀ شا کلتوري، مذهبي يا علمي لاملونه وي. خو نتيجه ئې راروانو نسلونو ته د ناپوهۍ، بې وزلۍ او بربادۍ پۀ شکل کښې مخې ته راځي. دا يوازې سياهي او کاغذ ايرې کول نۀ دي بلکې د يو فکر سپکاوے دے. پۀ بغداد کښې د کتابتونونو د سوزولو اثر تر پېړوپېړو پاتې شو. تر کلونو کلونو بغداد يو

غېرا باد ښار وځ او د رنګ او رڼا کاروانونه پکښې په ټپه ودرېدلي وو.

په افغانستان کښې څه باندې تېرو درې لسيزو جنګ جګړو يواځې زمونږ کورونه وران نه کړل، يواځې خلق ئې ونه وژل بلکې زمونږ علمي، تاريخي او کلتوري اثاثې پکښې هم وسوزېدې. نتېجه ئې دا شوه چې د مينې او انساني ښکېړې کلتور د جنګ او تشدد په کلتور بدل شو. مونږ اوس خپلې ځهرې هم نه پېژنو.

په ۲۰۰۳م کال کښې د سوات دَرې په مينګوره ښار کښې يو ډېر تکړه ډاکټر عبدالوهاب په خپل کلينک کښې ډېر په بېدردۍ سره ووژلے شو. ګناه ئې دا وه چې د پښتنو په سيمه کښې ئې په ځينو جنسي ناروغيو کتاب ليکلے وځ او دا ځينې خلقو ته منظوره نه وه چې په دغه رنځونو خبره وشي او د درملنې لارې چارې ئې راوويستې شي. اوس هم دغه وطن دے چې د هنرمندې شباڼې مړے پکښې د سوات په ګرين چوک کښې وغورځولے شو او خوږ ژبې سندرغاړه غزاله جاويد د پېښور په کوڅو کښې د رسم او رواج په دار وځړولې شوه.

بيا دا هم نه ده چې د علم او کتاب په ضد کمپائن به په دغه ځاے ودرېږي. دا رو رو فکرونه نور تاريک کړي، د تپوس کولو او د تجسس جذبې مړې کړي، د ښائست رنګونه د بارودو په لوګو تور کړي او بيا سندره هم ساه ور کړي.

نن څوک دا تپوس نه شي کولے چې د محسودو نومور ے سندرغاړے کمال محسود په اسلام اباد کښې چا ووژلو او که نه رښتيا په خپل کور کښې د اور لګېدو له کبله مړ شو؟ هېڅوک دا نه وائي چې د اسلاميه کالج پوهنتون وائس چانسلر اجمل خان ولې وتښتولے شو؟ هېڅوک دا نه وائي چې دا په قبائيلي سيمو او خېبر پښتونخوا کښې په زرګونو سکولونه وسېزلے شول نو زمونږ د نوي کهول سبا به څنګه وي؟

ناشناس څهٔ شو؟ شاه ولي چرته دے؟ قمر ګله څهٔ شوه؟ اوس هم د افغانستان او پښتونخوا د ليکوالانو، استاذانو، سندرغاړو او هنرمندانو د وژنې لړۍ دوام لري او نور ګڼ هنرمندان او اولس پالي خبرياالان پهٔ خپل وطن پرېښودو مجبوره شول. دا يواځې د ظلم او تشدد پېښې نهٔ دي. دا د دې قام د تاريخ، فکر او ژوند د فلسفې مرګ دے.

د غني عبادت ــــ مینه!

لهٔ پېرېو راهسې کله یو جنګ او کله بل جنګ ـــ مودې وشوې چې د هندوکش د غرونو پهٔ سرونو کله اورونه بلېږي او کله دردونه ـــ خو د فطرت د مهربانۍ لاره څوک نیولے شي؟ د ژوند لاره څوک تړلے شي؟ د دغه غرونو پهٔ لمن کښې تل ګلونه ټوکېدلي دي. دلته پهٔ هر کاڼي، هره لاره او پهٔ هر ګودر کښې د احساس او رنګ سپرلے تل تاند او تپاند پاتې شوے دے.

دلته د سیندونو پهٔ غاړه د رنګ او نور قیصې شوې دي ـــ دلته پهٔ حجرو کښې ارمانونه او سازونه غاړه پهٔ غاړه شوي دي ـــ دلته بدهٔا د ژوند راز موندلے دے ـــ دلته پیر روښان، خوشحال خان، حمید ماشوخېل او رحمان بابا د ژوند د لازواله ښائستونو سندرې لیکلي او ویلي دي ـــ دلته باچاخان د عدم تشدد او امن پهٔ نوم د نړۍ تر ټولو لوے سیاسي او اصلاحي غورځنګ را اوچت کړے دے. هم د دې خاورې نه د مېوند د ملالۍ د ننګ چغه او د سوات د ملالۍ د رڼا پیغام د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلے دے.

دلته خو د غرهٔ د شپونکي شپېلۍ هم د ژوند د ښائستونو خبره کړې ده. دلته خو د هرې تېږې پهٔ سینه کښې د تاریخ او سماج د جبر داستانونه پټ دي. دلته خو پهٔ ماتو شوو منګو کښې هم خلق د ګلونو کر کوي.

دلته د تاریخي پښکلاوتي پهٔ غېږه کښې یو لېوني فلسفي د تاریخ پهٔ ورکو شوو کتابونو او د ټلو ټولو کاروانونو پهٔ مزلونو کښې د خپل قام د ورک شوي منزل

درک موندلے دے. دلته غني خان د انساني ژوند په اړه هغه پوښتنې راوچتې کړې دي، کومې چې د خپلې ریښتینولۍ او "اوریجینیلیټي"(Originality) په حواله د نړۍ د سترو پوهانو او منورینو د فکر سره پر تله کېدے شي.

غني خان د خداے، انسان او کائنات په مشاهده او مطالعه کښې د نُور او رڼا په هاغه جهانونو گرځېدلے دے، چرته چې رب جانان دے او د جانان سره د عقیدت او مینې د اظهار لپاره د کوم رهبار یا استاذي حاجت نشته. غني خان مونږ ته هاغه مخونه ښکاره کوي کوم چې دعویٰ د خداے د مینې کوي او کارونه ئې لهٔ ظلم او وحشته ډک دي.

د مُلا عبادت کسب، پاڅېدل او کېښناستل
د حلوا پهٔ ارمانونو، تل الله الله کول
د مُلا مینه عجبه، پهٔ پېتۍ مئینېدل
او د حورو لمغړو ته، د خرچو کو هنېدل
د صوفي عبادت وېر دے، سوزېدل او ژړېدل
د رحمان رحیم د نوم نه، رپېدل او وېرېدل
د صوفي مینه عجبه، د زړهٔ کل مراوے کول
بېکنار دریاب د حسن، پهٔ کوزه کښې بندول
د زاهد عبادت چر دے، سوال منت زاري کول
پهٔ جنت او دې دنیا کښې، د فائدې سودا کول
د زاهد مینه عجبه، پهٔ خپل ځان مئینېدل
دریا سېي جوته کړي، دلربا له ورکول
د غني عبادت مینه، ځان جانان کښې ورکول
د مئینو سترگو شرنگ ته، گډېدل او خندېدل

د غني مينه عجبه، تول بېلات، هيڅ نهٔ ګټل

دا خپل ځان او جهان دواړه، يو خمار کښې ورکول

هاغه مُلا جان چې پهٔ دې خاوره د وهم، تيارو او وېرې تخم کري، د دې خاورې ازلي دښمن وهٔ خو چا پېژندو ځکه نهٔ چې هغهٔ لهٔ ځانه د تقدس يوه داسې نوراني دائره راښکلې وه چې د هغې نه بهر پښه اړول پهٔ سُور دوزخ کښې قدم ايښودل وو. هاغه مُلا جان لکه د خپل زړهٔ د تيارو د دې اولس پهٔ ذهنونو او زړونو کښې د تيارو کورونه جوړ کري وو .هاغه مُلاجان وظيفه خو د دې غريب اولس خوړه خو ولې ملګرتيا ئې د سامراج او ير غلګرو سره وه.

غني خان د خپل ځان او خالق ترمينځ د دغه مُلا وجود او وسيله نهٔ منله، ځکه چې د غني خان پهٔ نزد مُلا د انساني پرمختګ، خوشحالۍ او بشردوستۍ پهٔ لاره کښې يو لوے دېوال دے. دغه مُلا د وهم او وېرې علامت وهٔ او د انسان د نجات او خوشحالۍ لاره د وهم او وېرې نهٔ، بلکې د اميد، مينې او يقين لاره ده.

لېونيه! ايمان څهٔ دے؟ مُلا! دا دے پوخ ګمان

ديو خوب پهٔ زړهٔ ليدهٔ دي، د وصلونو د جانان

لېونيه! حوره څهٔ ده؟ مُلا! سپينه لوګۍ ده

يوه کرښه د شفق ده، د خندا بربوړۍ ده

لېونيه! اچې نمونځ څهٔ دے؟ مُلا! خاورې ښکلول دي

د جانان کوڅې ته تلل دي، د اميد ارمان کېدل دي

لېونيه! سجده څهٔ ده؟ مُلا! ځان خاورې کول دي

د مستۍ د ګلو هار، د يار پښو کښې اچول دي

غني خان پهٔ وړومبي ځل د نرۍ د پرمختللو تهذيبونو او تولنو فکر پهٔ خپله لمن کښې لکه د ګلونو راټول کړو او د پښتنو راروانو نسلونو ته ئې پهٔ لاره کښې

وشيندل. هغهٔ غوښتل چې دا قام هم د خپلې ماضۍ د مزار منجورتيا پرېږدي او د رڼا د هاغه منزل پهٔ لور ګامونه واخلي چرته چې ټولنه پهٔ مينه او پوهه ولاړه وي، چرته چې د انسان قدر د هغهٔ پهٔ زيار او کار وي او باچائي د بشريت وي.

د مارچ شپاړسمه ۲۰۱۶م. ټانک

چې چرته ځې نو ماته وايه!

نن سبا په خیبر پښتونخوا کښې حکومت د سکولونو له نظامه پښتو ژبه وباسي او تګلاره به دا وي چې ماشومان به په انګریزۍ ژبه کښې زده کړې کوي. د حکومت وزیران صاحبان وائي چې هر څه په انګلیسي ژبه دي نو پښتو زده کولو ته اړتیا نشته.

په اروپا کښې په دې شپږ کاله کښې د خپلې ژبې د اهمیت په حواله، د کتاب په حواله، د علم په حواله او د سائنس په مېدان کښې د څېړنو په حواله زه په یوه خبره رسېدلے یم او هغه دا ده چې مورنۍ ژبه د پرمختیا په لاره کښې خنډ نه دے ـــ په مورنیو ژبو کښې له زده کړو پورته پرمخ تلل هېڅ امکان نه لري.

چیک جمهوریت د مینځنۍ اروپا یو وړوکے هېواد دے. څه باندې لس ملیونه خلق پکښې ژوند کوي خو د دې جمهوریت په تعلیمي ادارو، څېړنیزو مرکزونو او سائنسي لیبارټریو کښې ټول کتابونه د دې قام په مورنۍ ژبه کښې دي. زه ګورم چې دا لس ملیونه خلق تر پنځوس ملیونه پښتنو ډېر ښه ژوند تیروي او د خپل تاریخ، کلتور او سباوون په اړه د کومې سرګردانۍ یا کنفیوژن ښکار نه دي.

هره ورځ د نړۍ د سترو لیکوالانو، سائنس پوهانو، عالمانو او څېړونکو کتابونه، مقالې او څېړنې له نورو ژبو چیک ژبې ته ژباړلے کېږي او خپرېږي. د نورو اروپائي قامونو په شان دا خلق په کور او بهر دواړو کښې کتاب ګوري. کله کله په بحثونو کښې راته دا اندازه هم وشي چې زمونږ په اقتصادي، سیاسي او امنیتي ستونزو دوي تر مونږ هم ډېر ښه پوهېږي.

مونږ چې بچي سکولونو ته لېږو نو د هغوي استاذان راته وخت په وخت دا تېنګار کوي چې په کور کښې له ماشومانو سره په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړو ځکه چې د ماشوم په نفسياتي او جذباتي وده او د هغه د صلاحيتونو په ښائسته کولو کښې مورنۍ ژبه يو مهم ځائے لري. بې ژبې خلق خو نيمګړي وي. دا نه چې زمونږ بچي نورې ژبې نه زده کوي يا علوم نه زده کوي. دلته چې هر ماشوم زده کړې پوره کوي نو د انګليسۍ سره سره په فرانسوي، جرمن او سپېنش ژبو هم خبرې کولې شي.

مورنۍ ژبه يواځې د اظهار وسيله نه ده بلکې دا د يو قام د تاريخ، کلتور، او د هغوي د ټولنيز مزل په اړه د معلوماتو، يادونو او ارمانونو سرچينه وي.

نن سبا په خيبر پښتونخوا کښې حکومت د سکولونو له نظامه پښتو ژبه وباسي او تکلاره دا ده چې ماشومان به په انګريزۍ کښې زده کړې کوي. د حکومت وزيران صاحبان وائي، هرڅه په انګليسۍ ژبه دي نو پښتو زده کولو ته اړتيا نشته.

د پښتنو په سيمه کښې پښتو ژبه تل د خپلو او پردو دواړو د لاسه ځپلې شوې ده او د دوزخ ژبه ګرځولې شوې ده. نه د پښتنو په ټولنيز ژوند کښې د عزت ځائے لري او نه د رياست په پاليسيو کښې. پښتو ژبه خو يا شاعرانو ژوندۍ ساتلې ده او يا سندرغاړو.

نه يم خبر چې يواځې د انګريزۍ ژبې سره به زمونږ دا نوے نسل د پرمختيا په لور لاړ شي که نه؟ ـــ خو که ژبه ترې ورکه شوه نو يوه خبره څرګنده ده چې خپل ځان به ترې ارو مرو ورک کړي.

تاريخ دا وائي چې له ژبې پورته د قامي وجود پاتې کېدل ممکن نه دي.

چې چرته ځي نو ماته وايه

چې په پردو کوڅو کښې نه ګرم تپوسونه

پاکستان امریکه "بهائي بهائي"

پهٔ تاریخي لحاظ سره پاکستان د نړۍ یو لهٔ هغو هېوادونو څخه دے چې لهٔ امریکې څخه ئې تر ټولو ډېرې مالي مرستې اخستي دي.

د بریطانیا "ګارډین"(Guardian) ورځپاڼې پهٔ یو راپور کښې وئیلي چې د ۱۹۴۸م کال راهسې امریکا پاکستان ته لهٔ ډېرشو بلیونو ډالرو څخه ډېر مالي امداد ورکړے دے. د دې ډېرشو بلیونو ډالرو نیمه برخه د فوځ جېب ته تلې ده.

پهٔ ۲۰۰۱م کال کښې د ترهګرۍ پهٔ ضد لهٔ جګړې سره د فوځ غوا یو ځل بیا لنګه شوه او د هغو خلقو د نوغي ویستو لپاره یا د هغه فصل رېبلو لپاره چې دوي د نولس سوه اتیایمې لسیزه کښې کرلے وهٔ، پاکستان ته ۲۱ بلیونه ډالره ورکړے شول. پهٔ ۲۰۱۰م او ۲۰۱۱م کښې د اوباما د انتظامیې د لاندې پاکستان د ۴۰۵ بلیونو ډالره نور امداد هم ترلاسه کړو.

کهٔ افغان جهاد وهٔ او کهٔ د ترهګرۍ پهٔ ضد جګړه ــــ ځاني، مالي، کلتوري او ټولنیز زیان پکښې هاغه اولس ته رسېدلے دے چې د هندوکش پهٔ لمنه ژوند کوي او پښتانهٔ دي.

پوښتنه دا ده چې آیا دا مالي مرستې، وسلې او د پرمختیا پروژې د دې لپاره وې چې په هېواد کښې د امنیت وضع ښه شي؟ د سخت دریزو وسله والو او ترهګرو مخه ونیولې شي او د خلقو د ژوند معیار ښهٔ شي؟ او کهٔ نه دا د دې لپاره وې چې د پښتنو د پرمختیا مخه ونیولې شي او هغوي بې کوره او بې اوره کړے شي؟

کهٔ دا د طالبانو او القاعده پهٔ ضد وې نو د وسله والو طالبانو نېټ ورک او د هغوي د ترهګرو بریدونو لړۍ اوس هم دوام لري. څو کاله وړاندې به پهٔ بېې چاودنو کښې پهٔ سلګونو کسان ووژلے شول او اوس پهٔ هدفي وژنو کښې هاغه خلق وژلے کېږي چې د امن او پرمختیا لپاره کار کوي او د القاعده مشر پهٔ ایبټ اباد کښې د فوځ د چاونۍ مخې ته ومونډلے شو. کهٔ دا جنګ د سخت دریزه مذهبي لېونیانو پهٔ ضد دے نو ولې بیا ورځ تر ورځه د جهادي مدرسو او وسله والو ډلو شمېره ډېرېږي او د قبائیلي سیمو د ملیونو خلقو لپاره یو پوهنتون قدرې هم نشته؟

پوځي او حکومتي چارواکي چې هر څهٔ وائي خو رښتیا خو هم دا دي کنه چې لهٔ وزیرستانه تر سواته پهٔ ملیونو خلق د خپلو کورونو څخه بې کوره شول، کورونه ئې وران شول، فصلونه ئې وسوزېدل او څاروي ئې مړهٔ شول.

دا یواځې د انسانانو مائیګرېشن نهٔ وهٔ، دې بحران د پښتنو ټولنه ټوټې ټوټې کړه، د هغوي تاریخي اثار او دود دستور ئې اغېزمن کړل او چې کله ئې د مرستو لپاره پهٔ قطارونو کښې ودرول نو د هغوي غرور ئې هم مات کړو.

کله چې پهٔ سوات کښې بې ګناه خلق وژلے کېدل نو فوځي چارواکو به وئیل چې پښتانهٔ د پاکستان لپاره قرباني ورکوي. ډېره ښهٔ ده چې دومره خو مني خو زما د قربانۍ پهٔ بدل کښې ستا ریاست ما له د بې روزګارۍ، غربت او جهالت نهٔ بغېر څهٔ را کړل؟ چې پښتنو د پاکستان د پاره قرباني ورکړه نو بیا ولې د پښتنو

زوړ او ځوان، ښځه او نر، لوے او وړوکے په فوځي څوکيو د روزمره په بنياد د فوځيانو له لاسه ذليله کېږي؟

آيا د کربنې دواړه اړخ ته د پښتنو ملتپاله مشران، مُنورين، پوهان، استاذان، سياسي غړي، خبرياالان، ليکوالان، مُلايان، ځوانان، ښځې او سړي د دې پوښتنو د ځواب پيدا کولو لپاره اوس هم د يوې قامي مکالمې يا National Dialogue ضرورت نهٔ احساسوي؟

چې دې کول هغه دې وکړل

اوس مې پلو په مخ راخور کړه خوب راځينه

ښه ده چې شونډې مې اور ناخلي!

اظهار حق دے، خبرې کول حق دي ـــ بنيادي انساني حق. ټوله نړۍ ئې مني، ټول مهذب انسانان ئې مني. دفاع ئې کوي. د دې حق ګټلو لپاره بې شمېره خلقو د خپلو وينو قرباني ورکړې دي او دا ځکه چې خبرې په خبرو هوارېږي.

خو په پاکستان کښې هاغه خلق دا حق نۀ لري کوم چې په بلوچستان او په پښتونخوا کښې د بې ګناه خلقو په وژنه، تښتولو او زورولو خبره کول غواړي ـــ پوښتنه کول غواړي ـــ اواز اوچتول غواړي.

هاغه رياستي او غير رياستي ادارې چې په ښکاره د يو بل دښمنانې دي، د بشري حقونو د دفاع کوونکو، ملتپاله سياسي مشرانو او د امن جرګو د غړو په وژنه کښې شريکې دي ـــ يوه خولۀ دي، يو مشن لري، يوه نظريه او يو فکر لري.

ځکه لۀ وزيرستانه تر سواته او لۀ خيبره تر بولانه او تر کابله خاموشي ده ـــ وېروونکې خاموشي ـــ داسې خاموشي چې په خپل ځان کښې ئې د زرګونو بې ګناه خلقو چغې سورې رانغښتلې دي. زړونه مات دي، ذهنونه شل دي. خو څوک اه هم نۀ شي کولے. ته به وائې چې دا ټوله سيمه يو کنسنټريشن کېمپ (Concentration Camp) دے، زندان دے چرته چې ټول د خپلې سزا په انتظار دي.

په پېښور، کوټه، کابل او سوات کښې د ذهني مريضانو شمېره لا په ډېرېدو ده. د روحي رنځونو په ډاکټرانو وار نۀ شي موندل کېدے. هيلې نشته، ارمان نشته، سندره نشته، ساز نشته، خوب نشته ـــ وېره ده، بې يقيني ده او وېروونکې خاموشي ده ـــ داسې خاموشي چې هر غږ ئې محاصره کړے دے!

زما ځینې ملګرې وائي دا خاموشي په خپل ذات دننه یو لوی طوفان لري. یوه لویه زلزله چې د ظلم مانۍ به رانسکورې کړي ــــ کېدے شي دا خبره تر څهٔ حده سمه وي خو دا اوس چې د ملېنونو انسانانو په زړهٔ څهٔ تېرېږي، دا اوس چې د خلقو شونډې کنډلې دي او څوک تور ته تور او سپین ته سپین نهٔ شي وئیلے، د دې بدبختو به څهٔ کېږي؟ د دوي د ارمانونو او خوبونود خاورې کېدو تاوان به څوک پوره کوي؟ د دې قتلونو کفاره به وشي؟

خو خبرې کول هم هنر غواړي، لاره غواړي، ځائے غواړي او حوصله غواړي. اوس د اولس خوښه ده چې په نوي دور کښې د خبرو نوے چل زده کوي او ځان د تورو تیارو نه راوباسي او که نهٔ د مرګ لهٔ وېرې خاموشه پاتې کېږي او د ځان سره سره خپل راتلونکي نسلونه هم مرګ او بربادۍ ته سپاري.

بنه ده چې شونډې مې اور ناخلي
د زړهٔ لهٔ سره مې لمبې خولې له راځينه

۲ اپریل ۲۰۱۵، تاند

دا خلق داسې نهٔ وو!

دا خلق داسې ورک نهٔ وو، لکه دا اوس چې پې درکه دي ـــ

داسې یواځې نهٔ وو، لکه دا اوس چې پې شوکه دي ـــ

دومره پې وسه نهٔ وو، دا لکه اوس چې پې اسرې دي ـــ

دومره بې ایمانه هم نهٔ وو لکه دا اوس چې ئې سرونه پهٔ کرېوانونو ننویستي دي او تش اسویلي کوي ـــ

دا داسې وطن دے چرته چې شوک سندرې وئیلې شي، هغوي تبلیغیان شي او چې چاته د وطن د اوسېدونکو د حفاظت ذمه واري ور پهٔ غاړه ده، هغوي سندرې جوړوي ـــ

د پښتنو خاوره د امن او خوشحالۍ خاوره وه، دلته بدها د انسان د زړهٔ او روح د رنځونو علاج پهٔ مینه او امن کښې موندلے وهٔ. دلته پیر روښان د قلم او کتاب خبره کړې وه، دلته باچاخان د عدم تشدد او انسانانو د خدمت بېرغ پورته کړے وهٔ. دلته ګودر د دیدن او مینې ځائے وهٔ، دلته حجره د جرګو مرکو او سندرو مرکز وهٔ، دلته مینه د بنګړو پهٔ شرنګ کښې احساسېده او دلته د هر کاڼي شاته د سیمې د اولس د ستر تاریخ قیصې او داستانونه پراته وو.

خو پهٔ دې خلقو لوبه عجیبه شوې ده. دوي د مذهب پهٔ نوم لهٔ علم او پرمختیا بې برخې شول او د امن پهٔ نامه د جنګ پهٔ لمبو کښې وسوزېدل. اوس دوي نهٔ واک لري او نهٔ ادراک، نهٔ زور لري او نهٔ اور.

نهٔ مو چا شور واورېدو نهٔ مو چېرته اور پورې کړو
جذبې د مینې خالي داسې لهٔ وجدانه نهٔ وې!

څو ورځې وړاندې د پاکستان فوځ وياند ادعا وکړه چې په قبائيلي سيمو کښې ئې د ضربِ عضب په نامه په فوځي عمليات و کښې خواوشا درې نيم زره وسله وال وژلي دي او له خېره فوځ د ترهګرو په ملا ماتولو کښې برياليے شوے دے. خو چا ته معلومه نۀ شوه چې دا درې نيم زره وسله وال څوک وو؟ چرته ووژلے شول؟ ولې ووژلے شول او په کوم ځائے کښې خاورو ته وسپارلے شول؟

د جرنيل صاحب په دې دعوىٰ لا بحثونه کېدل چې د ګرمۍ په مرکز پاره چنار کښې بيا چاودنې ۲۵ نور پښتانۀ ووژل. نور کورونه وران شول، نورې دعوې وشوې، نورې ژمنې وشوې خو د قاتل درک ونۀ لګېدو.

نن د پېښور "آرمي پبلک سکول" د يو سل دوويشت هاغه ماشومانو لومړے تلين لمانځلے کېږي چې پروسکال په شپاړسم دسمبر له خپل معصوميت او تنکيو ځوانيو له خاورو سره خاورې شول. د هغوي د مور پلار اوښکې لا وچې نۀ دي، د هغوي زخمونه لا ورغلي نۀ دي خو يو کار شوے دے او هغه دا چې د پاکستان فوځ د مطبوعاتو څانګې د هغوي په ياد کښې يوه سندره خپره کړې ده.

دا داسې وطن دے چرته چې څوک سندرې وئيلې شي، هغوي تبليغيان شي او چې چا ته د وطن د اوسېدونکو د حفاظت ذمه واري ور په غاړه ده، هغوي سندرې جوړوي.

په دې بحث نۀ کوو چې په دې سندره به د دغه ماشومانو مور پلار او خپلوخپلوانو ته څۀ داډ ترلاسه شي که نۀ. خو په دې سندره کښې چې په کومه خبره زور ورکړے شوے دے، هغه دا دے چې اوس به د وطن ماشومان د دشمن بچو ته زده کړې ورکوي.

دېره ښه خبره ده خو دښمن څوک دے؟

آیا دښمن هاغه وسله وال دے چې د نولسوه اتیایمه په لسیزه کښې مجاهد وه او اوس ترهګر دے؟ آیا دښمن هاغه تعلیمي نظام دے چې له نفرت او تعصب بغېر نور څهٔ نهٔ ښائي؟ آیا [دښمن] د ریاست هاغه پالیسي ده چې له مخه ئې یو وسله وال بد او بل ښهٔ دے؟ آیا دښمنان هاغه وسله والې ډلې دي چې د پنجاب په ښارونو کښې مرکزونه لري، وسلې لري، اسونه لري، مال او دولت لري خو نهٔ د ریاست امنیتي ادارو ته ښکاري او نهٔ د میډیا چېنلونو ته؟

بله دا چې کهٔ د پاکستان ریاست مونږ ته خپل دښمن نهٔ ښائي یا ئې نهٔ شي ښودلے نو بیا ولې د دغه شان ترانو او سندرو لهٔ لارې زمونږ بچي د دغه پټ مخي او ناپېژندلي دښمن مخې ته ودروي؟

پهٔ سمندر جانان لاهو کړم

پهٔ کناره راسره څې داډ را کوینه

ملاله مينه ده او مينه تل ژوندۍ وي!

د صوبې د اطلاعاتو وزير شاه فرمان وائي چې د هغهٔ حکومت د ملالې د متنازعه کتاب د مخکتنې د دستورې اجازت نهٔ شي ورکولے خو کهٔ لن ترې چا پوښتنه وکړله چې آیا دا کتاب دې لوستے دے نو غالب امکان دا دے چې ځواب به ئې په نهٔ کښې راځي.

د جنورۍ په اتويشتمه نېټه په پېښور کښې د مدني ټولنې او د پېښور پوهنتون د سيمئيزو مطالعاتو د مرکز (Area Studies Center) لهٔ خوا د سوات ملالې يوسفزۍ د کتاب "زهٔ ملاله يم" (I am Malala) د مخکتنې دستورې تابيا شوې وه خو دا دستوره ونهٔ شوه.

خدائے خبر چې د خېبر پښتونخوا حکومت دوو وزيرانو شاه فرمان او عنايت الله په زړهٔ کښې څهٔ راغلي وو چې ورو ميسے ئې د وائس چانسلر او رجسټرار لهٔ خوا د "ايريا سټډيز سېنټر" پهٔ مشر ډاکټر سرفراز خان فشار واچولو او چې په دغه هم کار ونهٔ شو نو د کېمپس د پوليسو مشر ئې وريسې واستولو.

د دستورې منتظمين وائي، پوليسو ورته ووئيل چې د مخکتنې د دستورې د امنيت لپاره انتظام نهٔ شي کولے.

عجيبه خبره دا ده چې صوبائي حکومت د پېښور پهٔ ځي تي روډ د يو مذهبي ګوند د جلسې امنيت ساتلے شي خو پهٔ پوهنتون دننه د يوې علمي غونډې لهٔ امنيت ساتلو انکار کوي!

پهٔ پښتونخوا کښې د پښتنو ليکوالو پهٔ کتابونو بنديز خبره نوې نهٔ ده. يو

وخت داسې وه چې دلته د غني خان، رحمت شاه سائل او اجمل خټک په کتابونو بندېزونه وو. نن د هغوی فکرونه ژوندي دي، بلېږي، تیارې روښانه کوي، د منزل نوې لارې ښائي او چې چا بندېزونه لګولي وو، خلق ئې په نوم اخستو هم شرم احساسوي.

د صوبې د اطلاعاتو وزیر شاه فرمان فرمائي،

"د هغه حکومت د ملالې د متنازعه کتاب د مخکتنې د دستورې اجازت نه شي ورکولے." خو که نن ترې چا پوښتنه وکړه چې آیا دا کتاب دې لوستے دے نو غالب امکان دا دے چې ځواب به ئې په نه کښې راځي. چې کتاب دې لوستے نه دے نو بیا دا څنګه وائې چې متنازعه دے؟

ملاله د سوات ده. د هغې کتاب د دې سیمې په اړه دے. د نړۍ په لویو لویو پوهنتونونو او څېړنېزو مرکزونو کښې وربانديې بحثونه شوي دي. ستائینه ئې شوې ده، ولې چې هغه په دې وطن کښې د علم او شعور خبره کوي. د رڼا خبره کوي، ښکاره ئې کوي او بې وېرې ئې کوي. ملاله وائي، "قلم تر تورې طاقتور دے." هغه وائي، "بدلون به په علم او پوهه راځي." دا ګناه ده؟ په دې کښې کومه خبره متنازعه ده؟

بله دا چې که په پوهنتونونو کښې په کتابونو بحثونه نه کېږي، کره او کوټه ئې نه کتلے کېږي نو چرته به کېږي؟

په پېښور کښې خو د ترهګرو بریدونو له کبله د کتابونو لوے لوے دوکانونه لا د وراندې تړلے شوي دي. پوهان، لیکوالان او خبریالان په وېره کښې ژوند تیروي. اوس په علمي بحثونو هم بندېزونه لګولے کېږي. لکه چې د وطن واکداران له رڼا وېرېږي، لکه چې تیارو وېرولي دي. هر څه چې دي خو د فطرت قانون دا دے چې رڼا تل تیارو ته ماتې ورکړې ده.

ليکلي تکي مقدس وي. زمانې بدلې شي، حکومتونه بدل شي خو تکي تل ژوندي وي. ملاله خود مرګ سوداګره په خپل اند کښې وژلې وه خو ژوند وګټله. مرګ ماتې وخوړه. نن هغه هم ژوندۍ ده، تکي يې هم ژوندي دي ـــ لکه د مشالونو بلېږي. د نړۍ په هر کوټ کښې ورکو شوو کاروانونو ته د منزل لاره ښائي او هاغه ورځ لرې نهٔ ده چې د هندوکش لمنې به هم په خپلو پلوشو روښانه کړي. تور مخونه به څرګند کړي. دلته به د امن سندرې وئيلې کېږي، د رڼا خبره به کېږي او د انصاف په نوم به د انصاف وينې نهٔ تويولې کېږي!

ملاله مينه ده او مينه تل ژوندۍ وي!

۲۸ جنوري ۲۰۱۴

ګل د ورخارې

خلق مات کودي کښې ولې کړي؟

مینګوره ــ خپل کور ماډل سکول ــ د ماشومانو دستوره ــ پۀ سټیج څو ګلونو ماشومانو د پښتنو د کلتوري ژوند یوه ټپیلو یوه ننداره وړاندې کوله. یوه ډېره ښائسته ماشومه چې د سوات روایتي کالي ئې اچولي دي او یو ښائسته رنګین منګے ئې پۀ توتي دے، کودر لۀ ځي. ورسره اولسي موسیقي هم پۀ ناستو خلقو د پښتنو د وطن خواږۀ شیندي. دا ماشومه ډېره پۀ اعتماد ډېره پۀ باور ګام اخلي. پۀ مخ ئې د یوې حیاناکې پښتنې موسکا خوره ده او پۀ ټولو ماشومانو کښې ښکاره ده، څرګنده ده. لکه چې لۀ دې چې دا ننداره د پښتنو د کلتوري ژوند دا شبېه تکمیل ته نۀ رسېده. د دستورې نه وروستو ما وئیل دا ماشومه څوک ده؟ نو ملګري ضیاء الدین یوسفزي راته ډېر پۀ ویاړ ووئیل چې دا ملاله ده ــ زما لور ده! او ما هم ومنله چې او دا هم د ضیاء الدین غونډې تکړه لیکوال او بې وېرې مبارز لور کېدې شي. دغه ملاله بیا ما پۀ میډیا، مېدان او د سوات پۀ لارو کوڅو کښې ولیده چې د هر جابر پۀ سترګو کښې ئې سترګې اچولې او هم دا خبره ئې کوله چې علم زما حق دے.

ملاله بیا د نړۍ د ټولو امن خوښو لُور او خور وګرځېده. هغې د امن نوبېل پرائز هم وګټلو. هغه د ټولې نړۍ د هاغه ماشومانو ملاله شوه چې د زده کړو نه بې برخې دي، د مینې نه بې برخې دي. هغه د پښتنو د قامي ژوند پۀ بحراني دور

کښې د امن، انسانيت او رڼا علامت وګرځېده.

نن چې زۀ هغه د نړۍ د لويو لويو عالمانو، پوهانو، ليکوالانو، اولسمشرانو، باچايانو او سياستدانانو سره وينم نو ډېر وياړم. اګر چې د تيارو خاوندانو په کال ۲۰۱۲م کښې د هغې د ماشوموالي هغه موسکا ترور کړې ده کومه چې ما د هغې په مخ په هغه دستوره کښې ليدلې وه خو د هغې د فکر رڼا اوس هم د هندوکش په لمنو کښې د راخورې شوې هرې تيارې کريوانونه شلوي.

کل د ورخارې خلق مات کودي کښې ولې کړي؟

دا په مانن يوې ماشومې جينۍ سوال کړے دے

هوا!

هوا دا جنګ يو لېونے سړے وو چې زه ئې مات کړم، خوږ ئې کړم، وې دردولم.
زه ئې هم لېونے کړم چې اوس نه ځان پېژنم او نه جهان!

هوا! دا جنګ د دې پېړۍ تر ټولو لويه الميه وه خو هر چا ورته له خپله نظره کتل. نوي نوي ټکي او نوي نوي اصطلاحات ئې ورله جوړ کړل. "ډيزاسټر کېپيټاليزم" (Disaster Capitalism) او "وار اګېنسټ ټېرر" (War against Terror)،"درغلم ــ بيا درغلم"، "خوښ به دې شم" وغېره وغېره.....

هر چا خپله خپله خبره وکړه. زما چغه، زما اواز پکښې چا وانهورېدو. دا زما د مينې جذبه دومره له وجدانه خالي وه!

هوا!

دا ښوېم ښوېم ځل دے چې دا لوبه ما بائيللې ده. پرون ئې د روس په نوم ټوټې ټوټې کړم، بې کوره ئې کړم، بې اوره ئې کړم او نن ئې د امريکې په نوم، د جهاد په نوم، د شريعت په نوم د هغه شته مسلمانۍ نه خلاص کړم!

زه پوهه ولې نه شوم؟ او ده ولې پاتې شوم؟

هوا!

ما لا ماتې نه ده خوړلې. زه نن هم د خپل زړه په مزار د خپلو اوښکو چراغان کوم خو زه روان چرته يم؟ منزل مې څه دے؟ لاره مې کومه ده؟

هو!

تاسې د جنګ خبره کوله، ما په قیصه خوانۍ او ټکر کښې په خپلو وینو د عدم تشدد، صلحې او بشر دوستۍ داستانونه رقم کول خو زما بچي بیا هم د جنګ په لمبو کښې وسوزېدل.

دا مونږ د تاریخ په کوم کوټ پېر ټکر خوړلے دے؟

زمونږ د قربانیو د داستانونو په کمیونیکېشن کښې، د هغې په ابلاغ کښې اخر ستونزه څۀ ده؟

زۀ د وطن د شهيدانو وينه!

د قيصه خوانۍ بازار د مودو مودو نه د دې سيمې د اوسيدونکو لوے تاريخي او کلتوري مرکز پاتې شوے دے. د ښار زړۀ دے. يو وخت وۀ چې دلته به د مېنځنۍ ختيځ نه هندوستان ته راتلونکو کاروانونو دمه کوله او د چايو پۀ محفلونو کښې به ئې د خپلو مزلونو او وطنونو قيصې کولې، د ځان سره به ئې نوي فکرونه راوړل، نوې تجربې به ئې راوړلې. دا يوه اولسي اکېډيمي وه چرته چې به د بېلابېلو کلتورونو او اولسونو خلق راټولېدل او ديو بل نه به ئې زده کړې کولې.

کال نولسوه دېرش وۀ. د اپرېل د مياشتې درويشتمه نېټه وه. پۀ ټول هندوستان کښې د برطانيې د استعمار پۀ ضد احتجاجي تحريک ښۀ پۀ زور کښې وۀ. د ګاندهي جي د سِول نافرمانۍ پۀ مرسته کښې د باچاخان د خدائي خدمتګار تحريک غړي راټول شوي وو او د خپلو حقونو او خپلواکۍ غوښتنه ئې کوله. دا ټول د عدم تشدد د قافلې خلق وو چا چې د امن د لارې د خپلو حقونو پۀ مبارزه يقين لرلو.

درې ورځې مخکښې پۀ اتمانزو کښې د ازاد سکول پۀ جلسه کښې پرېکړه شوې وه چې پۀ درويشتم اپرېل به خدائي خدمتګار او د کانګرس غړي راټولېږي او د پېرنګي استعمار پۀ ضد به احتجاج کوي.

د صوبې ګورنر اولف کېرو وائي،

"د کانګرس خلق لږ وو نو مونږ د هغوي علاج کولے شو خو چې کله ورسره باچاخان ملګرے شو نو مونږ د خلقو پۀ نيولو پېل وکړو."

پۀ درويشتم اپرېل چې کله خلق د ښار د مرکزي لارو نه راټپر شول او قيصه

خوانۍ ته ورسېدل نو د کابل تاڼې مشر چې دا خلق ولیدل نو ګمان ئې وکړو چې دوي جوړې په تاڼه د برید لپاره راټول شوي دي. هغهٔ فوځ ته خواست وکړو چې راشي او د تاڼې حفاظت وکړي. لږه شېبه کښې د پېرنګي فوځ شپږ ټېنکونه راورسیدل. وړومبي ټېنک څوارلس کسان وچقول چې لس کسان په هغهٔ ځائے مړه شو او څلور سخت ژوبل شو.

پاو کم یوولس بجې ډزې پیل شوې او تر درېو بجو روانې وې. خلق راوړاندې کېدل، په ډزو سُوري سُوري کېدل، راپرېوتل، مړهٔ کېدل. په دې کښې سکهان هم وو، هندوان هم وو او مسلمانان هم. ډېر په دې کښې خدائي خدمتګار وو. د ښار کوڅې د هغوي په وینو سرې پرتې وې. هر لور ته وحشت خور وهٔ او د دوه نیم سوه نه تر درې سوه انسانان قرباني شول. په وینو سرهٔ شول او خاورې شول.

دا انسانان د دې خاورې هاغه سوچه او رېښتیني بچي وو چې د مذهب، نسل او قام د فرق نه بالا د خپلې مور خپلې خاورې لپاره مبارزې له راوتلي وو او په دغه لاره کښې ئې د خپلو وینو او ارمانونو نذرانې ورکړې خو د تاریخ په پاڼو کښې داسې ورک شو لکه چې هېڅ موجود نهٔ وو!

نن هم په قیصه خوانۍ کښې د دوي یادګار نړېدلے پروت دے. نن هم زمونږ ډېر پوهه او تعلیم یافته خلق د خپلې خاورې د شهیدانو د قربانیو نه خبر نهٔ دي. نن هم هاغه زاړهٔ یرغلګر په یو نوي شکل کښې زمونږ کلي او بازارونه ورانوي. نن هم د ګلونو په دغه ښار کښې د اور بارانونه کېږي.

خو د تاریخ رښتیا کله هم نهٔ مري او د تاریخ رښتیا دا دي چې کهٔ مونږ د خپلو مشرانو د دغه قربانیو نه زده کړه کړې وے. د شعور سترګې مو پرانستلې وے نو نن به تېوله پښتونخوا د قیصه خوانۍ بازار نهٔ وهٔ!

قلم والا محسود!

يو محسود ټوپک والا محسود وو، بم والا محسود وو، تشدد والا محسود وو ـــ داسې محسود وو چې په خلقو، د خپلې خبرې په زور د منلو لپاره ئې هر څه ته اوړ لګولو ـــ

يو دا محسود دے چې د خپلې خاورې د حق خبره کوي، د خپل اولس د پرمختيا او اباد‌ۍ وکالت کوي، د پاکستان او چين ترمينځ په ترقياتي منصوبو کښې د خپل قام برخه غواړي، په دې تورو تيارو کښې د رڼا خبره کوي او ځکه ئې کوي چې هغه په دې خبره باور لري چې جنګ د دې خاورې مقدر نه دے.

د رياستي پاليسۍ تر مخه ټوپک والا محسود مهم ځکه وو چې هغه د سټراټيژيکي ډورواڼي منصوبه په مخ بوتله. په دغه منصوبه کښې وينه د دې خاورې د بچو توئې ده خو ډالرې لاهور او پنډۍ ته راتلې. هغه دومره زورور وو، دومره واکمن وو چې د صوبې منتخب حکومت ته ئې په يوه اونۍ کښې دننه د واک نه د لرې کېدو ډرکه ورکړې وه.

هغه چې د ځانې خلقو لپاره هر څومره بد وو خو د پاکستان په رياستي بيانيه کښې وطن پال او اسلام پال وو.

دا محسود قلم والا محسود دے. علم او شعور والا محسود دے. په اولس کښې د شعور پيدا کولو له لارې خپل حق غوښتونکے محسود دے او هم دغه

وجه دا ده چې نهٔ د ریاست خوښ دے او نهٔ د ریاستي ادارو.

دا هغهٔ محسود دے چې ملګري ئې د مریضانو نه بلها فیسونه اخلي، د دوایانو جوړوونکو کمپنیانو نه کمېشنې اخلي، نوي نوي ګاډي اخلي، لوے لوے کورونه جوړوي او دے هره ورځ کله اولسي غونډو ته او کله ریاستي چارواکو ته دا خبره مخې ته پروي چې کهٔ چرې د پاکستان او چین ترمینځ د اقتصادي راهدارۍ پهٔ منصوبه کښې پښتنو ته خپله برخه ورکړې شي نو پهٔ دې خاوره د وینو سیلاب ودرېدے شي.

د هغهٔ اواز دا دے چې مونږ یو اځې ستاسو جنګونو له نهٔ یو پیدا.

خو دا اواز د ریاست د واکمنو خوښ نهٔ دے ځکه چې دا اواز د ابادۍ او بېدارۍ دے. ځکه چې دا اواز د پرمختیا او خوشحالۍ دے. خو دا اواز د بغاوت هم دے. دا اواز د هاغه ریاستي پالیسۍ پهٔ ضد دے د کومې د لاندې چې پهٔ ملینونو خلق اوس هم د ایف سي ار (FCR) د تور قانون لاندې د خپلو بنیادي انساني حقونو نه بې برخې دي.

قلم والا محسود ډاکټر سېد عالم محسود دے چې تېره اونۍ ورته د پېښور پهٔ اسلامیه کالج پوهنتون کښې د چین پاکستان اقتصادي راهدارۍ پهٔ اړه سیمنار کښې د ګډون او پهٔ دغه منصوبه د خبرو بلنه ورکړې شوه خو دا بلنه هاغه وخت واپس واخستلې شوه، کله چې د بره نه د پوهنتون انتظامیې ته ووئیلے شو چې کهٔ قلم والا محسود خبره کوي نو بیا د منصوبه بندۍ وفاقي وزیر پهٔ غونډه کښې برخه نهٔ شي اخستې.

یعنې ټوپک والا محسود سره د خبرو لپاره خو سوالونه او منتونه کېږي، د هغهٔ دلې ته پهٔ پېښور کښې د دفتر ورکولو اعلانونه کېږي خو قلم والا محسود ته د خبرو اجازه هم نشته. یعنې د جمهوریت او بیان د ازادۍ ټولې خبرې، ټولې

دعوې د اباسین نه دې لور ته هېڅ قیمت نهٔ لري او کهٔ چرې داسې نهٔ ده نو بیا دې ریاست د دې خبرې سپیناوے وکړي چې کهٔ چرې د علم لاره، د امن لاره او د شعور لاره وتړلې شي نو دې اولس سره به د خپلې خبرې کولو لپاره کومه لار پاتې شي؟

پهٔ اباسین جانان لاهو کړم

پهٔ کناره راسره ځي داړ را کوينه

٦ مئ، ٢٠١٦م

پښتونخوا څومره بدله شوه؟

په خېبر پښتونخوا کښې مېشته پښتانهٔ د تېرو لسو کالو راهسې د يو لوے سياسي، اقتصادي او ټولنيز بحران نه تېرېږي. کهٔ يو خوا پهٔ قبائيلي سيمو او سوات کښې د وسله والو بريدونو او د فوځ عمليا تو پهٔ زرګونو پښتانهٔ ووژل او پهٔ لکهونو نور ئې بې کوره کړل نو بل خوا د دوي ټولنيز او کلتوري ژوند هم د نوو ننګونو سره مخ شوے دے.

پهٔ دې صوبه کښې بېلابېلې سياسي تجربې وشوې. پهٔ کال ۲۰۰۱م کښې چې کله د امريکې پهٔ مشرۍ کښې نړيوال ايتلاف پهٔ افغانستان کښې د طالبانو حکومت رانسکور کړو نو ورپسې د صوبې واک اختيار د متحده مجلس عمل پهٔ شکل کښې د مُليانو لاس ته ورغلو. ډرامه دا وشوه چې دا افغانستان نه پهٔ شا شوي وسله وال د کرښې دې اړخ ته راواوړېدل او هم د دغه مذهبي ډلو څينې مشرانو ورله پناه ورکړه. د کابل اور لهٔ وزيرستانه او تر سواته ټولې سيمې ته وغزيد.

پهٔ کال ۲۰۰۷م کښې چې کله پښتون ملتپاله عوامي نېشنل ګوند انتخابات وګټل او يو ايتلافي حکومت ئې جوړ کړو نو پهٔ خېبر پښتونخوا او قبائيلي سيمو کښې د ترهګرۍ د لګېدلي اور لمبې د پښتنو تر حجرو، جوماتونو، ملي اتلانو د مزارونو او جرګو پورې راورسيدې. فوځ او استخباراتي ادارو چې هر څهٔ لوبه کوله خو وسله والو ډلو ته ئې عوامي نېشنل ګوند ورورانديې کړو. د هغه وخت د طالبانو مشر بيت الله محسود حکومت له درکه ورکړه چې واک پرېږدي خو د عوامي نېشنل ګوند مشرانو دغه خبره رد کړه او زياته ئې کړه چې مونږ اولس غوره کړي يو او دا اولس پهٔ خوښه به حکومت کوو هم او پرېږدو هم. پهٔ

دغه پينځه کاله کښې که يو خوا په زرګونو تعليمي ادارې له مينځه لاړې نو بل خوا د عوامي نېشنل ګوند د ۸۰۰ نه ډېر سيمئيز مشران او کارکوونکي هم ووژلے شول. بيا هم حکومت ډېر بنيادي کار دا وکړه چې د ترهګرۍ په ضد ئې يو ښکاره او په ډانګ پټيلے دريځ خپل کړو او بل خوا ئې په صوبه کښې يو شمېر تعليمي ادارې او پوهنتونونه هم جوړ کړل.

عجيبه خبره دا ده چې د مذهبي ګوندونو لکه جميعت علماء اسلام او جماعت اسلامي مشرانو په دغه وخت کښې هم د طالبانو د سخت دريزۍ د مفکورې دفاع وکړه او د قاضي حسين احمد غوندې سياسي مشر هم په ملاله يوسفزۍ د بريد نه وروستو د طالبانو په مرسته کښې يو کالم وليکلو. د پاکستان په ميډيا د طالبانو د کمانډانانو مرکې نشر شوې او د پنجاب ځينې پخواني فوځي مشرانو او کالم ليکونکو طالبان داسې وړاندې کړل چې ګنې دوي خو د اسلام لپاره جنګ کوي او ازادي غوښتونکي دي.

زه په دې خبره نه پوهېږم چې مذهبي ډلې ولې ولاړې نه د پښتنو نه اخلي او دفاع د هغوي د قاتلانو کوي. دومره دا چې دوي وخت په وخت د کشمير، فلسطين او افغانستان په نومونو د اولس جذبې راپاروې دي او احتجاجي جلوسونه ئې ويستلي دي خو د وسله والو طالبانو په بريدونو کښې د بې ګناه پښتنو په وژنه تل چپه خوله پاتې دي.

په کال ۲۰۱۳م کښې خيبر پښتونخوا حکومت د کرکټ د پخواني لوبغاړي عمران خان د سياسي ګوند تحريک انصاف لاسو ته ولوېدو. د انتخاباتو لپاره د کمپائن په موده کښې که يو خوا عمران خان لو ئې لو ئې سياسي غونډې کولې او په قامي ميډيا د مسيحا په شکل کښې وړاندې کېدو نو بل خوا د عوامي نېشنل ګوند مشران د طالبانو د بريدونو له کبله مجبوره وو چې د خپلو

کورونو او حجرو پورې محدود پاتې شي.

د خوند خبره دا هم وه چې عمران خان لو ئي لوئې جلسې په پنجاب کښې وکړې خو حکومت ئې په خیبر پښتونخوا کښې وکتلو. عمران خان چې په جلسو کښې ئې د بدلون خبره کوله، په خپل حکومت کښې جماعت اسلامي له هم لويه برخه ورکړه او وریسې ئې دا هم ومنله چې دواړه سیاسي ګوندونه یو فکر لري.

د بدلون په نوم جوړ شوي د دغه انقلابي حکومت مشرانو که یو خوا د نصاب نه د پښتنو ملي اتلان وویستل نو بل خوا ئې په پېښور پوهنتون کښې د ملاله یوسفزۍ د کتاب د مخکتنې په دستوره بندېز ولګولو. عمران خان د ډرون بریدونو په ضد احتجاجي لاریون خو وکړو خو ولې چې کله د وزیرستان نه په لکھونو خلق خیبر پښتونخوا ته بې کوره شول نو نوموړي ووئیل چې بې کوره شوي خلقو ته اسانتیاوې ورکول د هغه د حکومت ذمه واري نه ده.

صوبائي حکومت د صوبې د پرمختیا په ځائے ډېر زور د نوازشریف د حکومت په ضد په احتجاجي غونډو ورکړو او نتیجه ئې دا شوه چې د صوبې د پرمختیا بودیجه (Budget) خرڅ نه شو. د بدلون حکومت دا بدلون راوستو چې په سیاست کښې د تشدد عنصر لا قوي شو او خاص کر د پښتنو د نوي کهول ځوانانو صلاحیتونه د خپلې خاورې او خپل اولس د ستونزو هوارولو په ځائے د بې مطلبه احتجاجونو نه ځار شو. په دې کښې زه په ذاتي توګه ملتپاله ګوندونه هم ذمه وار ګنړم چې د ځوان کهول سیاسي تربیت ته ئې هغه پام نه دے کړے کوم چې پکار دے او د خپل مینځي اختلاف له کبله ئې مذهبي ډلو او جعلي انقلابیانو ته دا خبره نوره هم اسانه کړې ده چې پښتانه ځوانان کله د اسلام په نوم او کله د بدلون په نوم د خپلو مفاداتو له پاره په کار راولي.

د صوبې حکومت اوس اوس په صوبه کښې بلدیاتي انتخابات وکړل. د سیاسي

مشرانو په وېنا د صوبې په تاريخ د ټولو نه زياته درغلي هم په دې انتخاباتو کښې شوې ده. عن تر دې چې د تحريک انصاف اتحادي ګوند جماعت اسلامي هم په انتخاباتو کښې د بد انتظامۍ او درغلۍ په ضد احتجاج کړے دے. د خالي په ورځ د درېو سياسي ګوندونو عوامي نېشنل ګوند، جميعت علماء اسلام او پيپلزګوند مشرانو په پېښور کښې ديوې غونډې نه وروستو پرېکړه وکړه چې چونکې تحريک انصاف د حکومت کولو اخلاقي جواز بائيللے دے نو د رواني مياشتې ترلسمې نېټې دې واک پرېږدي، کنې د حکومت په ضد به په ټوله صوبه کښې په احتجاجي تحريک لاس پورې کړي.

دا به اوس کتلے شي چې دغه احتجاجي تحريک تر کومه حده بريالے کېږي خو يوه خبره ښکاره ده او هغه دا چې:

"رښتيا رارسي نو دروغو به کلي وران کړي وي."

پښتونخوا او د پښتنو قامي تحريک

د پښتون وطن د سياسي تحريک قيصه د قربانيو قيصه ده. د داسې لازواله قربانيو قيصه چې د خاورې د خوښندو، مېښدو او مشرانو په وينو لړلې ده. د باچاخان خدائي خدمتګار تحريک، د خان شهيد تحريک، د قبائيلي مشرانو او سپين روږو مبارزه، د امن جرګو د غړيو قرباني ـــ عن تر دې چې زمونږ ېې شمېره ماشومان د دغه مبارزې په لاره کښې ووژلے شول او وېرولے شول، ېې کوره شول او بې اوره شول.

وخته دلته چې قدم بږدې نو په خيال بږده
د دې خاورې کالې بوټي شهيدان دي

خو په کلونو خورې د دې اوږدې مبارزې په بدل کښې نه مونږ مزل لنډ کړو او نه منزل ته ورسېدو. د وزيرستان پښتون د پېښور پښتون نه پېژني او د پېښور پښتون د کابل د پښتون له حاله نه دے خبر. نه يوائې د خپل تاريخ نه بېل شوي يو بلکې په نفسياتي، جذباتي او قامي حوالو د يو بل نه هم ډېر لرې يو. د کرښې دواړه اړخ ته پښتانه چې يو بل ته نزدې کېږي نو بلها موده به غواړي.
په سياسي مېدان کښې زمونږ دوه ملتپال ګوندونه عوامي نېشنل ګوند او پښتونخوا ملي عوامي ګوند په خپل خپل ځائے خو د اولس د حقونو لپاره اوازونه اوچتوي، غونډې او جرګې هم کوي خو نه د يو بل سره ناستې ته امادہ دي او نه په شريکه سياسي مبارزې ته غاړه بږدي.
دا اوس چې د کرښې دواړه اړخ ته د اور لمبې بلې دي او پښتانه د خپل تاريخي، کلتوري او قامي وجود د قائم ساتلو لپاره د لويو ننګونو سره مخ دي، د ملتپاله

سياسي مشرانو ترمينځ "کميونيکېشن ډيسکنېکټ" (Communication Disconnect) د ځوان کهول په يوه لويه برخه کښې د خپل سياسي تحريک په اړه بدګماني راولاړې کړې دي.

سياسي مبارزه په سياسي پوهه کېږي او د سياسي پوهې لپاره د سياسي غونډو، بحثونو، جرګو، مرکو او څېړنيزو مرکزونو ضرورت وي. داسې څېړنيز مرکزونه چرته چې پښتانه عالمان، پوهان او سياسي مشران د وطن د قدرتي وسيلو او د هغې نه د ګټې اخستو په لاره چارو غور او فکر وکړي او قام خبر کړي چې دغه وسيلې زمونږ نه څوک او څنګه وړي.

د سياسي شعارونو او چغو سره سره مونږ ته د خپلې خاورې په سينه کښې د پټو خزانو په اړه د سائنسي علم او پوهې ضرورت دے. د دغې سره سره بايد په قامي ستونزو او غوښتنو هم څېړنې وشي او په يو علمي انداز کښې دا د نړۍ مخې ته کېښودے شي. په دې اړه په هېواد دننه او بهر د پښتنو عالمانو، سائنس پوهانو او پوهه ځوانانو يو "نېټ ورک" (Network) جوړول او د هغې نه کار اخستل ډېر مهم دي خو تر اوسه يو پښتون ملتپاله ګوند په دغه اړه څهٔ کار نهٔ دے کړے.

په دې جنګ کښې زمونږ څومره خلق ووژلے شو او ولې ووژل شو؟

څومره خوني رنګې شوې او ولې رنګې شوې؟

د تعليم او روغتيا "انفراسټرکچر" (Infrastructure) ته څومره زيان ورسېد؟

څومره خلق بې کوره شو او اوس کوم ځائے دي، څنګه ژوند کوي؟

زمونږ په نوم راغلې په بلېنونو ډالرې چرته لاړې او په دغه اړه مونږ کله او څنګه اواز اوچت کړے دے؟

زمونږ بجلي، اوبهٔ، معدنيات، ځنګلونه څومره دي؟ څنګه دي؟ او کته تاوان ئې چاته رسي؟

زمونږ قامي منزل څهٔ دے؟ پهٔ پاکستان دننه د خپلو حقونو ګټل او کهٔ نه د قامي خپلواکۍ منزل ګټل؟

دا او داسې نورې ډېرې پوښتنې دي چې ځواب غواړي او دا هله کېدے شي چې زمونږ قامي تحريک د جذباتو د بهير نه ځان رابهر کړي او پهٔ سره سينه ور باندې غور او فکر وکړي. پهٔ دغه لړ کښې مونږ د نوي دور د ميډيا او سوشل نيټ ورک نه لويه ګټه ترلاسه کولې شو. د نوې ميډيا او نوو هنرونو نه د ګټې اخستو پهٔ وسيله مونږ کولے شو چې د دومره فاصلو باوجود يو "نېشنل ډايلاګ" (National Dialogue) يا قامي مکالمې ته لاره هواره کړو خو د دې هر څهٔ د مشرۍ لپاره به د قامي تحريک مشران راوړاندې کېږي او د هاغه خلقو سره به خبره کوي کوم چې د دغې ميډيا او ټيکنالوجۍ نه د کار اخستو پهٔ چل پوهېږي.

د قامي خپلواکۍ لاره اوږده وي، صبر او زغم غواړي خو د دغه اوږد مزل لپاره اولس پوهول او هغوي قامي مبارزې ته اماده کول د سياسي تحريک ذمه واري ده.

عوامي نېشنل ګوند د خپل واک پهٔ موده کښې د "باچاخان فاونډېشن" او "باچاخان تعليمي مرکز" پهٔ نومونو ځينې ادارې خو پرانستلې دي او دغه ادارو تر څهٔ حده خپل کار هم کړے دے خو ولې داسې ادارې د ګوندي ړانډې ساتلو لپاره ډېرو پنګو او وسيلو ته ارتيا لري. پښتونخوا ملي عوامي ګوند پهٔ بلوچستان کښې حکومت لري. اوس به ګورو چې حکومت ئې د خپل اولس د ذهني او قامي بيدارۍ لپاره د داسې څېړنيزو مرکزونو او پوهنتونونو جوړولو

ته پام کوي او که نه؟

دا کار په سندهـ ايالت کښې د پيپلز ګوند د مشر ذوالفقار علي بهټو په وخت کښې شوے دے. هلته د سندهـ په ژبه، کلتور، سياست او تاريخ يو شمېر علمي ادارې کار کوي. "متحده قومي مومنټ" خپله "ميډيا سېل" او "تهنک ټېنک" (Think tank) لري. په پنجاب کښې يو شمېر څېړنيزې ادارې، خبرپالان او پوهان د پنجاب د ګټې لپاره کار کوي خو پښتونخوا چرته چې خاوره د سرو زرو ده، باصلاحيته ځوانان او پېغلې لري، پوهه مشران او سپين روي ئې دي، کلتوري نخښې او يادګارونه لري او د خدائے ټول نعمتونه لري ـــ بيا هم په دغه غني خاوره غريبي ده، بې وزلي ده او ناپوهي ده. ډېر علتونه ئې کېدے شي خو زما په نزد لويه وجه ئې دا ده چې مونږ د نوي دور د غوښتنو سره سم د خپل سياسي تحريک په بيا منظم کولو او د دې بنياد په علم او پوهه کېښودلو کښې لا تراوسه نه يو بريالي شوي او ځکه لا تر اوسه پرته هم يو او مړه هم.

زما د زړه د باغ مالياره!

چې ته راځې نو زه به خاورې ايرې يمه

۲ مئ ۲۰۱۵

ژوند ته وګوره ژوند څه دے؟

د دوه زره نهم (۲۰۰۹م) کال ـ د جرمني بون ښار ـ واورې او بارانونه. زۀ سره د يو څو خبرياڵانو ملګرو د "کلتورونو ترمينځ د رابطو" يا Intercultural Communication پۀ موضوع د يو تربيتي پروګرام لپاره تلے وم. دا زما اروپا ته وړومبے سفر وۀ. د تربيتي پروګرام پۀ يوه برخه کښې د پېښور او چارسدې نه د راوړے شوو څينې کلتورې توکو نندارتون هم کېدو. پۀ دې کښې ډېرد ګندهارا تهذيب توکي وو. د المان غېړ رېښيو د لوټي ودانۍ سره نزدې پۀ يو هال کښې دغه نندارتون کېدو. پۀ دغه نندارتون کښې د بدها د وختو ډېرې قيمتي مجسمې او اثار ډېر پۀ کراو او محنت ځاے کړے شوي وو. پۀ هال دننه يو څو جرمنيان پۀ کار بوخت وو. د دغه اثارو لپاره ئې ځايونه سمول، د رڼا بندوبست ئې کوۀ. زۀ چې سره د ملګرو هال ته ننوتم نو د پېښور موزيم ډائريکټر مې وليدو. يو اړخ ته ستړے ستومانه ولاړ وۀ. د سلام دعا نه وروستو مو خبرې پيل کړې. ما ترې د نندارتون پۀ اړه پوښتنه وکړه. هغۀ وئيل د اروپائي ټولنې غړو هېوادونو دا توکي راغوښتي دي او غواړي چې د نندارتونونو پۀ وسيله خپل ځوان کهول د ګندهارا تهذيب او د دې سره د تړلو قدرونو نه خبر کړي. ما سوچ کوۀ. دلته دې اثارو ته دومره اهميت ورکولے کېږي، څېړنې پرې کېږي، کتابونه پرې ليکلے کېږي او پۀ زرګونو خلق ئې ليدو له راځي او هلته پسې مونږ پلکونه او څنګي راخستي وي، کله ترې سرونه وهو او کله پښې!

خېر! ما د موزيم د مشر نه هسې پوښتنه وکړه چې دومره ستړے ولې ښکارې؟

هغهٔ وخاندل، وئيل ئې د دې جرمنيانو سره د پرون راهسې په کار اخته يم. ظالمان نهٔ ستړي کېږي او نهٔ د چايو دمه کوي. پهٔ پېښور کښې تر دې دمه به مونږ لس ځله چاے څښلې وې، څو څو ځله به مو دمه کړې وه. زهٔ پوهه شوم او چې پهٔ هال مې نظر وځغلوهٔ نو ومې ليدل چې هلته پهٔ کار بوخت جرمنيان د پاخهٔ عمر ښځې اوسړي وو خو داسې پهٔ شوق او چتکتيا ئې کار کوهٔ چې سل ځوانان ترې ځار شه.

د مینګورې ښار

د بدهایانو د وختو اُدهیانه او د اوس مینګوره ـــ یواځې یو ښار نهٔ دے. دا د دې سیمې د پښتنو د تاریخي، کلتوري او ټولنیز تاریخ یوه پیاوړې حواله هم ده. دا یواځې کاروباري مرکز نهٔ دے، دا د یوسفزو د جرګې او باچاهۍ کور هم دے. دا یواځې د باچاهۍ کور نهٔ دے، دا د دې سیمې د سیاسي، مذهبي او کلتوري تحریکونو د پړاو او د دمې ځائے هم دے.

مینګوره د خپلې جغرافیې، جوړښت او تاریخ په حواله په دې خاوره د زرګونو کلونو د تهذیبي مزل یادګار دے. هرڅو کهٔ دا اوس د اباډۍ د ډېروالي، بدانتظامۍ او متعلقه حکومتي ادارو د غفلت، سازش او بې رحمۍ ښکار دے خو اوس هم د دې ښار په زړهٔ کښې مینه درزیږي ـــ اوس هم دلته د مرغزار په لمن کښې د ښائست د سپرلو ګلونه تو کیږي. اوس هم دلته د سوات د سیند په غاړه د نوي ژوند او نوې مینې لوظونه کیږي. دا ښار کهٔ هر څومره تالا شوے دے، زخمي شوے دے، په وینو سُور شوے او په اوښکو لوند شوے دے خو دې ښار کله هم د مینې سندره او د امن خبره هېره کړې نهٔ ده.

ملنګه! دوه ګټې دې وکړې

ملنګه دوه کتې دې وکړې...

ملنګه! ته چې چرته هم ګرځې په ګل پسې ګرځې، ښائستونه ګورې، رنګونه ګورې۔ دا خو ډېره لويه بې وفائي ده ـــ دا خو مينه نه ده، خودغرضي ده.

ملنګ لکه چې د دې پوښتنې په شا د مُلا په شرارت پوهه شو. د هغهٔ په مکر پوهه شو. وئيل ئې، مُلا! د هرچا سره خپله خپله پېمانه ده، خپله خپله کاسه ده. د ښائست باچا د ښائستونو بارانونه عام کړي دي خو د هغې ادراک او احساس ئې خاص ساتلے دے. ستا پېمانه وړه ده نو تا د ښائست سمندرونه پرېښې دي او يو څاڅکي درنه يو دوه خطا کړي دي. زهٔ خو وايم چې د ښائست هرې شېبې ته مې د خپل زړهٔ تيارې وينځلې!

د مُلا سترګې وراني شوې. روايتي وسلې ته ئې لاس کړهٔ. وئيل ئې، ملنګه! تهٔ د مينې د مذهب کافر ئې.

ملنګ لهٔ خپل شلېدلي ګرېوانه يو اوچ شوے ګل راوشکوهٔ، مُلا له ئې ورکړو او پهٔ خپله لار روان شو.

څو کامه ئې نهٔ وو اخستي چې پښه نيو لے شو ـــ بيا ئې مُلا ته مخ کړو...

هوښياره مُلا! خوښه ستا ده خو د مينې پهٔ مذهب کښې کفر نهٔ وي.

بې عنوانه

د هاغه غرۀ پۀ لمن کښې د تورې شپې څادر خور شو. بره پۀ اسمان کښې مشالونه بل شو. ښکته د لرګو جوړې د دې کوډلې پۀ یوه کوټه کښې ستورے وېرقېدو. ټول جهان لکه چې د پلوشو جامې اچولې وې — لکه چې شونډو پرانستلو ته، خبرو کولو ته څۀ حاجت نۀ وۀ پاتې شوے. ستورو د خاموشۍ پۀ ژبه د زړۀ حالونه ووئیل او د هاغه لوړ غرۀ پۀ سر سپینو واورو اور اخستے وۀ.

ګندهارا

ګندهارا (د پښتنو کور) یو وخت د امن او تهذیب کور وه. دلته د بشر دوستۍ او ژوند پرستۍ خبرې کېدې او دلته د ښائست سندرې وئیلې کېدې! د هنرونو زمکه وه ـــ د مستو سپرلو او د رنګونو زمکه وه.

زمونږه د کلتورې زوال او تخلیقي جمود له دې بل ښهٔ ثبوت څهٔ کېدے شي چې اوس پښتنو لهٔ د پېنځه یا شپږو رنګونو نه د ډېرو رنګونو نومونه هم نهٔ ورځي. اسماني رنګ ته هم شین وائي، شین ته هم شین وائي او اُودې ته هم شین وائي. اوس پهٔ دې خاوره هنر سپک او بې کارې درنه ده. اوس دلته سندرې ګونګې دي او ګودرونه شاړ پراتهٔ دي.

ملګرې وائي څهٔ به کوو؟ زهٔ وایم تر هاغه وخته به د امن خبره کوو، تر هاغه وخته به ګلونه کرو، تر هاغه وخته به د مینې سندرې وایو، تر هاغه وخته به یو بل معاف کوو، تر هاغه وخته به نهٔ ودرېږو، تر کومه چې د هندوکش پهٔ لمن کښې یو بل "اشوکا" خپله تُوره ماته نهٔ کړي او امن ته، مینې ته او بشر دوستۍ ته خپل سر ټیټ نهٔ کړي.

هاغه شپه

هم دغه شان د باران شپه وه. هم دغه شان تنهائي وه. هم دغه شان تهٔ ما ته رایاد شوې. هم دغه شان ما دې خپل زړهٔ له دلاسې ورکولې —
ما وئيل، تهٔ چې نهٔ يې نو هيڅ به هم نهٔ وي!
نن تهٔ نهٔ يې!
خو دنيا هم هغه شان ده. ژوند هم هغه شان د يو بې نشانه منزل پهٔ لور روان دے. زمانه هم هغه شان د کتې او تاوان حسابونه کوي.
شپه هم هغه شان سبا کيږي او سبا هم هغه شان د تيارو کوهي ته غورځيږي.
نن هر څهٔ شته دے، يو تهٔ نهٔ يې! زهٔ اوس پهٔ دې هر څهٔ هر څهٔ، څهٔ وکړم؟

د پښتونولي Antithesis

هندوستان تقسیم شو. د هندو وطن هندوستان، د مسلمان وطن پاکستان!
د سوات د ریاست هندوانو او سکهانو هم خپل کډې بار کړې، هندوستان ته روان شو. د سوات والي خبر شو. سمدستي ئې خپل خلق ولېږل او د هندوانو او سکهانو قافلې ئې راستنې کړې او دا باور ئې ورکړو چې ریاست به ستاسو حفاظت کوي او ترکله چې ریاست وۀ، د هغوي د مال، ځان او عزت حفاظت ئې وکړو. ځائي خلقو ورسره لکه د خپلو خپلوانو تعلق ساتو. پۀ پښتنو کښې چې هر څومره هم بد دي خو دا یو ښۀ ئې پې مثاله دي چې کله ئې هم د مذهب پۀ نوم د چا نه نفرت نۀ دے کړے، ظلم ئې نۀ دے کړے. دا اوس چې د پښتنو پۀ خاوره کوم ظلم زور روان دے، دا د سُوچه پښتنولي Antithesis دے!

مزل خپله منزل دے!

ژوند څو شېبې دي او د انسان ارمان ډېر لوے دے. ما وئيل ملنګه! نو بيا تکميل څۀ دے؟ منزل ته به رسېدل څنګه کېږي؟ قيصه څۀ ده؟
وئيل ئې، مزل خپله منزل دے! تکميل دا دے چې ژوند دې لۀ نفرته، لۀ وحشته او لۀ بې انصافۍ پاک وي او د مينې لارې دې اسانې شي!

دا قافله دا بد پهٔ لور روانه ده

سرتور ملنګ به وئیل، د ژوند پهٔ سفر کښې هر انسان دا فکر کوي چې دا امتحان پاس کړم نو ښهٔ به شم، خوندي به شم، "سیکیور"(secure) به شم خو هر نوے پړاو د ځان سره نوې انسیکیوریټي (insecurity) راوړي، نوې پوښتنې او نوي سوالونه راوړي. مزل کېږي، لوبه روانه وي او هم دغه شان د ژوند مزے لنډېږي.

بیا هم مونږ چرته ځو نهٔ. هم دلته وو، دلته به یو. د روح انعکاس به بدلېږي. کله به ګل شي، کله به ازغے شي، کله به سپوږمۍ شي، کله به ستورے شي، کله رنګ او کله ساز، کله درد او کله درمان، کله وصال او کله خوب ــــ

دا قافله دا بد پهٔ لور روانه ده، روانه به وي. کهٔ نن جدا شو سبا به بیا سره یو ځائے شو. نن درسره اوښکې او ساندې شریکوم ــ سبا به درسره سندرې شریکې کړم. کهٔ یو ګل خاورې شي، سل نور ګلونه به ترې راوټوکېږي.

رېژېدلې پاڼې

نن سرتور ملنګ د خزان د ورومبو باړانونو نه خوندونه اخستل ـــ ټوله ورځ لګه د يو ناقراره روح په ځنګلونو ګرځېده ـــ د اونو رېژېدلو پاڼو ته په تماشه وه ـــ خړو خاورو ته په تماشه وه ـــ ما وئيل،

ملنګه! دومره خاموشي؟ څه خو وايه!

وئيل ئې،

ګوره! دا رېژېدلې پاڼې څومره په قرار پرتې دي ـ له ونډه ازادې شوې نو بې قرارې ئې هم ختمه شوه ـ

لپه ئې د پاڼو ډکه کړه او په سر ئې وشيندلې ـــ وئيل ئې،

هنګامه د ژوند سره تړلې ده ـ غور څېدل، خاورې کېدل، له ژونده تېرېدل خو د قرار غېږې ته پرېوتل دي.

هغه لا دا وېنا ختمه کړې نه وه چې يوې زړې اونې ته ډډه شو ـ په سينه ئې لاس کېښود او هم دومره ئې ووئيل،

"ښه ده چې شونډې مې اور نه اخلي
د زړه د سره مې لمبې خولې له راځينه"

جنګ: نهٔ ختمېدونکې لوبه

وائي چې يو ځل د ازادۍ مبارز فقير خان ايپي د انګريزانو خلاف يوې جرګې ته وېنا کوله. ډېر پهٔ جوش کښې لګيا وهٔ او خلق سخت جذباتي شوي وو. پهٔ دې کښې يو تن پاڅېدو او چغه ئې کړه،

غيرتيانو! پاڅئ چې پرې ورځو!

پهٔ دې کښې پسې يو بل تن پاڅېدو او ورته ئې ووئيل،

لږ سارهٔ خوره! صبر کوه! فقير صاحب داسې لوبه شروع کړې ده چې غېرتيان به پهٔ غېرت سترې شي او بې غېرته به پهٔ بې غېرتۍ!

د یادونو جبر!

د پېښور باران ـــ د پوهنتون معطره فضا ـــ تش جیب، خو د مینې ډک زړهٔ ـــ د یاد جبر هم لکه د تاریخ جبر دے. ما د ښائست او مستۍ پهٔ کور کښې هم بې قراره ساتي. مونږ چې هر څومره لهٔ ځانه وتښتو، هم ځان ته رسو.

کهٔ لېونے درپسې نهٔ شوم

د زړهٔ سودا به مې تر عمره پورې وینه

مینه

مینه د انسانیت د ټولو نه ستر او ښائسته خوب دے! د ازل او ابد ټول مزلونه، ټولې لورې ژورې. ټولې ساندې او سندرې، ټولې شپې او سحرونه د دغه خوب په تعبیر پسې کرځي!

پهٔ ما دې کومه بلا کړې
پهٔ مخ مې غبرګې اوښکې ځي خولهٔ در کومه

وېش

د سنګ مرمرو نه د جوړ لوے جومات په خوا کښې یې څو که یې کوره ماشومان په خاورو کښې لوغړېدې او د مُلا صاحب د عطرو خوشبوئې د ګلې په کوڅو کښې ګرځې!

سيز فائر

زمونږ د بهر جنګ زمونږ د دننه روان جنګ "ريفلېکشن" (Reflection) دے، انعکاس ئې دے، هينداره ئې ده. دا جنګ زمونږ د ماضي او د حال جنګ دے. دا جنګ د روايت او نوي دور د غوښتنو جنګ دے. دا جنګ زمونږ د زړونو او د ذهنونو جنګ دے. دا جنګ د پي لارې شوو عقيدو او وهمونو جنګ دے او دا جنګ اوسنے نهٔ دے. لهٔ پېړيو راهسې روان دے. د بهر د جنګ پائې ته د رسولو لپاره ورومبے خپل دننه "سيز فائر" پکار دے!

د پېښور ښار

پېښور کهٔ هر څو مره تاريخي ښار دے، مبارک ښار دے، د ګلونو ښار دے خو د خليل جبران د مقدس ښار پهٔ شان دلته هم د چا سترګې نشته اود چا لاسونه!

د دير نواب

په اسلام اباد کښې د قائد اعظم پوهنتون د تأريخ استاذ او ډېر محترم مشر ډاکټر وقار علي شاه راته يو ځل وئيل چې ورومبے باچاخان او د هغهٔ ملګري فضل محمود مخفي د دير په خال سيمه کښې يوه مدرسه پرانسته. دا مدرسه د سيمې خلقو ډېره خوښه کړه او په ډېره لږه موده کښې خواوشا دوه نيم سوه ماشومانو پکښې داخله واخسته. د دير نواب د مدرسې نه خبر شو نو يواځې دا نهٔ چې باچاخان ئې لهٔ خپل رياسته وويستو، بلکې هغه مدرسه ئې هم ړنګه کړه.

نعرې

د هندوکش په لمنه کښې اوازونه پورته کېږي، "لر او بر یو افغان"، "یو قدم یو اواز"، "انقلاب انقلاب"، "اے ولي! ته یو اشاره وکړه! بیا ئې تماشه وکړه!"، "لهٔ بولانه تر چترال‌ه ـــ پښتون یو کړه محمود خانه!"

خو څو شپې لا تېرې نهٔ وي چې دغه ټول شعارونه، دغه ټول اوازونه ورک شي. تشې انګازې ئې پاتې شي او لږ ساعت وروستو هېڅ هم پاتې نهٔ شي ـــ اوازونه هم نهٔ او انګازې هم نهٔ!

د زړهٔ جهان

د زړهٔ جهان د دې جهان نه ډېر لوے دے، فراخه دے. د زړهٔ په جهان کښې کرښې نشته، دېوالونه نشته ـــ د نسل، د ژبې او د مذهب په بنياد امتياز نشته.

د زړهٔ جهان د انسان د ورک شوي خوب جهان دے!

د سر خاوندان کاروباريان دي، سائنسدانان دي، پوهان دي، قاضيان دي، تول پارسنګ والا دي، ګټې تاوان والا دي.

د زړهٔ خاوندان شاعران دي، سندرغاړي دي، درويشان دي، ملنګان دي، هنرمندان دي، فنکاران دي، وليان دي، مينې والا دي، درد والا دي!

او دا دواړه د ژوند د پرمختګ او بناءست لپاره پکار دي، ضروري دي، مهم دي. "وائټل"(vital)دي.

کېدے شي د نوي دور "کرائسز" (Crisis) دا وي چې سر والا په زړهٔ والا زورور شوے دے، څکه ورځ تر ورځه د انسانانو ترمينځ د وينې او مينې رشتې کمزورې شوې دي، "کمرشلائز" (commercialized) شوې دي، پيکه شوې دي او بدرنګه شوې دي.

د مينې يو تولګے عالم دے

د بېلتانهٔ سره د شام پورې فوځونه

ته او زه

لږ ژوند او لوے ارمان! يوه شېبه او د بنائست باران! نۀ ازل پاتې شي او نۀ ابد. نۀ "زه" پاتې شم او نۀ "تۀ".

يو سوز پاتې شي يا يو ساز ـــ زما او ستا څۀ رشته؟ څۀ تعلق؟

زمکه څنګه اسمان ته رسېدې شي؟

او کۀ ورسي نو آيا قيامت به نۀ شي؟

سياسي ګوندونه

سياسي ګوندونه د سياسي تربيت لپاره وي، د سياسي شعور د ودې لپاره وي، د مکالمې او خبرو اترو د کلچر قوي کولو لپاره وي او د هر سياسي ګوند د نظريې سره سم د بدلون او پرمختيا لپاره وي. کهٔ چرې د يو سياسي ګوند غړے د مکالمې پهٔ ځاے ستغې سپورې وائي او کنځل کوي او د ټوپک او کوتک خبره کوي نو يا خو د دغه سياسي ګوند نظريه د رښتيا او پهٔ ځاے پهٔ دروغو او جعل سازۍ ولاړه ده او يا ئې پهٔ تربيتي پروګرام کښې ډېره لويه ستونزه ده.

نصيب د چاۍ او به زه در خېژومه؟

چين د خزانو خولې پرانستې دي. د افريقې د پاره هم شپېته بليونه ډالره!
سرتور ملنگ وائي، "چائنا مينز بزنس"(China means Business)!چين
معامله کول غواړي. د چين جنگ د اقتصاد او د بې وزله هېوادونو په وسيلو
قبضه کول دي. ما وئيل بنه ده کنه. مونږ به ورسره هم شو.
هغه وئيل، مخکښې کوروچې څه کېږي خو تاريخ څه نور څه وائي!
هغه وئيل،بونېريه! گوره پښتنو د ترهگرۍ په جنگ کښې قرباني ډېرې
ورکړې خو کټه ترې بل چا يوړه.
د دې نه وړاندې د سوويت يونين په جهاد کښې تر ټولو ډېره وينه د پښتنو توئې
شوه خو نه د خپل وطن خاوندان شول او نه د خپل نظام.
هغه وئيل، مونږ به "ډپلومېټس" (Diplomats) څکه نه يو چې مونږ يو نه يو!
جنگ او ډپلومېسي دواړه د قام په زور کېږي. تر اوسه خو مونږلا د چين سره
مخ په مخ ناست هم نه يو او چې د پرمختيا کومې منصوبې دي، د هغې مشري د
پنجاب سياسي او فوځي قيادت کوي.
پاس په کمر ولاړه کله!
نصيب د چاۍ او به زه در خېژومه

صوفي محمد زنده باد!

ښهٔ راته ياد شي چې مُلا صوفي محمد خلق لمسولي وو چې کهٔ شريعت غواړئ نو د ملا کنډ او امبېلې لارې وتړئ، بسترې پهٔ سرک واچوئ او تر هغې پراتهٔ اوسئ چې د شريعت اعلان نهٔ وي شوے. بيا خبر راغے چې ملېشې پهٔ شريعت غوښتونکو ډزې کړې دي ــــ صوفي محمد بچ وهٔ او د بونېر خلق پکښې مړهٔ شو. پهٔ افغانستان د امريکې يرغل وشو او صوفي محمد بيا لس زره خلق د ځان سره د کرښې هغه اړخ ته واړول. ورته ئې وئيل، يو مسلمان د لسو کافرو برابر دے خو صوفي محمد دا ځل بيا خپل لښکرونه پرېښودل. هغوي د اور پهٔ لمبو کښې وسوزېدل او يا د زندان تيارو وخوړل او صوفي محمد يو ځل بيا د غازي پهٔ توګه وطن ته راستون شو او دا ځل ورسره خپل زوم فضل الله هم وهٔ.

بيا د صوفي محمد د شريعت خپسه د هغهٔ پهٔ زوم کېښناسته او دومره لويه او زوروره شوه چې د دې خاورې او د دې خلقو د ژوند تول خوارهٔ ئې وخوړل. وېره ئې خوره کړه او د ظلم بازار ئې ګرم کړو.

سرتور ملنګ وائي، دا کوم شريعت دے چې د انساني ژوند د ښائسته کولو، توازن راوستو، د ښو او بدو د شعور قوي کولو او د انسان د وينې د حرمت يقيني کولو پهٔ ځائے وېره ترهه او کرکه خوروي، وينه تويه وي او د انساني پرمختګ لاره نيسي؟

بيا هم ــــ صوفي محمد زنده باد! زر ځله زنده باد!

خو د اولس تښې کوپړې مرده باد!

باچاخاني پکار ده؟

باچاخاني خدمت ته وائي، بشر دوستۍ او انسانيت ته وائي، امن ته وائي، ورورولۍ ته وائي، مينې ته وائي او حرمت درينې ته وائي ـــ

باچاخاني عبادت دے، عقيدت دے، قرباني ده، خپلواکي ده، عزت دے.

په باچاخانۍ کښې به څۀ وي؟ باچاخانۍ کښې به نفرت، تعصب او اختلاف نۀ وي. په خدمت کښې به اختلاف نۀ وي، اختلاف د خود غرضۍ نه پيدا کيږي.

باچاخاني جنګ سالاري نۀ ده، "قلم سالاري" ده. باچاخاني "هيومېنيزم" (Humanism) او "محبت ازم" دے.

باچاخانۍ کښې به د مور او خور د پېروني عزت وي، زياتے به نۀ وي، حق تلفي به نۀ وي، بې عزتي به نۀ وي ـــ جهالت به نۀ وي، تيارۀ به نۀ وي.

زۀ او کائنات یو یُو !

زمان او مکان هیڅ معنا نۀ لري. وخت بس یو خیال دے، یوه اٹیړیا ده. زۀ او کائنات یو یُو. ګل او بلبل، درد او درمان ټول یو دي، دیو بل سره تړلي دي. هغه د غني خان خبره چې یو نۀ وي بل به هم نۀ وي او چې وي نو وي به دواړه. لاس پۀ لاس، غاړه پۀ غاړه.

پښتون

پښتون متلوّن مزاجه دے ـــ په يو ځاے قرار نۀ مومي. بې قراري د دۀ په فطرت کښې ده، په نفسياتو کښې ئې ده ـــ ټول عمر د خپل زړۀ او ذهن تر مينځ په جګړه وي. د خپل نن او سبا تر مينځ ګېر وي.

فطرت ئې ښه ډېره مستي او ښه ډېره خانه بدوشي غواړي خو نظام ئې ځان ته دومره ټائيټ (tight) او مقابلتي (Competitive) ساتلے دے چې اکثر پښتي پکښې هم د دۀ ماتېږي.

دے په ولايت او امريکا وګرځي، د عربو په ريګستانونو کښې وسوزي او د انډونيشيا او ملائشيا جزيرې چاڼ کړي. خو د پلار وهل او د مور مينه ورته يادېږي.

دے مغروره دے خو ديا قربان يو اوازته په لپو لپو اوښکې هم توئې کړي. دې ظالم تل د جنګ ميدان ګټلے او د زړۀ ميدان بائيللے دے.

Convert

کال دوه زره شپږم (۲۰۰۶م) وۀ. پۀ سوات کښې مې د يو ټي وي پروګرام لپاره د ماشومانو د رنځونو د لومړي متخصص ډاکټر ګيان پرکاش سره مرکه کوله.

زۀ پوهه نۀ شوم او پوښتنه مې ترې وکړه چې ډاکټر صاحب! ستاسو کورنۍ دلته کله اباده شوې ده. لۀ کومه ځايه راغلې ده؟

ډاکټر صاحب ماته پۀ حېرانتيا وکتل. او وې وئيل،

دا خو زما د نيکونو خاوره ده، زۀ خو دلته لۀ پېړيو اباد يم. هو! دا ده چې زۀ پۀ خپله عقيده پاتې يم او تۀ convert شوے يې!

د مرګ قصيدې

موږ ژوند کوو که ژوند تېروو؟ موږ وشو چې زموږ نه ژوند هېر دے او موږ له ژوند هېر يو. په کومه کچه چې په دې خاوره د مرګ "ګلوريفيکېشن" (glorification) کېږي، مرګ ښائسته ښودلے کېږي، قصيدې ورته وئيلې کېږي ـــ هم دومره به د ژوند ساه ګانې لنډېږي!

خدايه څهٔ شو هغهٔ ښکلي ښکلي خلق؟

پهٔ دې دنيا کښې ځينې خلق داسې دي چې دا جهان پرې ښائسته دے. د چا لهٔ کبله چې د ژوند د صحرا سره غرمه او طوفانونه د ژغملو وړ دي. جان آغا الکوزے يو داسې انسان وهٔ چې پهٔ خپله کهٔ هر څومره زړهٔ چاودے وهٔ خو نورو له د مسق او خوشحالۍ سپرلے وهٔ. پهٔ انسانانو مئين وهٔ او د يارانو يار وهٔ.

زهٔ چې پراګ ته پهٔ وړومبي ځل راغلم نو د الکوزي صاحب مېلمه وم. بيا خبر شوم چې کهٔ هر پښتون پراګ ته راغلے دے او هغه ترې خبر شوے دے نو مېلمه کړے ئې دے. مينه ئې ورکړې ده او نازولے ئې دے. هغهٔ د کنېډا او اروپا پهٔ سترې ژوند کښې هم د پښتونولۍ قدرونه ژوندي ساتلي وو.

الکوزي ورمه ورځ سترګې پټې کړې. د الکوزي مينه او يادونه به ژوندي وي.

خدائے خبر چې د جهان ښکلي به څهٔ کړي؟

قلندر مومند کهٔ ېې وخته وفات شي

۱۶ ستمبر ۲۰۱۵

ازلي جنګ

د تیارې او رڼا جنګ زمونږ د زړونو او ذهنونو تر مینځ روانه جګړه ده. دا جنګ ازلي دے. د دې جنګ تر مینځ کله کله د امن او انسان د خوشحالو سازونه او سندرې اوچتې شي ـــ خو دا سندرې، دا هیلې او دا محبتونه لا خپلو خوږو ته، خپل کلائمیکس (climax) ته رسېدلي نهٔ وي چې بیا د جنګ نغاره وغږېږي.

د جنګ ملګري ډېر دي!

جمود

وېره، بدګماني، بې یقیني لکه چې اوس زمونږ د نفسیاتو او ژوند ته زمونږ د "اپروچ" (Approach)برخه جوړه شوې ده. زمونږ کلتوري او ټولنیز جوړښتونه مات شو. نوي مو لا جوړ کړي نهٔ دي. قیصه کښې دا نهٔ چې "ټرنېنګ پوائنټ" (turning point)نهٔ راځي، ولې نهٔ راځي خو د قیصې مرکزي کردارونه لا د ماضي د تیارو نه نهٔ دي وتلي. انرشیا(inertia) ده، جمود دے او لوبه لا د شریکې نهٔ ده!

چې وطن وران شي

د میډیټیرینین سمندرګي (Mediterranean Sea) په سینه کښې څومره ارمانونه ډوب شو، څومره خوبونه اوبو یوړل؟
هره ورځ په زرګونو خلق له اسیا او افریقه په غرونو او ځنګلونو راتیریږي او اروپا ته د رسیدو په هڅه کښې د وخت او قانون په کړلېچونو کښې ورکیږي.
چې وطن وران شي، د ژوند ټولې لارې ورانې ویجاړې شي!

هره شېبه یوه معجزه ده

سپوږمۍ د زمانې د ټولو محبتونو قیصې په خپلو پلوشو کښې راوشیندلې او د سیند په مخ لکه د ستورو وپرقېدلې.

هره شېبه یوه معجزه ده!

د هوارې لارې چارې

څومره لويه پښتونخوا ده!

څومره "ريسورسيز رچ" (resources rich) او شتمنه پښتونخوا ده!

ــ خو يو منظم او پهٔ مالي پنګو سنبال ښهرنيز مرکز نهٔ لري. يو داسې پوهنتون نهٔ لري چرته چې نوے کهول خپل تاريخ، کلتور او ټولنې ته پهٔ ورپېښو سياسي، اقتصادي او روحاني ستونزو کار وکړي او د هوارې لارې چارې ئې پيدا کړي او دا هر څوک مني چې پښتانهٔ د بې وقوفتيا تر حده مبلمه دوسته دي. د لسو زرو ډوډۍ دربانډې خوري خو کهٔ پهٔ قامي کار کښې د مرستې لپاره ترې دوه روپۍ غواړې نو دا ورته تاوان ښکاري.

دا پرابلم چرته دے؟ ستونزه څهٔ ده؟ دا "ډيسکنېکټ" (Disconnect) څنګه او کله وشو؟ لوبه څهٔ ده؟ او د لوبې قانون څهٔ دے؟

ــ د دې پوښتنو د ځواب پيدا کولو بغېر کاروان مخکښې څنګه تلے شي؟

زما د زړهٔ ناکاره رنځه!

زما د وطن خلق چې مینه هم کوي نو د باور لپاره د ځان د قربانۍ نه کمه خبره نهٔ کوي ـــ ځکه چې د مرګ نه پهٔ کمه خو بیا پښتونولي کمزورې کېږي. تولې سندرې د جدایۍ، ټولې قیصې د پې وسۍ!

قربانۍ او غم ښهٔ شے دے نو خومره ښهٔ شے دے؟

او دا انسانان پهٔ یو کل د خومره سپرلو مینه ماتوي. خومره ئې ستائي او کله کله د دغه یو کل دومره لوے خراج درکړي چې خپل ټول کړي ګناهونه او ثوابونه درنه هېر کړي.

خوشحالي کلچر دے! ځهٔ خلق پهٔ لږ ځهٔ رضا شي او خوک پهٔ ډېر ځهٔ نهٔ!

دا نفسیاتي مسئله هم ده. پهٔ وېره کښې، پهٔ تیارو کښې، پهٔ ناپوهۍ کښې، د خوشحالۍ تخم څنګه زرغون شي؟ څنګه وده وکړي؟

زما د زړهٔ ناکاره رنځه

نهٔ دې دارُو شته نهٔ دې حال وئیلے شمه

کفاره

د سپرلي مازيګر د ټول جهان ښائستونه په خپله لمن کښې راواخستهٔ او د لېوني په پښو کښې ئې وشيندل ــــ سوز او ساز سره يوځائے شول او د ګل په شونډو څو ورکې شوې سندرې وشورېدې.

وخت لکه چې د يو پښتوانې درد کفاره ادا کړه.

او لېوني د خپل زړهٔ په کعبه کښې د محبت تر ټولو لويه سجده وکړه.

په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلق

زهٔ چې دا ځل پېښور ته لاړم نو پېښور رښتیا چې بدل شوے وهٔ. خلق ډېر پهٔ منډه وو. نوي نوي شاپنګ مالونه هم پرانستے شوي وو خو د ښار پهٔ لارو کوڅو او بازارونو کښې وېره، بې باوري، بې یقیني او بې وسي هم ډېره شوې وه.

دا یو عجیبه احساس وهٔ ـــ لکه زهٔ چې پهٔ خپل ښار کښې ورک شوے وم. ما د ځینې پوښتنو ځوابونه غوښتل. انسان وم، ما هم هیله غوښته، داډ او باور مې غوښتو.

دغې احساس پهٔ حیات اباد کښې د قدرمن ډاکټر راج ولي شاه ختک کور ته ورسولم. ډاکټر صاحب یو ډېر ښائسته او خوږ انسان وهٔ، یو ډېر سپېڅلے پښتون وهٔ، یو ډېر لوے عالم وهٔ او پهٔ هغهٔ د یو آئیډیل پښتون مینه ماتېده.

جنتونه دې ئې نصیب شي ـــ آمین!

پاس پهٔ کمر ورته ولاړ وم

چې د جانان مخ ئې قبلې ته واړونه

د هغه لوی ښار...

د هغه لوی ښار د لوئ قلعې د لویو دېوالونو شاته د شنهٔ باغ پهٔ مینځ کښې یو ملنګ ناست دے. بادشاه راشي د ملنګ پهٔ پښو پرېوځي او وائي،

بابا! د سلطنت لوے جنګ له ځم، د برې دعا راته وکړه!

ملنګ یوه تېره کریکه وباسي، د قلعې دروازې ته وګوري او د سترګو پهٔ رپ کښې ورک شي. پهٔ اسمان د وینې سرې کربښې وېر قېږي. بادشاه لهٔ ملنګه پاتې شوے کچکول راواخلي، لهٔ خاورو ئې ډک کړي او پهٔ خپل سرئې وپاشي!

قامي مباحثه

اروپائي قامونو دوه جهاني جنګونه ولیدل او د ملینونو خلقو قربانۍ ئې ورکړې. خپل مینځي کرښو او تعصب ته ئې په مخه ښهٔ ووئیل او خپلو نسلونو له ئې د امن او پرمختیا ډالۍ ورکړه.

پښتنو هم په لکهونو سرونه قربان کړل. کورونه او حجرې ئې ورانې شوې خو د امن لپاره،د سولې لپاره او د پرمختیا لپاره قامي مباحثې (National Dialogue)ته لا ناست نهٔ دي. دا مباحثه به زمونږ د کلي کور او بازار نه پېل کېږي او د کرښې دواړه اړخ ته اباد قامونه به پکښې برخه اخلي.

قامي سائيکي

زمونږ په قامي سائيکي (National Psyche) کښې اذيت پسندي اغږلې شوې ده. زمونږ ټول روماني داستانونه لکه يوسف خان او شيربانو، ادم خان او درخانۍ، شهرعالم او ميمونۍ او داسې نور ټل په ټرېجيډي (Tragedy) يا الميه ختمېږي. په نورې جدايۍ او په نورو ژړاګانو پائې ته رسي. د فطرت په رنګونو ښائسته د مينې په دې خاوره مينه کول ولې دومره زړه چاودے او ارمان ژن کار دے؟

يه شهرعالمه خدائے دې غرق کا
د تما کو په پاڼو چا کړي مرکونه؟

د خوشحالۍ په کلتور کښې...

خوشحالي کلچر دے او دا خوشحالي د خپلواکۍ، مينې، انصاف او امن د زړهٔ نه راوځي ــــ دا خوشحالي د قام د اولسي سندرو او سازونو په شکل کښې خپل اظهار کوي او د ادب، ډرامې او تهېټر په شکل کښې پوره پوره نسلونه مستانه ساتي. د خوشحالۍ په کلتورونو کښې د هر موسم، د هرې شپې، د هر ګل، د هر ازغي خپل خپل قيمت وي، خپل خپل ناز او ادائې وي ــــ

د خوشحالۍ په کلتور کښې اوښکې او وينې پې ځايه نهٔ توئېږي او د خوشحالۍ په کلتور کښې د انسان خوشحالي تر ټولو لويه نيکي ده.

د کلتوري تاریخ غلطي

تېوله نړۍ بدله شوه. بادشاهۍ رانسکورې شوې. زور واکي په جمهوري نظام بدله شوه. د بشر حقونه او د انسان د خوشحالۍ خوبونه د ژوندي او ببدارو قامونو د اېجنډې په سر کښې ځاے شول. سائنس او ټېکنالوجۍ خلا ته، اسمانونو ته د ټک لارې هوارې کړې.

خو!

مودې وشوې چې د هندوکش په لمنو کښې د سپرلو په ځاے د اور باران ورېږي. پېړۍ تېرې شوې چې دلته غریبي اوږې وسي دهٔ.

ستونزه کوم ځاے کښې دهٔ؟

دا زړهٔ چاودون به کله سر ته رسي؟

زمونږ نه پهٔ خپل سیاسي او کلتوري تاریخ کښې څهٔ غلطي شوې دي چې دومره لویه سزا ئې راته رارسي؟

ياد

ياد ډېر زورور شے دے.

مونږ كۀ د سبا پۀ لور هرڅومره مزل وكړو، بيا هم د پرون ياد مونږ د خپل حصار نه بهر وتلو ته نۀ پرېږدي.

ياد ډېر زورور شے دے.

ادبي تحريک

د کرښې دواړه اړخ ته اورد هېواد نه بهر د پښتنو د سياسي تحريک په مقابله کښې د هغوي ادبي تحريک ډېر فعال دے. ډېر کرندے دے.

سياسي تحريک ئې وېشلے شوے دے، بې سمته دے او ماضي پرست دے.

ادبي تحريک ئې روښان فکره دے، ژوند پرست دے او "وائبرانټ" (Vibrant) دے. په موجوده وخت کښې دغه هيله کېدې شي چې کله ئې سياسي تحريک د ادبي تحريک نه الهام واخلي، نو دے به ورسره هم د منزل په لار سم شي.

یون

لنډه دا چې نهٔ څوک د خدائے لهٔ مملکته وتلے شي او نهٔ د خپل ضمیر لهٔ مملکته. سحر د شپې پهٔ غېږه کښې اودهٔ شي او چې سترګې وغړوي نو د ځان سره درناسندرونه راوړي.

خو کله کله مزلونه د منزل پهٔ لارو کښې ورک شي، فنا شي.

بیا هم چرته ساندهٔ شي او چرته سندره شي.

بدبختي

زمونږ سياسي مشرتابه د خپل قام د کټلو ډېرې موقعې داسې بائيللې وې چې يا به ورسره اولس ودرېدو ته امادة نهٔ وهٔ او يا مشران به د مصلحت ښکار شول خو اوس اولس امادة دے.

نو ے کھول تر څهٔ حده بېدار دے خو لهٔ بده مرغه مشران يو ځائے کېدو ته او د اولسي پاڅون لپاره لار ښودنې ته غاړه نهٔ ږدي. کېدے شي د ليډرشپ د دې کرائسز نه زمونږ د بدبختۍ د تاريخ يو نوے باب پېل کېږي.

اثاثه

مونږ سره څهٔ دي؟

مونږ سره څو توپکې او پټکې دي—

يو څو ماتې شوې ټورې دي—

يو څو کچه دېوالونه او څو سوزېدلې سندرې دي.

وړومبۍ جرګه

وئيل ئې، نړۍ د يو بل جهاني جنګ په مينځ کښې ده.

ما وئيل، دا ولې؟

حېرانه شوه ــــ وئيل ئې، تا ته نهٔ ده معلومه چې څهٔ موده پس به انسان لهٔ ځانه تنګ شي، د ځان سره به پهٔ جنګ شي. وئيل، ئې کوره! امن ته ېې لهٔ زړهٔ، ېې لهٔ ځان سره د روغې بله لار نشته. ټول به اول د ځان سره او بيا لهٔ ځانه ګېر چاپېره دنيا سره روغه کوو.

وړومبۍ جرګه به پهٔ خپل ځان کوو.

سپرلے

سپرلے د ګل هم دے او د بلبل هم ـــ

د ساز هم دے او د سریندې هم ـــ

د ارمان هم دے او د خوب هم ـــ

سپرلے وائي هم دې ته چې دا به همه ګیر وي، د هر چا به وي، د تور ګل به هم وي او د سپین ګل هم ـــ د پېښور به هم وي او د کابل هم.

د نفرتونو کر

ژوند خدمت دے او خدمت عبادت دے خو دا عبادت هغه څوک کولے شي چې د ژوند په ښائست باور لري. د مهذبې نړۍ په پوهنتونونو کښې په زرګونو خلق ناست دي څېړنې کوي، ایجادونه کوي، دوایانې جوړوي او د ټولو مرام دا دے چې نورو انسانانو له خوشحالي ورکړي.

مونږ ټوله ورځ ناست یو د نفرتونو کر کوو ــــ د مذهب په نوم، د قومیت په نوم، د "نېشنل انټرسټ"(ملي ګټې) په نوم ــــ

نهٔ خوب وینو، نهٔ د سحر هرکلے کوو، نهٔ د ځان محاسبه کوو.

په مونږ کښې څومره خلق دي چې د جنت په طمع ئې دا دنیا دوزخ کړېده؟ چې د خپل دوه ګزه قبر پراخه کولو د پاره ئې دا دنیا د خدائے په مخلوق تنګه کړې ده.

مونږ کر دا زغو کوو او لارې څاروچې سپر لے به راشي!

زمونږ خپل کور وران ویجاړ پروت دے او د نورو خلقو د کورونو غم خوړلے یو. مونږ د ثواب او ګناه په نوم د ژوند ټول ښائستونه او ټولې سپېڅلې جذبې وژلې دي.

مونږ څوک یو؟ څهٔ یو؟ زمونږ د ژوند مرام څهٔ دے؟

او لهٔ ټولو لویه پوښتنه دا ده چې مونږ خپلو بچو ته، خپلو راروانو نسلونو ته څهٔ پرېږدو؟ د جهالت تورتمونه او کهٔ د امید روښانه سحرونه؟

زۀ دا نۀ منم!

زۀ دا منم چې د هرې خاورې خپله خوشبو وي، د هر وطن خپل رومانس وي، د هر قام خپل تاريخ وي، خپله ورځ او شپه ئې وي.
د هرې چپې خپل خمار وي، د هرې سپوږمۍ خپل ستورې وي، د هر "تهيسيز" (Thesis) يو خپل "اينټي تهيسيز" (Antithesis) وي.
زۀ دا منم چې زما وطن هم د تاريخ ځانګو ده. دلته هر بوټے دارو او هر ګل خوشبودار دے. هره سندره نيمګړې ده خو خوږه ده ــــ هر پلار د عظمت غر دے او هره مور قربانۍ ده.
زۀ دا منم چې زمونږ د دنګو غرونو پۀ سرونو واورې او پۀ ويخ کښې ئې ګلونه وربرې. دا د ګندهارا مرکز، دا د شېرشاه او احمد شاه کور، دا د خوشحال خان، باچاخان او خان شهيد د خوبونو انځور ــــ دا د رنګينو لوپټو، ژوندو سينډونو او د مينې پۀ وعدو دا بادو کودرونو وطن دے.
زۀ دا منم!
خو!
زۀ دا نۀ منم چې پۀ دې وطن کښې به د پېغلو سر سرتور وي او ورونه به ئې پۀ پردو خبرا تونو کښې سپي پۀ ډانګونو وهي.
زۀ دا نۀ منم چې د دې وطن پۀ وينو به نور ښارونه روښانه وي او دلته به د تيارو باچائي وي.
زۀ دا نۀ منم چې د لعلونو پۀ وطن کښې به خلق د يوې نمرۍ دوډۍ لپاره د خپلو ارمانونو قتل کوي.

زۀ دا نۀ منم چې د ترۀ زوے تربور دے.

زۀ دا نۀ منم چې د دې غني وطن ځوانان به هنر او روزګار نۀ لري او مشران به ئې پرې څۀ کار نۀ لري.

زۀ دا نۀ منم چې خور، لور د پردي دېران خځله دۀ.

زۀ دا نۀ منم چې زما د بچو سکولونه به پۀ بمي چاودنو کښې الوځي او زۀ به رائېونډ ته اجتماع له ځم.

زۀ دا نۀ منم چې زمونږ کور کلے به سوزي خو نۀ به اواز اوچتېږي. نۀ به زمکه شلېږي او نۀ به د انقلاب چغه پورته کېږي.

زۀ دا نۀ منم!

زمونږ سندرې

زمونږ سندرې د ماضۍ په تیارو او د حال په شورماشور کښې زمونږ د ورکو شوو ارمانونو اوازونه دي، زمونږ د نیمګړو خوبونو تصویرونه دي.

دا سندرې زمونږ سوشل هسټري ده، زمونږ د کلتوري ژوند بنیادونه دي.

دا سندرې خوندي ساتل پکار دي. کېدے شي تاریخ یو بل چورلک وخوري او سبا ئې زمونږ نه څوک پوښتنه وکړي.

د ټورې جنګ خو مو بائیللے دے ـــ هسې نه چې د قلم جنګ هم وبائیلو!

ازاد او خپلوا که خلق

زهٔ هر سهار د خپل کور سره نزدې د ځنګل نه راتلونکي د مرغیو د چغار سره پاڅم. دغه اواز د ژوند په دې شور ماشور کښې د مینې او معصومیت تر ټولو سپېڅلے اظهار وي چې ما تر ډېره وخته پهٔ خپل خمار کښې ساتي.

دا ښائي چې دا خاوره د فطرت اواز ته هر کلے وائي، ستائینه ئې کوي.

دا ښائي چې څنګه د دې وطن خلق ازاد او خپلوا که دي، هم دغه شان ئې مرغۍ هم دي.

دا ښائي چې د غلامۍ پهٔ تیارو کښې کهر کلي او ښارونه سندرې نهٔ شي وئیلې.

دا ښائي چې ازادي امن او امن ازادي ده. د وېرې او ترهې نه ازادي، د زور ظلم نه ازادي، د وهم نه ازادي او د نفرت او تعصب نه ازادي.

او ازادي د هر انسان او هرې مرغۍ یو شان حق دے!

ورکې سندرې، ورک خوبونه

پهٔ هغه شپه ملنګ د خپلو اوښکو امېلونه د انسان د ورکو شوو ارمانونو پهٔ مزار کېښودل او د ستورو د کاروان سره لاړو. اوس پهٔ دغه کلي کښې نهٔ څوک د مینې سندرې وائي او نهٔ خوبونه وینې!

نيمګړې قيصې

د دې وطن د هر غرۀ په لمن کښې، د هر سيند په غاړه، د هر يو رېږدلي ګل او هرې ويجاړې شوې ځوانۍ تر شا قيصې پرتې دي. دا قيصې څۀ د مينې دي، څۀ د وينې دي، څۀ خوږې دي څۀ ترخې دي، څۀ د ژوند دي څۀ د جانان دي ـــ
دا قيصې هم دومره نيمګړې دي څومره چې په دې خاوره ژوند نيمګړے دے.

کلتوري وده

د ښکلو هنرونو د ودې نه بغېر د يو قوم کلتوري وده ممکنه نهٔ ده، ځکه چې ښکلي هنرونه هاغه خلق تخليق کوي چې د ژوند د هر درد او سندرې سره مينه لري او پهٔ معنا ئې پوهېږي.

مړهٔ خلق د ژوند د جنون او د جانان د قيصې نه ناخبره خلق تخليق نهٔ شي کولے، ژوند نهٔ شي ستائيلے او هم دغه وجه ده چې نهٔ کلتور جوړولے شي او نهٔ ئې د وخت د بدلون سره سم بوتللے شي.

هاغه شپه

توره شپه ده خو د مرغزار په لمنه د سپوږمۍ د پلوشو څادر راخور دے. په فضا کښې د ځنګلي ګلونو خوشبو د چا د وجود خواږه راوړي. د ايلم په سر د لاټېنونو کاروان روان دے.

د تاريخ د تسلسل کاروان!

ديوې لېونۍ مينې د لټون کاروان!

د ژوندون کاروان!

ناڅاپه تيارۀ شي ــ سپوږمۍ تندر ونيسي. زۀ د رڼا په لټون کښې د لاټېنونو لور ته وګورم!

هلته هم د اخيري لاټېن رڼا په اخري ځل د خپل ژوندۍ پاتې کېدو هڅه وکړي او مړه شي.

Many a Nations Came and Hurled Their Bolts at Us!

د چیک جمهوریت نه ګېرچاپېره د جرمن، روس او استریا غوندې لوے طاقتونه پراته دي او وخت په وخت پرې دغه طاقتونو یرغلونه هم کړي دي خو د چیک جمهوریت یوه خښته هم نه ده ماته شوې —

تاریخي عمارتونه، تهېترونه، پُلونه او پوهنتونونه ئې محفوظ پاتې شوي دي.

زهٔ اکثر دلته د دې خلقو نه پوښتنه کوم چې دا څنګه ممکنه وه او دوي راته وائي چې چیک قام د یورپ په زړهٔ کښې یو څو ملیونه اولس دے. لږه ئې زمکه ده، لږ ئې وسائل دي او دوي په دې حقیقت خبر دي نو چرته ئې هم د کوم لوے طاقت سره ښکر نهٔ دے اړم کړے. خو داسې هم نهٔ چې مزاحمت ئې نهٔ دے کړے. دوي د ډپلومیسۍ نه کار اخستے دے، د عقل او هوښیارتیا نه ئې کار اخستے دے. خپله ژبه او قامي شعور ئې ژوندے ساتلے دے او دغه شان ئې د خپل کور او وطن حفاظت کړے دے.

ما وئیل، مونږ خو ټول د ټورې په ژبه خبره کړې ده، ټول عمر مو د ټوپک لاره خپله کړې ده، د جوش لمبو ته مو دانګلي دي —

نن مو کور هم وران دے او ګور هم!

د رياست مرام

د هر رياست څۀ مرام وي. هره سياسي ټولنه چې جوړېږي، شا ته ئې څۀ فکر، څۀ خوب، څۀ ارمان وي. رياست د خپلو وګړو د ځان، مال او عزت حفاظت کوي. د هغو د صلاحيتونو د لا قوي کولو او د هغوي د خوشحالۍ لپاره فرصتونه پيدا کوي او د هغوي هيلې او شناخت ژوندے ساتي.

چې يو رياست دا څو بنيادي کارونه نۀ شي کولے. هاغه رياست ځنګل بللے کېږي او د ځنګل باچا ازمرے وي!

هغه رياستي نظام چې خپل خلق بې کوره کړي، بې عزته ئې کړي او بيا ئې خرڅ کړي ــــ هغه رياستي نظام، د کوم د لاندې چې پۀ يوه صوبه کښې خلق پۀ ګوليو او بمبو چاودنو کښې مري او پۀ بله صوبه کښې نوي نوي ښارونه ابادېږي، نوي نوي خوبونه رښتيا کېږي ــــ يو داسې نظام دے چې پۀ دروغو او خودغرضۍ ولاړ دے ــــ د مذهب پۀ نوم پۀ دوکانداري ولاړ دے او دا نظام چې تر کومه وي، لکه د مار به خپل بچي خوري.

مکالمه

ما وئیل، ملنګه! دا جنګ ولې دے؟ دا نفرتونه ولې ډېر دي؟ دا اورونه ولې بلېږي؟

ملنګ ما ته په زیر زیر وکتل، موسکے شو، وئیل ئې، بونېريه! ربښتیا اورېدل غواړې او که هسې تپوسونه کوې؟

ما وئیل، ملنګه! والله د ډېر وخت نه په دې فکر کښې یم چې اخر زمونږ په دې خمیر کښې څۀ دي چې دا لنډ تنګ ژوند هم په ارام نۀ شو تېروے؟

ملنګ وئیل، خبرې ډېرې دي خو زۀ به درته یوه قیصه وکړم ـــ قیصه داسې ده چې په افریقه کښې داسې سیمې شته چرته چې څوک څۀ غلا، شوکه یا جنګ جګړه وکړي، څۀ غلطي وکړي نو د کلي خلق فکر یوسي چې اخر څۀ وجه ده چې د دې سړي نه دا ناروا وشوه؟ سستم کښې څۀ ستونزه ده او که نه دغه سړے د څۀ وسوسې یا زړۀ چاودون سره مخ دے؟ خلق راټول شي او د کلي په مرکزي چوک یا مېدان کښې د هغۀ سره خبره کوي، جرګه ورسره کوي ـــ شرموي ئې نۀ، همدردي ورسره ښائي. بیا هغه د څۀ وخت لپاره یواځې پرېږدي چې د ځان محاسبه وکړي او دغه شان د انسانانو اصلاح کوي ـــ کافر کوي ئې نۀ. سمې لارې ته، د انسانیت لارې ته ئې راولي.

ما وئیل، ملنګه! دا خو سمه ده خو زما د سوالونو جواب؟

وئیل ئې، په خبرو کښې، په جرګو کښې او په مکالمو کښې ډېر زور دے. کله چې انسانان د خبرو کولو، د دلیل بیانولو او د مینې کولو توان وبائیلي نو په جنګ شي. دا جنګ ورومبے د انسان دننه تیغ ووهي او بیا د وینو او لمبو په باران کښې راڅرګندېږي.

د پښتون ډيمونائيزېشن

دوې ورته په انګريزۍ کښې "ډيمونائيزېشن" (Demonization) وائي. دا هاغه عمل دے چې پکښې په ډېره منظمه توګه يوه ډله يا قام د بلې ډلې يا قام سپکاوے کوي. د هغوي صفتونه هم داسې ښودلے کېږي لکه چې عېبونه ئې وي. د دې لپاره د تهېټر، ډرامې او ميډيا نه راواخله تر مذهبي مشرانو، سياستدانانو او ټولو سرکاري او غېرسرکاري ادارو پورې په کار راوستلې کېږي. زمونږ په دې نوي ټولنيز تاريخ کښې په پاکستان کښې د پښتنو د يو قام په توګه منظم سپکاوے د دې يو تازه مثال دے.

جبرانيات

●●●

په نيمه شپه چې د مورچو څخه روحونه بهر راوتل، زما د هډوکو يوه ډهانچه په نظر شوه چې د زنګونونو په سر راټيټه شوې وه او سپوږمۍ ته ئې په زير زير کتل.

زه نږدې ورغلم او پوښتنه مې وکړه.

"ستا نوم څه دے؟"

ځواب ئې راکړو،

"ازادي!"

ما بيا وپوښتل،

"ستا زامن چرته دي؟"

د يې وسه او ناتوانه ازادۍ سترګې له اوښکو ډکې شوې ـــ په ريږدلو شونډو ئې ځواب راکړو،

"يو په دار وځړنګېدو، دوېم لېوني شو او درېم لا زېږېدلے نه دے."

●●●

چې کله د پېر غمژن شي نو خپل زړه ته دې سر ورښکته کړه. تا ته به معلومه شي چې ته د هغه څه د پاره ژاړې چې يو وخت ورته تا د خوشحالۍ نامه ورکړې وه.

خليل جبران

واک

په دې کښې ستا هېڅ واک نشته چې ستا قیصه څنګه شروع کېږي او څنګه پای ته رسي ـــ خو باید په دې ته تر اوسه پوهه شوې یې چې د هر څهٔ یوه خاتمه وي. هره سهر غې تیارو ته ستنېږي ـــ
هر اواز په خاموشۍ کښې ورک شي ـــ
هر ګل د خاورو په غېږه کښې اوده شي ـــ

سوزي قاسم

جنت

زما غریب روحه!

ته به هېڅ کله هم په دې خبره پوهه نهٔ شې چې رښتیا مهم دي. ته به د ژوند د رازونو څخه یو راز هم رابرڅېره نهٔ کړې، سره د دې چې ټول مذهبونه د جنت وعده کوي خو پام کوه چې ته په هم دې دنیا ځان له جنت جوړ کړې.

عمر خیام

باچا خاني

په مذهب خبرې کول، تقريرونه کول، فضائل بيانول اسان کار دے، هر څوک ئې کولے شي خو په مذهب عمل کول او هغه هم ورومبےد ځان نه شروع کول ډېر ګران کار دے.

باچاخان

اسره

پهٔ دې لويه صحرا کښې، چې مزل اوږد دے او منزل معلوم نه دے ـــ
بې لهٔ تا څوک دي چې او چت شوې لاسونه او غوړېدلې څولۍ وويني؟

تاوان

زما مشرانو د هندوکش په لمن کښې د ګندهارا تهذیب بنیاد اېښے وو ـــ پوهنتونونه ئې جوړ کړي وو.

چې مسلمان شوم نو د تولو نه ښهٔ او سپېڅلے مسلمان وم خو خپل کلتور او قدرونه مې هم لرل ـــ حجره او جومات مې په یو ځائے وو ـــ جرګه مې لرله ـــ په اختر شوقدر مېلې مې کولې ـــ

ما د پاره رحمان مینه وه ـــ ما د پاره مذهب د انسان قدر وهٔ ـــ

بیا زهٔ ورک شوم.

وطن مې بائیلو، د روزګار وسیلې مې وبائیلې ـــ ما هم لکه د اروپا د تور دور خپل تقدیر د مُلا په پښو کښې کېښود.

نن مې نهٔ څوک د مسلمانۍ په نوم پرېږدي، نهٔ د وطن په نوم!

انساني ټولنه

مهذبه ټولنه په علم، انساني عظمت او جمالیاتو ولاړه ده. د داسې ټولنې جوړښت داسې اولسي، سیاسي، اقتصادي او روحاني ادارو ته اړتیا لري چې انسان د وهم، ذهني غلامۍ او مذهبي لېونتوبه خلاص کړي.

رابندر ناتهـ ټېګور

رابندر ناتهـ ټېګور ته د ادب، موسیقۍ او انځور ګرۍ په مېدان کښې د خپل کار، زيار او فکري عظمت له کبله که يو خوا په نړيوال کچ ډېر د احترام په نظر کتلے کېږي نو بل خوا د فاني ژوند په دومره لږه موده کښې د ټېګور له خوا دومره لوے کار د ادب مينه وال حيران کړي هم دي.

ټېګور په ۱۸۶۱م کښې د هندوستان په کلکته ښار کښې زېږېدلے وو. د اته کالو په عمر کښې ئې په تخليقي ليکونو پېل وکړو او د شپاړسو کالو په عمر کښې ئې د نظمونو داسې يوه مجموعه خپره کړه چې د وخت نقادانو ورته د کلاسيک درجه ورکړه. ټېګور بنګالي ژبې او ادب ته نوې بڼه ورکړه او د جديد نړيوال ادب د غوښتنو سره سم ئې د روايتي بندېزونو نه ازاد کړو. ټېګور د هند کلتور په غربي نړۍ کښې په خلقو وپېژندو او د مغرب نوي فکرونه ئې هندوستاني کلتور او ژبو کښې متعارف کړل.

هغه په سلګونو تخليقي اثار، په لاسو راښکلي انځورونه او د دوو زرو نه ډېر نظمونه پرېښودي دي او د "ويسوا بهارتي" په نوم د يو پوهنتون بنياد ئې هم اېښے دے. هغه وړومبے غېر اروپائي دے چې په ۱۹۱۳م کښې ورته د نوبېل انعام

ور کړے شو.

پهٔ هندوستان او بنګال کښې د هغهٔ نظمونه د قامي ترانو پهٔ توګه غوره کړے شوي دي. د ټيګور ناولونه، قيصې، ډرامې او مضمونونه د سياسي او ذاتي ژوند سره پهٔ تړلو موضوعاتو ولاړې دي او د فکر نوې لارې روښانه کوي.

"ګيتانجلي"، "ګورا" او "يوګا يوګ" ئې پېژندلي ادبي اثار دي. ټېګور د هند د تولو نه ستر شاعر ګڼلے کېږي. پهٔ ۱۹۴۱م کښې د اتياو کالو پهٔ عمر کښې ئې د نړۍ نه کوچ وکړو.

کفکا

کفکا(Kafka) د چیک ریپبلک نومورے لیکوال دے. ناولونه او لنډې قیصې ئې لیکلې دي. د هغهٔ کار او زیارته د دنړاوي پهٔ توګه شلمې پېړۍ ته د کفکا پېړۍ وائي. د جولائي پهٔ دریمه ۱۸۸۳م پهٔ پراګ کښې زېږېدلے وهٔ. د قانون زده کړې ئې کړې وې. وجودیت، د ځان نه پردے کېدل، نفسیاتي جبر او د پلار او "مستیسېزم" (Mysticism) د کفکا د لیکونو بنیادي موضوعات دي.

پهٔ ۱۹۲۴م کښې د ۴۰ کالو پهٔ عمر کښې مړ شو. پهٔ پراګ کښې د هغهٔ پهٔ نوم میوزیم جوړ کړے شوے. لارې کوڅې د هغهٔ نامې سره منسوب شوي او کلتوري او څېړنیز مرکزونه پرانستے شوي دي او د کفکا د نوم یاد ګاري څیزونه پهٔ کښې خرڅېږي.

ډېر روحونه

مونږ داسې خلق یو چې په وجود ځر منې غتې لرو خو روحونه مو ډېر دي. مونږ خپلې ورځې په لوبو او ټوقو ټقالو کښې تېروو او یا اوده پراته یو او مونږ بیا هم وایو چې مونږ د نړۍ په انسانانو کښې د ټولو نه ښه خلق یو...

نظار قباني

زړګیه داغ به درله درکړم!

دولسم اګست نورلس سوه اته څلویښتم ـــ د چارسدې بابړه ـــ په زرګونو خدائي خدمتګار او د خپلو بې ګناه ملګرو د نیولو پر ضد احتجاج ـــ نه توپک، نه توره ـــ د ازادۍ لټون ـــ او د ظالم په مخکښې د حق د اواز اوچتول ـــ

خو حق چا منلو؟ حق څوک مني؟

د هاغه وخت وزیراعلیٰ قیوم خان کشمیرے فکر کوي چې د خپل بادار سره د وفادارۍ ښودلو د دې نه ښه موقعه بله څه کیدې شي؟ امنیتي ځواکونو ته حکم ورکوي ـــ د اور باران راشکې کېږي ـــ یو پرېوځي، بل پرېوځي ـــ یوه نیمه ګېنټه تېرېږي او د بابړې په خاوره د وینو څادر خورېږي ـــ

څوک وائي دوه سوه مړه شو ـــ څوک وائي څلور سوه مړه شو ـــ څوک وائي شپږ سوه مړه شو ـــ خو د هشنغر هره کوڅه ژاړي، هر یو کانړے بوټے اوښکې تویوي، هر کور د غم کور دے ـــ هر مېدان ئې د کربلا مېدان دے.

د بابړې په مېدان کښې چې د زورور توپک اوچت شوے دے، بیا راښکته شوے نه دے ـــ د پښتنو په خاوره هره ورځ د بابړې یادونه تازه کوي ـــ

افغان جهاد په ملیونونو ځوانان وخوړل. وزیرستان، سوات، باجوړ، خیبر، پېښور، کوئټه او مردان د بابړې د پېښې نوي نوي شکلونه دي ـــ نوي منظرونه دي ـــ خو دښمن هم هغه پخوانے دے ـــ توپک هم هغه پخوانے دے ـــ

کله په څرګند مخ راشي، کله په پټ مخ راشي ـــ کله یو رنګ واخلي او کله بل رنګ خو په ګولیو غلبېل سینه هم هاغه ده، وینه هم هاغه ده. سره او

مقدسه وينه!

خو په دې اته شپېته کاله کښې نه چا د باېرې ذکر وکړو، نه ئې د هاغه شهيدانو په قبرونو څراغونه بل کړل، نه ئې د هغوي د کورنيو تپوس پوښتنه وکړه، نه ئې ځوان کهول ته د هغوي د وينې تقدس وښودلو. نه په کتاب شته، نه په نصاب کښې شته، نه ئې يادګار شته.

آيا دا خلق نه وو؟ انسانان نه وو؟ ارمانونه ئې نه لرل؟ خوبونه ئې نه لرل؟ د خزان وهلو اونو پاڼې وې؟ طوفان پرې راغلو، تېرې شوې او هېرې شوې؟

ما دا فکرونه ليونے کړي. د لوئې پښتونخوا په لارو کوڅو، غرونو او ورشوګانو وګرځم. د باېرې او تکر د شهيدانو په قبرونو راتېر شم. د ورانو شوو ګودرونو او ړنګو شوو کورونو کنډرونو ته وګورم.

هر لور ته تيارۀ ده. پې وسي ده او د بارودو لوګي دي ـــ څو اوښکې توې کړم او بيا خپل زړګي ته سر ورښکته کړم ـــ يو غلام نور څۀ کولے شي؟

زړګيه! داغ به درله در کړم
کۀ دې ننګه يار دې بيا محتاجه کړمه

پښتانهٔ او د قامونو جېل خانه

پنځوس ملیونه پښتانهٔ پنځوس ډلې دي ــ

ژبه یوه، تاریخ یو، مزل یو، ارمان یو خو قام یو نهٔ دے، مرام یو نهٔ دے ــ پهٔ ماتو لښکرو نهٔ وطن ګټلے کېږي او نهٔ قام.

لهٔ پېړ روښانه تر باچاخانه پهٔ دې قام کښې رهبران ډېر، لاربښودان ډېر، قربانیان ډېر، شهیدان ډېر ــ بیا هم نهٔ فکر یو شو او نهٔ اواز.

کوټه څهٔ؟ کندهار څهٔ؟ پېښور څهٔ؟ نوښار څهٔ؟ ــ ټوله یوه خاوره، یو وطن، یوه زمکه ــ خو نهٔ کوټه پېښور ته غاړه وته او نهٔ کندهار نوښار ته ــ اوښکې مو یو، غم مو یو خو ساندې مو بېلې بېلې دي.

دلته کله څوک د مذهب پهٔ نوم راشي، کله د انصاف او بدلون پهٔ نوم راشي ــ خو ټېږ وخت راشي، نهٔ مو څوک مسلماني مني او نهٔ د انصاف غوښتنې.

پهٔ دې خاوره هر چا ته ملګري ترلاسه شي، د هر سیاسي ګوند کابینې جوړې شي، هر یو سیاسي مشر ټې پهٔ بله کومه صوبه کښې ملګرے پېدا نهٔ کړي، پهٔ پېښور او کوټه کښې ئې پېدا کولے شي. کهٔ نشته نو خپله سیاسي کرلاره نشته، د خپلو رارونو نسلونو غم نشته.

تاریخ خو دا وائي ټې حق پهٔ سیاست ګټلے کېږي، پهٔ قامي مبارزه ګټلے کېږي، پهٔ سیاسي شعور او پوهه ګټلے کېږي خو آیا دلته د قام او خاورې سیاست ګناه نهٔ ده؟ کهٔ نهٔ ده نو ټول هغه خلق ولې پهٔ نخښنه کېږي ټې د خپلې خاورې او قام لپاره اواز اوچتوي؟

په کوټه کښې په علم، پوهه او سياسي شعور بريد شوے دے ـــ د رياستونو د ستراتيژيکي کتو لپاره ، د قامي غورځنګونو د کمزوري کولو لپاره په هغه ځوانانو بريد شوے دے چې خپل حق ئې هم پيژندهٔ او هغه قوتونه ئې هم پيژندل چا چې لهٔ حقونو ئې برخې کړي وو.

په پشين، ژوب، مسلم باغ، قلعه سيف الله، نوشکي او کوټه کښې به د دغه شهيدانو په قبرونو د وينو چراغونه بلېږي او هلته به د مارګلې په لمن کښې د وطن د ازادۍ جشن پېل شي.

د قامونو په دې جېل خانه کښې زما بس دومره ځاے دے ـــ

بس دومره قيمت مې دے!

انديش شمس القمر وائي،

تهٔ به د زړهٔ په جهان لوټې کوې

او هنګامه او انقلاب به نهٔ وي؟

اگست ۸، ۲۰۱۲ء

زۀ په ګناه او ثواب څۀ پوهېږم؟

ما وئیل، شکر دے خلق د مذهب سره مینه لري، په هره لار کوڅه کښې مدرسې جوړې شوې دي ـــ د ښځو جدا، د سړو جدا ـــ چندې راټولېږي، سبقونه وئیلے کېږي.

ښه خبره ده!

ملنګ ورو مېے خپل چیلم کش کړو، د تما کو لوګو ئې په مخ او پیره کښې لارې جوړې کړې، بیا مو سکے شو، وئیل ئې،

بونېریه! خبره د مذهب نۀ ده، د خدائے د رضا کولو نۀ ده، خبره د روحانیت نۀ ده ـــ خبره د سیاست ده، خبره د جنګي اقتصاد ده، خبره د انسان نه د انسان د نفرت ده.

ملنګه دا زۀ څۀ وایم او دا ته څۀ وائې؟، ما ورنه په حېرانتیا پوښتنه وکړه.

د ملنګ د مخ په کرښو کښې د تاریخ د ټولو دورونو قیصو غږونې وکړې، وئیل ئې،

ګوره زۀ خو د پېړیو راهسې مسلمان یم او داسې مسلمان یم چې د خپلې مذهبي عقیدې لپاره مې تل قرباني ورکړې دي، کورکلي مې وران شوي دي، په دغه دربار کښې خو ما تل د خپلو وینو څراغونه بل کړي دي ـــ زما مسئله خو دا ده چې په خپله خاوره د سرو او سپینو په خزانو ناست یم خو د ټوک ډوډۍ لپاره مرم ـــ بچي له سکول نۀ لرم، د روغتیا مرکز نۀ لرم، هیله نۀ لرم، خوب نۀ لرم ـــ مودې وشوې کله په سر یم!

ما وئیل، ملنګه! ستر دې خو خبره دې ډېره اوږده کړه.

وئیل ئې، لنډه دا ده چې په نړۍ کښې نور قامونه په عزت، خپلواکۍ او خوشحالۍ

خپل ژوند تېروے شي نو زۀ ئې ولې نۀ شم تېروے؟

ملنګ چیلم ته نور تما کو واچول، سکروټه له ئې پو کے ورکړو او یو اوږد کش

ئې واخستو. خاموشي خوره شوه.

ما وئیل، دا خو ډېر سیاسي سوال دے؟

او هغۀ بس هم دومره ووئیل چې،

هم دغه اصلي سوال دے!

ما لا خولۀ پرانسته چې ملنګ راولاړ شو. ما وئیل ملنګه! زما خبره نیمګړې

ده! وئیل ئې، خبرې لا کله پوره شوې دي؟

د خپلې کوډلې په لور روان شو او په رواله روانه کښې ئې ووئیل،

زۀ یو پښتون خانه بدوش د وطن

کله په سر او در په در ګرځمه

زۀ په ګناه او ثواب څۀ پو هېږم

په جنتي خاوره نهر ګرځمه

ژوندے ویاړ

کابل، هشنغر، کوټه، کندهار او پېښور دا ټول ښارونه، دا ټوله خاوره او دا ټول وطن د علم او تهذیب کور وهٔ ــــ دا د هنر کور وهٔ ــــ دا د امن کور وهٔ ــــ

ګندهارا، پشکلاوتي، اُدهیانه د دې ښېرازه وطن د بېلابېلو تهذیبي جوړښتونو نومونه دي. په دې خاوره غوبل کول، دهشت کول، پوهنتونونه ورانول د اوس نه نهٔ دي ــــ دا کار 'وائټ هُنز' او چنګیزیانو هم کړے وهٔ. دا خلق مقدس ځکه دي چې دوي په خپلو وینو د علم او شعور مشالونه بل ساتلي دي. د دې دومره یرغلونو باوجود نن هم ژوندي دي. توک توک دي، بیا هم خوبونه ویني او خپلې هیلې تاندې او تپاندې ساتي.

ته ازغي کره زما او د ګل مینځ کښې
زهٔ په لاره قدم نهٔ پړدمه، سینه پړدم

دازادۍ ورځ!

پهٔ څوارلسم اګست به مو ځان سمبال کړو، د کاغذ نه جوړې د پاکستان د بېرغ ټوپۍ به مو پهٔ سر کړې، پهٔ سینه به مو د "اتحاد، تنظیم، یقینِ محکم" بېجونه ولګول او بیا به مو د کلي د پرائمري سکول مخه وکړه. ترانې به ووئیلې شوې، تقریرونه به وشو، ازادي به ونمانځلې شوه!

خو چې رالوئېدم نو قدم پهٔ قدم راته د خپلې غلامۍ احساس شوے دے. زما پهٔ کلي کښې اوس هم ماشومان د داسې بیمارو نه مري چې علاج ئې پهٔ اسانه کیدے شي. اوس هم هلته داسې مېندې مرګ ته ورځي شپې شمارې چې بچي ئې پهٔ بې چاودنو کښې وژلے شوي دي. اوس هم هلته غریبي او بې روزګاري ده.

د کلي هغه پرائمري سکول چې د ښښکلو اوبهٔ ئې نهٔ لرلې، ټاټونه ئې شلېدلي وو، پهٔ دېوال تور بورډ ئې برګ شوے او رېژېدلے ؤ. خو بیا هم پکښې د ازادۍ ترانې پهٔ څوارلسم اګست وئیلې کېدې ـــ اوس هغه سکول کښې پهٔ ټاټ ناست ډېر هلکان پهٔ بې چاودنو کښې وژلے شوي دي ـــ هغه سکول هم نیم پهٔ بم ړنګ کړے شوے دے، خو سکول ته مخامخ چاونۍ محفوظه ده. د ازادۍ جنډه پرې هر وخت رپېږي او هر غلام یو بل ته د ازادۍ د جشن پهٔ مبارکۍ مجبوره دے.

هغه او د خمار مېخانه

هغه د اروپا تنهايي او ځان ځانۍ خوړلې وه او زهٔ د خپل وطن شور— هغې د مينې په لاره کښې ولاړ هر روايت عبث گڼلو. بې منطقه او بې دليله ئې منلو— او زهٔ د خپلو روايتونو د گردش نه نهٔ شوم وتلے.

هغه د خمار په مېخانه کښې پيمانه په لاس ولاړه وه او زما مخې ته د خپلې خاورې مخونه لکه د دېوالونو ولاړ وو.

دواړه په يو اسمان کښې پرقېدو، لکه دوه بېل بېل جهانونه—

سفر مدام سفر

هغه د چا خبره، پخوا په زمانه کښې به انسانان ټوله ورځ په ځنګلونو، شاړو او مېرو کښې د ښکار پسې په ځغل وو. يا خو به په خپله ښکار شو خو که ژوندي به پاتې شو نو د نمر دوبېدو سره به ئې ځان خپلو خپلو غارونو ته رسولو ...

يو بل ته به ئې د ورځې قيصه وکړه ـــ بيا به ئې د شپې تور څادر واغوست او اوده به شول.

اوس هم هر سړے هر سحر په خپل خپل کار پسې وځي ـــ په ښکار پسې وځي ـــ د خپل خپل خوب په تعبير پسې وکرځي او چې مابنام شي نو په دې تکل کښې وي چې زر خپل کور ته ورسي.

ما په دې ښار کښې داسې خلق هم ليدلي دي چې د پُلونو د لاندې اوده کيږي، په پارکونو کښې په بنچونو اوده کيږي ـــ دغه د هغوي کورونه دي.

خو قيصه بيا هم هغه ده ـــ بنګلې واله هم د کور او بهر د ګردش نه نه شي وتلے او جونګړې واله هم.

دا سفر چې زرګونه کاله مخکښې پېل شوے وو، اوس هم دوام لري ـــ دا جلا خبره ده چې اوس د ډېرو خلقو کورونه د خاورو لاندې دي.

څوک يو دوه قدمه واخلي، تر تا در شي

د چا پښې په مزل ستړې شي، ناکام شي

'پښتونخوا' وطن،

'ترابان' دېو او 'ګل اندامه' ښاپيرۍ

د اُمو نه تر اباسين دا ټوله خاوره ـــ دا ټول غرونه، سيندونه، ورشوګانې او ګودرونه ـــ لهٔ امير کروړه تر باچاخانه د خپلواکۍ ټول اوازونه ـــ د مېوند د ملالۍ نه تر سوات د ملالۍ د قربانۍ او ننګ ټول داستانونه ـــ د ۵۰ مليونه نه د ډېرو خلقو پهٔ زړونو کښې راولاړ شوي ټول دردونه ـــ ټول ارمانونه ـــ دا هر څهٔ چې راټول شي، د زمکې يوه ټوټه ترې جوړه شي ـــ د احساس يوه نغمه ترې جوړه شي ـــ يوه استعاره ترې جوړه شي ـــ او چې بيا دا هر څهٔ يو بل ته ورتر غاړه وځي نو پښتونخوا وطن ترې جوړ شي.

دا وطن ښائسته دے، مور دے، غني دے او خلق ئې خپلې سادګۍ او اخلاص خوړلي دي ـــ پهٔ دې خاوره کله د چنګېز خان پوځونه يرغل وکړي او کله د ګل خان ـــ کله د اخوناانو او پيرانو پهٔ شکل کښې زبرګان راشي او خلق د وهمونو تيارو ته واچوي ـــ کله کماندانان او جرنيلان راشي او د وينو سېلابونه توي کړي ـــ ددې خاورې د خلقو فکرونه بې لارې او خوبونه شوربدلي دي ـــ دا خلق پهٔ خپلو چړو لګېدلي دي ـــ دوي وخت پهٔ وخت ځان له خپله قبرونه کنستي دي.

کله چې د مينځنۍ اېشيا نه واټ هُنز پهٔ دې خاوره قابض شول نو دهغوي يو باچا وهٔ چې د 'ترامانه' پهٔ نوم پېژندلے کېدهٔ ـــ هغهٔ دلته د بدهايانو د عبادت ځايونه، پوهنتونونه، يادګارونه او د جرګو مرکو ځايونه او کلي کورونه وران کړل، د خاورو سره ئې خاورې کړل ـــ دومره ظلم ئې وکړو چې بيا د دې سيمې خلقو د 'ترابان دېو' پهٔ نوم پېژندو ـــ دغه ديو ترابان د دوي د فوکلوري تاريخ،

د دوی د نفسیاتو او د دوی د قیصو او داستانونو یو مهم کردار و گرځیدهٔ.

پېړۍ تېرې شوې، زمانې واوړېدې خو د دې خاورې اولس د دېوترا بان د پنجو نه ازاد نهٔ شو ـــ کوم چې وخت پهٔ وخت د دغه دېو د سرچڼو لپاره د بهرام غوندې ځوانان او ننګیالي هم زېږېدلي دي خو دغه دېو سل سرونه کړي دي ـــ کله د چنګېز خان پهٔ شکل کښې راڅرګند شي او د انسانانو د سرونو نه منارې جوړې کړي ـــ کله شهرعالم شي او د شک پهٔ چارهٔ د مېهونۍ مرۍ پرې کړي ـــ کله اخوند او پیر شي او د وهمونو جال خور کړي ـــ کله طالب او مُلا شي ـــ کورونه وران کړي، بازارونه وران کړي، کلونه خاورې کړي، خوبونه خاورې کړي او بیا ئې ښه پهٔ ډاګه ومني چې دا هر څهٔ ما کړي دي، تُوره مو تېرهٔ او لاس مو خلاص.

دې دېو د دې خاورې د هر ماشوم او هرې کل اندامې د تن وینې وڅښکلې ـــ دا دېو پهٔ زړونو کښې اوسېږي او پهٔ مزغو کښې توپونه وهي ـــ دا دېو د بې اتفاق، جمود او ناپوهۍ دے ـــ دا دېو به هله مري، کله چې پهٔ تیارو تیارهٔ مازغهٔ روښانه شي ـــ کله چې د دې خاورې بچي د پوهې او شعور پهٔ کالو ښائسته شي ـــ کله چې د شهرعالم لاس مات شي او مېهونۍ ته د خپلې خبرې حق تر لاسه شي ـــ کله چې د عبادت ځایونه د تنګ نظرۍ او تعصب پهٔ ځائے د علم او مینې مرکزونه شي ـــ کله چې د مرګ د عظمت پهٔ ځائے د ژوند د عظمت خبره وشي ـــ او دا څهٔ اسان کار نهٔ دے، د دې لپاره به د وطن هر بهرام کار ته ملا تړي ـــ خپلې اوښکې به وچوي او د خپلو اکې د کل اندامې د سرې ډولۍ لپاره به د مینې بېرغ پهٔ لاس د ترابان کرېوان ته لاس اچوي!

اوښکې مانځي دي کهٔ بېلمازه
زما پهٔ خیرې کرېوان ځي نمونځ پرې کومه

د محبت خلوېښت اصول

د محبت څلوېښت اصول

"د محبت څلوېښت اصول"(The Forty Rules of Love) د ترکي د نوموړې ناول لیکونکې "الیف شفق" یو داسې ناول دے چې دوه قیصې پکښې په ډېره استاذۍ او هنر را یوځائے کړے شوې دي.

یوه قیصه د امریکې په "نارتهمپټن"(Northampton) ښار کښې د "ایله"(Ella) په نوم د یوې داسې ښځې ده چې د خپل خاوند او بچو سره ژوند کوي. په ظاهره دا کورنۍ ډېره خوشحاله ښکاري خو دننه د کورنۍ ټول غړي او په خاص توګه ایله په خپله د ډېرې بېقرارۍ سره مخ ده. ایله د کور ټول کارونه کوي، د هغې بچي د ځوانۍ دور ته داخلېږي او خاوند ئې د هغې نه علاوه د نورو ښځو سره هم اړیکې لري. ایله په دې سوچ مجبوره کېږي چې هغه کوم ژوند تېروي، آیا دا په رښتیا یو خوشحاله ژوند دے؟ آیا هغه په رښتیا د خپل خاوند سره مینه لري؟ آیا د هغې د ژوند مرام هم دغه دے چې دا هر څه په خاموشۍ وزغمي او د ژوند د کاروان سره د معمول مطابق لاړه شي؟ هغه د خپلې بېقرارۍ ختمولو لپاره د کتابونو د چاپولو او خپرولو د یوې ادارې سره د لیکوالانو مسودو ته د کتنې کار پېل کړي. یوه ورځ د هغې پبلشر هغې ته د لوستلو او کره کتنې لپاره د "Sweet Blasphemy" په نوم د یو کتاب مسوده را ولېږي. هم د دغې کتاب د لارې دا د تصوف سره بلدېږي، د ژوند لارې ئې بدلېږي او د لیکوال په اړه ئې په زړه کښې تجسس او مینه را ولاړېږي.

دوېمه قیصه د دیارلسمې صدۍ عیسوي د نوموړو صوفیانو او درویشانو مولانا جلال الدین رومي او شمس تبریزي ترمینځ د روحاني ترون او د خدائے

انسان او کائنات په اړه د هغوي په بحثونو ادانه لري. اګرچې مولانا رومي د اسلامي روايتي علومو لوے پوهان وه خو د شمس تبريزي سره د ملاقات نه وروستو هغه د زړه او روح په دنيا کښې ورکېږي او د محبت د عالمګريت او انسانيت د تقدس په اړه د نوو نوو خبرو او حقيقتونو نه خبرېږي.

دا دواړه قيصې په يو بل کښې ورننوتې دي. ايله د ريښتينې مينې لټون کوي او مولانا رومي د ملګرتيا د لارې د روحاني خوشحاليو او کائناتي رښتياو په تکل کښې د يو نوي مزل پېل کوي. هم د دغې نه د رومي د تصوف د سلسلې بنياد پرېوځي چې څرګندونه ئې په شاعرۍ، موسيقۍ او نڅا کښې کېږي.

شمس ملنګ دے، درويش دے او له ځانه د جهانه ناخبره په خپله مينه مست د يو ځاے نه بل ځاے ته سفرونه کوي. هم په دغه شان يو سفر کښې د ترکي قونيا ښار ته راځي او د مولانا رومي سره ئې ليدو کاتو کېږي.

دا کتاب چې ما ولوستو نو ډېر خوند ئې را کړو، ډېره رڼا ئې را کړه. ما غوښتل چې ټول کتاب په پښتو کښې ترجمه کړم خو ولې د وخت د نيشتوالي او خپلې ناراستۍ له کبله مې دغه کار ونه کړے شو. البته دومره مې وکړے شول چې شمس تبريزي د خدا ے، د کائنات او انسان او د دوي تر مينځ د ترون په اړه مولانا رومي ته کوم څلوېښت اصول يا قاعدې ښودلې وې، هغه مې ترجمه کړې او دغه دي ستاسو په خدمت کښې ئې وړاندې کوم. هيله لرم چې مينه به مو پرې ماته شي___

پښتانه هم وائي چې:

د کلي شپېږ پنځوس کوڅې دي

زه د جانان ديدن ته کوم ځاے ودرېږمه؟

١. مونږ چې ځان ته څنګه ګورو هم هغه شان خپل خدائے ته ګورو. که چرې د خدائے د نوم سره زمونږ ذهن ته وېره راځي نو د دې معنا دا ده چې په مونږ کښې دننه وېره ده. که چرې مونږ خدائے مینه او شفقت ګڼو نو مونږ هم دغسې يو.

٢. رښتيا ته د رسېدو لاره په سر کښې نه بلکې په زړه چاودون کښې ده. خپل زړهٔ خپل لوم‌ړنے لارښود جوړ کړه! د خپل نفس سره ووينه، ننګونه ورکړه او د خپل زړهٔ د لارې ئې په قابو کښې راوله. که چرې تا خپل ځان وپېژندو نو خدائے به هم وپېژنې.

٣. خدائے تر جومات، کليسا يا بلې کومې عبادت خانې محدود نهٔ دے. ته خدائے د کائنات په هر څهٔ کښې ليدے شې، په هر چا کښې ئې ليدے شې خو که چرې ته د خدائے کور پسې ګرځې نو د هغهٔ کور د رينښتينې مئين په زړهٔ کښې دے.

٤. مينه او عقل د دوو جدا جدا موادو نه جوړ دے. عقل خلق په ګنډو کښې وتړي او د تاوان نه ئې خوندي ساتي خو مينه ټولې غوټې (ګنډې) پرانيزي او د هېڅ تاوان نه نهٔ وېرېږي. عقل تل محتاط وي او دېرې مسئ ته دي نهٔ پرېږدي خو مينه وائي هېڅ غم مهٔ کوه! ور ودانګه! عقل په اسانه نهٔ ماتېږي او مينه په يوه شېبه کښې ځان کنډ کپر کړي خو خزانې تل په کنډوالو کښې پټې وي. رنګ شوي زړونه په ځان کښې خزانې لري.

۵. د نړۍ دېرې ستونزې د ژبې د غلطيو او ورو ورو بدګمانيو نه راولاړې شوې دي. هېڅ کله هم ټکي توري (لفظونه) په ظاهري معنو کښې مهٔ اخله. د مينې په جهان کښې ژبه بې معنې او بې کاره پاتې شي. کومه خبره

چې په لفظونو کښې نه وئیلې کېږي، په هغې پوهېدل خاموشي غواړي.

۶. یواځې والے (تنهائي) او خلوت دوه جلا جلا څیزونه دي. کله چې ته یواځې یې نو ډېر په اسانه ځان غولولے شې چې ګنې ته په سمه لار یې. مونږ له خلوت ښه دے. په خلوت کښې یواځېوالے نه احساسېږي. ښه دا ده چې ته داسې څوک پیدا کړې چې ستا هینداره وي. دا خبره یاده لره چې ته په رښتیا خپل ځان او خدائے د بل چا په زړه کښې لیدے شې.

۷. تا سره چې په ژوند کښې هر څه کېږي او دا که ستا لپاره هر څومره دردوونکے وي خو هېڅ کله هم د مایوسۍ ګاونډ ته مه ورننوځه. که چرې ټولې دروازې وتړلې شي نو خدائے به بیا هم تا له یوه دروازه پرانیزي. شکر وباسه! یو صوفي یواځې په هر هغه څه شکر نه وباسي چې وربخښلے شوے وي بلکې په هغه څه هم شکر ګزار وي له کومو چې بې برخې ساتلے شوے وي.

۸. د صبر معنا په کوزو سترګو زغمل نه دي، سلامې کېدل نه دي. د دې معنا دا ده چې د یو عمل اخري نتیجې ته پام وشي. د دې معنا دا ده چې ته ازغي ته ګورې او ګل وینې، شپې ته وګورې او د سحر تماشه وکړې. بې صبرې دا ده چې ستا نظر تر دومره لګي چې د یو عمل انجام درته په نظر نه راځي. د خدائے مئینان کله هم نه بې صبره کېږي ځکه چې هغوي خبر دي چې د سپوږمۍ په پوره کېدو کښې وخت لګي.

۹. مشرق، مغرب، جنوب، شمال ډېر لږ فرق لري. ستا منزل چې هر څه دے خو دا خبره یقیني کړه چې بایډ ستا هر مزل ستا دننه هم یو مزل وي. که چرې ته په خپل ذات دننه مزل کولے شې نو ته به د ټول

جهان او د جهان نه بهر هم مزل وکړے شي.

۱۰. خدمتګارې ته معلومه وي چې کۀ چرې درد نۀ وي نو د نوي زېږېدونکي ماشوم لپاره لاره نۀ شي پرانستلے کېدې او ښځه مور نۀ شي جوړېدې. هم دغه شان د يو نوي ځان د زېږېدو لپاره سختۍ او زړۀ چاودون مهم دي. څنګه چې ختته د اور د لمبو نه تېره شي نو مضبوطه شي، هم دغه شان د مينې تکميل هم پۀ درد کښې کېږي.

۱۱. د مينې لتون پۀ مونږ کښې بدلون راولي. پۀ عاشقانو کښې داسې څوک نشته چې د خپل لتون پۀ لاره کښې هوښيار شوے نۀ وي. هم هاغه شېبه ستا دننه او بهر بدل شي کله چې تۀ د مينې پۀ لاره وړومبے کام واخلې.

۱۲. پۀ دنيا کښې کۀ جعلي لارښودان او استاذان د اسمان د ستورو نه هم ډېر دي، هاغه خلق ستا لارښودان نۀ شي کېدے چې پۀ ځان کښې ورک وي او واک غواړي. يو سپېڅلے روحاني مشر ستا نه بې تپوسه تابعداري نۀ غواړي او نۀ دا وائي چې تۀ خپله پوره توجه هم هغۀ ته درواړوه. رېښتينے لارښود ستا سره مرسته کوي چې تۀ خپل ځان وپېژنې او د ځان ستائينه وکړې. رېښتينے لارښود د شفافې شيشې پۀ څېر وي چې خدائي رڼا ترې تېرېږي.

۱۳. ستا پۀ لاره کښې چې کوم بدلونونه راځي نو د هغې د مخې نيولو هڅه مۀ کوه. پرېږده چې ژوند ستا پۀ وسيله مخې ته لاړ شي. دا فکر مۀ کوه چې ستا ژوند به ګډ وډ شي. تا ته څۀ معلومه ده چې څۀ تۀ ښۀ کښې هغۀ پۀ راتلونکي وخت کښې ستا پۀ لاس د راتلونکو څيزونو نه ښۀ وي؟

۱۴. خدائے ستا د وجود دننه او بهر دواړو د تکميل پۀ کار کښې بوخت

دے. هغه هر وخت هم ستا غم خوار دے. هر یو انسان رو رو د خپل تکمیل په لور مزل کوي. مونږ ټول د فن نیمګړې نمونې یو. د خپل تکمیل په انتظار کښې یو او هم د دغې لپاره ژوندي پاتې یو.

۱۵. خدائے مکمل دے، پوره دے، پاک دے او تل پاتې دے. د خدائے سره مینه اسانه ده. ګرانه خبره دا ده چې د انسان سره، سره د هغه د کمزورو او نیمګړتیاو مینه وشي. دا خبره یاده لره چې انسان د هر هغه څه سره مینه کوي چې د مینې څه قابلیت لري. بې له مینې پوهه او هوښیارتیا نشته. تر څو چې مونږ د خدائے د مخلوق سره مینه نه وي کړې، تر هغې مونږ نه د خدائے سره مینه کولې شو او نه ئې په رښتیا پېژندلے شو.

۱۶. اصلي ګند هغه دے کوم چې دننه دے. د دغه ګند نه بغېر نور هر څه وینځل کېدے شي. یو ګند داسې دے چې اوبه ئې هم نه شي پاکولے او دغه ګند د نفرت او تنګ نظرۍ ګند دے. نفرت او تعصب د ځان سره روح هم خیرن خچن کړي. که چرې ته پرهېز وکړې نو خپل وجود پاک ساتلے شې خو د زړه پاکوالي له مینه پکار ده.

۱۷. دا ټول کائنات په یو انسان کښې راټول دے او هغه انسان ته ئې. ته چې کېر چاپېره هر څه وینې، هر هاغه څه چې ستا خوښ دي، هر هاغه څه چې ته ترې نفرت کوې، تر دې چې هر هاغه څوک چې ستا نه خوښېږي ـ دا هر څه په څه نه څه درجه کښې ستا دننه دي. له دې کبله په شېطان پسې د ځان نه بهر مه ګرځه. شېطان څه غېر معمولي قوت نه دے چې په تا له بهره برید کوي. دا د معمول یو قوت دے چې په تا کښې دننه دے. دا د دننه څخه د معمول یو اواز دے.

۱۸. کهٔ چرې تهٔ غوارې چې هر هاغه څهٔ بدل کړې چې د خلقو لهٔ خوا ستا سره کېږي نو وړومبے ځان بدل کړه. تهٔ چې د ځان سره څنګه سلوک کوې، هم هاغه رنګ سلوک به درسره د خلقو لهٔ خوا کېږي. ترکومه چې دې د ځان سره پهٔ ايمانداری مينه نهٔ وي کړې، بل څوک ئې درسره هم نهٔ شي کولې. تهٔ چې دغه ځاے ته ځان رسوې نو کېدے شي پهٔ لاره کښې پهٔ ازغو هم څوږ شې. بيا هم شکر وباسه، ځکه چې دا د دې خبرې نخښه ده چې پهٔ تا به د ګلونو باران کېږي.

۱۹. دا غم مهٔ کوه چې دا لار به تا کوم ځاے ته ورسوي؟ د دغې پهٔ ځاے پهٔ خپل وړومبي کام توجه ورکړه. دا تر ټولو ستونزمن کار دے او د دغې ټوله ذمه واري پهٔ تا ده. کله چې تهٔ وړومبے کام واخلې نو بيا پرېږده چې ټول هر څهٔ پهٔ خپله فطري لاره مخکښې لاړ شي. د چپې سره مهٔ ځه، پهٔ خپله يوه چپه شه.

۲۰. مونږ ټول خداے پهٔ خپل شکل کښې جوړ کړي يو. بيا هم مونږ ټول د يو بل نه جدا او ځانګړي يو. دوه کسان يو شان نهٔ شي کېدے. هر يو زړهٔ پهٔ خپل "ردهم" (انداز) کښې درزېږي. کهٔ چرې خداے غوښتلے چې ټول خلق دې يو شان وي نو هغهٔ به هم دغه شان کړي وو. پهٔ دې وجه د رنګارنګۍ او ځانګړتوب سپکاوے کول او پهٔ خلقو خپله رائې پهٔ زور منل د خداے د مقدس نظام سپکاوے دے.

۲۱. کله چې د خداے رېښتينے مئين مېخانې ته لاړ شي نو مېخانه د هغهٔ د عبادت ځاے شي خو د شرابي لپاره هم هغه ځاے شراب خانه وي. مونږ چې هر څهٔ کوو، نو دا زمونږ ظاهري جوسه نهٔ بلکه زړهٔ وي چې د يو څيز معناً د بل نه بدله کړي. صوفيان پهٔ دې د خلقو جاج نهٔ اخلي

چې هغه په ظاهره څنګه ښکاري. کله چې يو صوفي چا ته کوري نو خپلې دواړه سترګې پټې کړي او د دغې په ځائے يوه دريمه سترګه پرانيزي، کومه چې د دهٔ دننه جهانونه ليدلے شي.

۲۲. ژوند يو عارضي پور دے، قرض دے. دا دنيا د حقيقت د يو کمزوري نقل نه بغير نور هيڅ هم نهٔ دهٔ. د لوبو په کوډاکو خو ماشومان غلطيږي شي خو عام انسانان هم د لوبو په څيز يا دهوکه وخوري او ياني په ډېر سپکاوي ټوټې ټوټې کړي او يو اړخ ته ئې وغورځوي. په دې ژوند کښې د هر رنګ سخت دريزي نه ځان وساته، ځکه چې دا به ستا دننه موجود توازن خراب کړي.

۲۳. انسان ته د خدائے په تخليق کښې يو ډېر ځانګړے مقام حاصل دے. مونږ ټول ئې لهٔ څهٔ تفريقه د خدائے نائبين يو. ياد ساته چې زمونږ د ټولو ذمه واري دا ده چې په ځان دننه موجود د خدائي روح لټون وکړو، پيدا ئې کړو او بيا ټول ژوند هم د دغې په احترام کښې تېر کړو.

۲۴. دوزخ اوس او هم دلته موجود دے. د جنت خوبونه او د دوزخ غمونه پرې پروت دهٔ، ځکه چې دا دواړه هم دا شپبه زمونږ دننه دي. هر کله چې مونږ مينه کوو، مونږ جنت ته ورخېژو ـــ هر کله چې مونږ نفرت کوو يا جګړې کوو نو هم هغه وخت مونږ د دوزخ لمبو ته پرېوځو.

۲۵. هر لوستونکے په قرآن پاک د خپل فهم او پوهې مطابق پوهيږي. د پوهې څلور درجې دي ـــ ورومبۍ ظاهري معنا چې اکثريت خلقو ورباندې ځان قانع کړے دے. دوېم باطن، دريم په باطن کښې باطن او څلورمه معنا ئې دومره ژوره ده چې په لفظونو کښې ئې اظهار نهٔ

کېږي او د بيان نه بهر ده.

۲۶. ټول کائنات يو وجود دے. هر څوک او هر يو څيز د يو بل سره د داسې قيصو د جال په وسيله تړلے دے چې په نظر نۀ راځي. کۀ مونږ ترې خبر يو او کۀ نۀ، خو مونږ ټول د يو بل سره د خاموشۍ په ژبه خبرې کوو. څوک مۀ زخمي کوه! د شفقت نه کار واخله او په چا پسې پشې شا توقې مۀ کوه ــــ عن چې د يوې معصومې تبصرې نه هم ډډه وکړه. کوم ټکي توري (لفظونه) چې زمونږ د خولو نه ووځي نو هغه چرته ځي نۀ، بلکې په يو لامتناهي ځائے کښې خوندي کېږي او په خپل وخت به مونږ ته بيا راستنېږي. د يو انسان درد مونږ ټول دردمن کولے شي، د يو سړي خوشحالي شايد د ټولو په مخونو موسکا خوره کړي.

۲۷. تۀ کۀ ښۀ وا ئې او کۀ بد، په څۀ نه څۀ لاره به بېرته بيا تا ته راستانۀ شي. لۀ دې کبله کۀ څوک ستا په اړه بد خيالات لري او تۀ هم داسې وکړې نو معامله به لا خرابه شي. تۀ به د يوې بدې انرجۍ په نۀ ختمېدونکي ګردش کښې ګېر شې. د دغې په ځائے د هغه بنده په اړه تر ټولو ښېنتو ورځو ښۀ سوچ کوه او ښۀ وايه. په ټولو ښېنتمه ورځ به هر څۀ بدل شوي وي، ځکه چې په تا کښې دننه به هم بدلون راغلے وي.

۲۸. ماضي يوه تشريح ده، مستقبل يو سراب دے، دنيا د وخت په لاره د يوې نيغې کرښې په شان د ماضي نه تر مستقبل تېرېږي. وخت زمونږ په وسيله په مونږ کښې دننه د نۀ ختمېدونکو دائرو په شکل کښې مزل کوي. د ابد معنا نۀ ختمېدونکے وخت نۀ دے، د وخت "نۀ شتون" (Timelessness) دے. کۀ چرې تۀ ابدي رڼا ليدل غواړې نو ماضي او مستقبل لۀ خپله سره وباسه او په موجوده شېبه کښې ژوند کوه.

۲۹. تقدير دا نهٔ دے چې کنې ستا د ژوند غوټه پرېکړه له وړاندې شوې ده. لهٔ دې کبله هر څهٔ قسمت ته پرېښودل او د کائناتو موسيقۍ ته پهٔ فعاله توګه لهٔ خپله ځانه څهٔ نهٔ پېرزو کول د ډېر لوے جهالت نخښه ده. د کائناتو موسيقي هر لور ته خوره ده او د ځلوېښتو مرحلو نه جوړه ده. ستا تقدير هغه مرحله ده چرته چې تهٔ خپله برخه ساز غږوې. کېدے شي تهٔ د موسيقۍ خپله آله نهٔ شې بدلولے خو تهٔ د دغه آلې نه څومره ښه موسيقي راپيدا کوې، دا هر څهٔ ستا پهٔ خپلو لاسونو کښې دي.

۳۰. رېښتينے صوفي داسې وي چې کهٔ څوک پرې تور پورې کړي، بريد پرې وکړي او يا ئې لهٔ هرې خوا غندنه وشي، بيا هم د خپلو ناقدينو پهٔ اړه لهٔ خولې بده خبره نهٔ وباسي. صوفي الزامونه نهٔ لګوي. کهٔ چرې د بنده خپل ځان نهٔ وي نو ناقدين او مخالفين به لهٔ کومه راځي؟

۳۱. کهٔ چرې تهٔ غواړې چې خپله عقيده پياوړې کړې نو بايد تهٔ خپل باطن نرم کړې. ځکه چې کهٔ تهٔ خپله عقيده لکه د کاڼي مضبوطه ليدل غواړې نو ورومبے بايد خپل زړهٔ لکه د بڼکې پهٔ شان نرم او پوست کړې. پهٔ ژوند کښې مونږ ټول پهٔ يوه يا بله لاره د رنځونو، حادثو، تاوان او وېرې ښکار کېږو او د دې مرام دا وي چې مونږ نور هم اخلاص وکړو، نور هم د سخاوت څرګندونه وکړو او نوره مينه وکړو. پهٔ مونږ کښې ځينې خلق دا سبق زده کړي او نرم شي خو نور داسې هم وي چې لهٔ وړاندې نور هم سخت شي.

۳۲. ستا او د خدائے ترمينځ بايد څوک هم ونهٔ درېږي. نهٔ اِمامان، نهٔ د کليسا يا کومې بلې عبادت خانې مُليان او نهٔ کوم اخلاقي يا مذهبي مشر،

نهٔ وکیلان، نهٔ روحاني مشران او نهٔ ستا خپله عقیده. پهٔ خپلو قدرونو او خپلو قوانینو باور لره خو پهٔ بل چا ئې مهٔ ورتپه. کهٔ چرې تهٔ پهٔ هره عقیده ایمان لرې خو د خلقو زړونه ماتوې نو پهٔ دې کښې هیڅ ښهٔ نشته. د هر رقم بت پرستۍ نه ځان لرې وساته، ځکه چې دا به ستا تصور خړ کړي. یواځې خدائے د خپل لارښود پهٔ توګه ومنه. رښتیا زده کړه خو زما ملګریه الهٔ خپلو رښتیاو تعویذونه او بتان مهٔ جوړوه.

۳۳. پهٔ دې دنیا کښې هر څوک د څهٔ جوړېدو پهٔ هڅه کښې دے خو دا هر څهٔ لهٔ مرګه وروستو هم دغه شان پاتې شي. باید ستا مرام د نیشت اعلیٰ درجې ته رسېدل وي. ژوند دا نهٔ دے چې د څهٔ د ترلاسه کولو چې تهٔ ارمان لرې، ژوند د نیشت شعور دے چې مونږ پهٔ خپله لار کړندي او سم ساتي.

۳۴. د اطاعت معنا کمزوري یا بزدلي نهٔ ده. اطاعت ماتې خوړلو یا سر ټیټولو ته لاره نهٔ هواروي. د اطاعت ربښتینے طاقت هغه دے کوم چې د باطن څخه راوځي. څوک چې د خدائي جوهر اطاعت کوي نو پهٔ داسې حال کښې به هم د سکون او قرار نه ډک ژوند تېر کړي کله چې ټوله نړۍ د یو مصیبت نه واخله د بل مصیبت پهٔ لور روانه وي.

۳۵. پهٔ دې دنیا کښې مونږ یو شان والے نهٔ بلکې تضادات مخ پهٔ وړاندې بو ځي. د کائنات ټول تضادات پهٔ مونږ ټولو کښې دننه موجود دي. لهٔ دې کبله باید پهٔ مونږ دننه عقیده لرونکي د نهٔ عقیده لرونکي سره پهٔ تماس کښې شي او څوک چې عقیده نهٔ لري، هغه باید د هغه خاموشه عقیده لرونکي درک ومومي، کوم چې د هغهٔ دننه دے.

۳۶. دا دنیا د بدل پهٔ اصول ولاړه ده. نهٔ د مینې یو څاڅکے او نهٔ د بدۍ یو

داغ پې بدله پاتې کېږي. کۀ څرې څوک چاته چل جوړوي نو ياد لره چې خداے ورسره هم دغه معامله کوي. هغه تر ټولو لوے منصوبه جوړوونکے دے. د خداے د علم نه بهر يوه پاڼه هم رپ نۀ شي وهلے. د زړۀ دلنه پۀ دغه خبره عقيده لره چې خداے څۀ هم کوي، ډېر ښائسته ئې کوي.

۲۷. خداے پاک يو ډېر زيرک ګهړي ساز دے. هغۀ نظام دومره ښۀ جوړ دے چې پۀ زمکه هر کار پۀ خپل مقرره وخت کېږي. نۀ يوه دقيقه مخکښې او نۀ يوه دقيقه وروستو— او دا نظام ېې لۀ تفريقه د ټولو لپاره يو شان کار کوي. د هر چا لپاره د مينې خپل وخت دے او د مرګ هم خپل وخت دے.

۲۸. دا خبره هېڅ کله هم بې وخته نۀ ده چې ته لۀ ځانه دا پوښتنه وکړې چې زۀ کوم ژوند تېروم. آيا زۀ د دې بدلولو ته چمتو يم؟ آيا، زۀ د خپل باطن بدلون ته اماده يم؟ کۀ څرې ستا پۀ ژوند کښې يوه ورځ هم د تېرې شوې ورځې نه ښه نۀ وي نو د ترس خبره ده. د هرې نوې شېبې او هر ځل د ساه اخستو سره بايد يو څوک پۀ بيا بيا نوے شي او پۀ يو نوي ژوند کښې د بيا رازېږېدو لپاره يوه لاره ده او هغه ده لۀ مرګه وړاندې مرۀ کېدل!

۲۹. اګرچې د يو څيز بهلا بهلې برخې بدلې شي خو "کُل" تل تر تله يو شان پاتې کېږي، ځکه چې لۀ دې دنيا نه يو غل لاړ شي نو بل پېدا شي او هر ښۀ انسان چې کوچ وکړي نو د هغۀ ځاے بل ښۀ انسان ونيسي. دغه شان يو شے هم هغه شان نۀ پاتې کېږي، خو پۀ رښتيا معنا کښې يو شے بدلېږي هم نۀ.

۴۰. بې له مينې ژوند په هېڅ حساب کښې نهٔ شمېر لے کېږي. په دې خبره ځان مهٔ زوروه چې تهٔ د کومې مينې په لټون کښې يې؟ روحاني، مادي، خدائي، دنياوي، مشرقي يا مغربي؟ تقسيم نور تقسيم ته لار هواروي. د مينې تعريفونه او وضاحتونه نهٔ وي. دا چې څهٔ ده هم هغه ده. ساده او سپېڅلې مينه د ژوند اوبهٔ دي او عاشق د اور روح دے. د کائناتو انداز هاغه وخت بدل شي کله چې اور د اوبو سره مينه وکړي.

and tolerance, where the skilled residents carved out images of the ever –smiling Buddha. Born in the lap of nature and nursed by the nature, Pashtuns lived a simple, hard but comfortable. He was trained only to sing and smile, only to sow the seeds of love to reap peace. He spoke one language and walked one path.

Shaheen Buneri like many others raises numerous questions which he believes have no answers. He walks in dreams to grapple with the harsh realities of Pashtuns but when he wakes up he finds himself sleeping a deep slumber to which Hamza Baba has referred to in one of his couplets. Baba says, I thought my cries would wake my people from their sleep but it dawned upon me that I, myself was sleeping a deep slumber.

He begins his story with Swat and takes readers to remote times and captions every important occasion and event with a beautiful a tapa –three imbalanced liner poetic genres –reflective of our glorious past encompassing everything related to Pashtuns. Everybody knows that a narrative always is based on culture of the people. The strange thing is that Pashtuns disown their indigenous culture and own the borrowed narrative. Shaheen Buneri bemoans this very tragedy of Pashtuns.

The booklet of Shaheen Buneri is a must read for its fluent and interesting style of narration in Pashto.

By **Sher Alam Shinwari**

A Voice in the Wilderness...

At a first glance, the booklet seems to be a medley of random thoughts but it is a well-connected story from the pen and brain of a young man .There are people who while finding no solution to the problems they are facing with, soon they begin narrating narrate it to others in order to mitigate their sense of being helpless.

But the problems never end, rather they get multiplied. However, a powerful narrative technique gives a new twist to it. True to the great Pashtun poet Khushal Khan Khattak's words- [Born on the day of chaos / I am frequented by an endless unrest], the land of Pashtuns has been the battlefield down the ages.

The ultimate sufferers are the Pashtuns; the beneficiaries are always the faceless monsters. The culture of Pashtun is peace, tolerance and love but still his narrative is being projected to advocate violence and extremism – means 'culture' is indigenous but ' narrative' is borrowed. This unusual phenomenon puts Pashtuns in jeopardy and in a deep identity crisis.

Shaheen Buneri a young restless soul, a poet and journalist is experiencing the same dilemma through which collective consciousness of Pashtuns passing through. He appreciates the unravel beauty of Swat, Malakand, Buneri, Kohistan and Dir valleys. He explores past history and glory of Gandhara civilizations and judges the role of Pashtuns in this region.

Nostalgia takes him deep down in the annals of history where fairies reigned over the highlands, rivers, lakes and plains of Pashtuns for centuries. He envisions the land of Pashtuns as the abode of permanent peace, love